القراءة الكاشفة

د پښتو شرح

القراءة الراشدة

ليکونکی
ابوالحسن على الحسنى الندويؒ

پښتو ترجمه
مولانا رفيع الله رفيقي



مکتبۃ الاصلاح
0333-9202338
محلہ جنگی پشاور

القراءةُ الكاشِفَه

پښتو شرح

القراءة الراشدة

ليکونکی
ابوالحسن علی الحسنی الندویؒ

پښتو ترجمه
مولانا رفيع الله رفيقي

ناشر
مکتبة الاصلاح محله جنگی پېښور

د کتاب نوم: القراءة الكاشفه پښتو شرح د القراءة الراشده

ليکونکی: ابوالحسن علی الحسنی الندويؒ

پښتو ترجمه: مولانا رفيع الله رفيقي

کمپوزنګ: حبيب الرحمن (صافی)

ناشر: **مكتبة الاصلاح** محله جنګی پېښور

﴿استدعا﴾

د ټولو مسلمانانو رونړو او خوينډو په خدمت کښې عرض دې چې مونږه دا کتاب په پښتو ژبه کښې د عامو مسلمانانو او عالمانو او طالبانو د فائدې د پاره د چهاپ کولو سعادت حاصل کړو او مسلمانانو ته دِ الله تعالىٰ د دې نه فائده ورکړي . مونږ د دې په کتابت او چهاپ کولو کښې د خپل وس او طاقت مطابق پوره پوره کوشش کړې دې چې کتاب دِ د هر قسم غلطو نه پاك وي . خو انسان عاجز دې نو که د چا په نظر کښې چرته څه غلطي راشي نو د الله تعالىٰ د رضا د پاره دِ مونږ د هغې نه خبر کړي چې مونږ هغه صحيح کړو او بيا د پاره هغه غلطي په کتاب کښې رانشي . الله تعالىٰ دِ ټولو رونړو او خوينډو ته د خپل در نه اجر او بدلهٔ ورکړي .

فهرست

﴿ پیش لفظ ﴾

بسم الله الرحمن الرحيم

ټول صفات الله تعالیٰ لره دي چې د انسانانو پیدا کوونکې ، حاجت پوره کوونکې علم او علماؤ ته عزت ورکوونکې او د علم د خپرولو توفیق ورکوونکی دې او درود وسلام دې وي په هغه ذات چې الله د رحمة اللعالمین او د لوړ اخلاقو لرونکي په نومونو ئې نومولې دې. او د هغه په ټولو ملګرو دې سلام وي چې په دې نړۍ کښې ئې ورته د خپلې خوښې تمغه (هلال) ورکړي او اعلان ئې کړې چې رضی الله عنهم ورضوا عنه . ما دَ خپل ګران مولوی محمد یامین حفظه الله چې د جامعه دارالعلوم حسینیه شهداد پور استاذ دې د قراء ة الراشده لیکنی د شرح څو پاڼې اوکتې چې په دې لیکنې کښې یو څو خبرې مخې ته راغلې. د الفاظو با محاوره ترجمه ، لغوي او صرفی تحقیق مفرد وجمع چې د عربي ادب د لمړني طلباؤ لپاره د یو بنسټ حیثیت لري او له دې نه زیات دا چې د نوي لغات په عنوان سره هره ورځ استعمالیدونکي د اردو الفاظو ترجمه ئې په عربي لغت سره کړي چې نورې شرحې دا خاصیت نه لري او د نوي عصر د نوي غوښتنو سره سم وي . او انشاء الله د طلباؤ لپاره به ډیر ګټور وي . او استاذانو لپاره به هم ډیر کمک کونکي واوسي پس په دې کتاب کښې لیکل شوي تحقیق ته په کتو سره دا بنده او لیکونکي دواړه د الله تعالیٰ او خلکو په وړاندې د قبلېدو دعا کوي .

مولانا محمد اسلم جمال عفی الله عنه

خادم التدریس شعبۀ کتب

جامعه دارالعلوم الحسینیه شهداد پور

۲۹ جمادی الاول ۱۴۳۱ھ .

﴿ د لیکونکي وینا ﴾

ټول تعریفونه او ښه والي هغه ذات لره دي چې د نړۍ دا کارخانه ئې په خپل کُن امر سره جوړه کړه او دا نړۍ ئې په مختلف ګلونو رنګینه کړه او انسان ته ئې په خپل رحمت سره عزت وبخښو او بې شمېره رحمتونه دې په هغه پاك ذات نازل شي چې دا د نړۍ د هغې د لوړاوي صدقه ده ، او د هغې په عزت مند کورنۍ او د هغې په ملګرو باندې چې د صحابؤو په نوم یادیږي .

د الله تعالیٰ د بې شمېره نعمتونو نه په انسان باندې یو نعمت دا هم دې چې د دنیا قوت ئې ورکړې او د نور مخلوق نه ئې جوړ کړې او وینا ئې د انسان جز ګرځولي او انسانان ئې په مختلفو ژبو پیدا کړي او بیا ئې عربي ژبه په نورو ژبو لوړه کړي او بیا ئې د قریشو لغت ته لوړوالي ورکړو او د قریشو په لغت کښې ئې قرآن نازل کړو ځکه چې همدا د ټولو عربو شریك او یووالي لغت وؤ.

اوس الله تعالیٰ د قرآن وحدیث سره سره د ژبي ساتنه هم کړي ده چې د علم لرونکو ضرورت دې ، او د عربۍ ژبي سره بلدتیا ډیر تکیه د ادب د فن سره تعلق لري . د ادب په علم کښې ډیري پلټنې شوي او علم لرونکي په خپل زیار او خوله ویستلو سره په دې علم رڼا اچولي ده .

د همدې تسلسل یوه کړۍ القراء ة الراشدة دې چې د ابوالحسن علی الحسنی الندوی رحمة الله علیه لیکنه ده او له ډیر وخت څخه د عربي مدرسو په نصاب کښې شامله ده چې د دې د خدمت لپاره الله تعالیٰ دې بنده ته قوت او همت ورکړو چې دا د خبر کار تر سره کړي په اصل کښې دا د خپل استاذانو او ملګرو په چوپړتیا کښې د سبق بیا ګردان دې تر څو د

هغوي په دعاګانو کښې مې برخه اوشي چې د دواړو نړيو د سلامتۍ او همېشنۍ خلاصون سبب شي .

د قراء ة الراشده په دې پښتوشرح کښې د يو څو خبرو خيال ساتل شوې دا چې ترجمه ډېر آسانه شوي چې لمړني شاګردان پرې په آسانۍ سره پوهه شي او بيا د لغاتو او سختو الفاظ پلټنې هم شوې او ټولې صيغې مکمل حل کړے شوي او مستند کتابونو ته مخ اړول شوې نن صبا استعماليدونکي الفاظ او ژبه نيمائي انګريزي وي د نوي لغاتو په عنوان سره دا کار د هريو سبق په مناسبت ليکل شوې . او فائدې او توضيحات ورسره ورسره بيان شوي چې د لمړني زده کوونکي ضرورت دې.

په دې ټولو کارونو کښې د محترمو استاذانو لار ښودلو سره وړ په خاصه توګه د ګران استاذ مولانا محمد اسلم جمال صاحب ډېر شفقت او اصلاحات اوکړل . الله تعالىٰ دې خير ورکړي .

او نور ټول استاذان او ملګري چې په هر ډول ئې خدمت او کومک راسره کړے الله تعالىٰ دې په دواړه جهانو کامیابه کړي . زه ټولو لوستونکو ، څېړونکو ، دعا کوونکو او زيار ايستونکو لپاره دعا غوښتونکے يم.

بنده محمد يامين راجي رحمة مولاه

جامعه دارالعلوم الحسينيه شهداد پور

د جمعرات په ورځ ۲۹ د جمادى الاولىٰ ۱۴۳۱ھ

بمطابق ۱۳/۵/۲۰۱۰ء

﴿ د درس کولو طريقه ﴾

نحمده ونصلي على رسوله الكريم !

ټول حمدونه او صفتونه الله تبارك وتعالیٰ لره مناسب دي . او بې شمېره حمد وصلوٰة دې وي په هغه عزت مند ذات باندې چې هغه د احمد مصطفیٰ ﷺ او محمد مصطفیٰ ﷺ په نوم باندے یادیږي . او د هغوي ﷺ په ټول آل او ځان قربانوونکي ملګرو باندې چې هغه : صحابه کرامؓ په برکتي نوم سره یادیږي .

الحمدلله! دا حاضر کتاب د القرأة الراشده پښتو شرح ده . بنده دا کتاب د مولانا نور محمد انيس صاحب مدظله العالی نه لوستلے دے. او الحمدلله ډیره فائده راته شوې ده او بیا د الله تعالیٰ په فضل د دې کتاب بل ته وئیلو توفيق ملاؤ شو. او د درس په دورانيه کښې، چې کوم اهم مسئلې مخې له راغلي نو په هغې کښې مې د چاپ کولو سره د اضافي سوچ اوکړو . نو د الله تعالیٰ په فضل سره دا کار تر سره شو. او د دې سره استاذ محترم فائده مندو مشورو سره ماته لارښودنه اوکړه . يوه مشوره ئې دا هم راکړه چې د دې کتاب طريقۂ تدريس هم ذکر کړې . لهذا د دې کتاب طريقۂ تدريس کښې مرکزي خبره دا ده چې د درس په دوران کښې د دې خبرې لحاظ ساتل ضروري دي چې طالبان عربي ژبې تقرير او تحرير زده کړي. کتاب کښې ذکر شوي مضمونونو عبارت صرف په دې اندازه اووئیلے شي او تکرار ئې اوکړے شي د پاره د دے چې په ژبه عربي الفاظ جاري شي او بيا دې ترجمه اوکړے شي . ترجمه کښې دې په دې خبره زور اوشي چې کوم ځاې کلام پوره کيږي تر هغه ځاې پورې عربي عبارت اولوستلے شي او ترجمه دے اوکړے شي . او د دې نه پس دې بغير د عبارت نه ترجمه اوکړي او بيا دې صيغې بدلې کړې شي مثلًا کتاب کښې د متکلم صيغې دي نو هغه په حاضر او غائب صيغو باندې بدلې کړئ . هم دارنګې د مفرد صيغې هم دي

نو هغه د تثنيه او جمع په صيغو باندي بدلي کړئ . صيغو د تولولو سره سره د فعل متعلقات ذکر کول ضروري دي . همدغه شان دا تول کار په يو پيراګراف کښې دا هم اوکړئ چې کله يو سبق داسې مکمل کړئ . بيا د دې نه پس هره ورځ په سبقونو کښې چې د کوم څيز متعلق سبق اوئيلے شي. طلباء دې هغه بيان کړي او په دې کښې دې خپل معمولات ذکر کړي . او نن صبا استعماليدونکي نوي الفاظ او د لغات اجراء دې هم اوکړي . په داسې طريقه باندې د سبق مشق کولو نه بعد دې د دې مضمون متعلق استاذ يو مقاله په دوي (طالبانو) اوليکي . بيا دې په ليك باندې په طالبانو د دي عربي ترجمه اوکړي. همدغه شان دوه دوه طالبان دې خپل مخې ته اودروي او په هغوي دې مکالمه اوکړي د پاره د دې چې په عربي باندې خبري کولو کښې قوت پيدا کړي . او په عربي تقرير او ليك باندې په آسانتيا سره مهارت حاصل شي. باقي د صيغو پيژندګلو دې په حرفي اعتبار او نحوي مسائلو اجراء هم د ادب د کتابونو يو حصه ده نو د ضرورت په اندازه دې ، دې خبري لحاظ هم اوساتلې شي . په دې طريقه باندې عمل کولو سره به انشاء الله د طالبانو تقرير او ليك مضبوط او قوي شي او د خپل زړه خبره بيانولو کښې به ورته اساني وي په آخر کښې بنده د کتونکو او لوستونکو نه درخواست کوي چې بنده د خپل ليك (تاليف) صفت نکوي بلکه د خپلو طالبانو ملګرو او اساتذه کرامو په وړاندې خپل تير شوے سبق تکراروي. که څه قسمه غلطي هم په نظر راغله نو خامخا مونږ خبر کړئ. غور او سوچ کولو نه پس به بنده ته د سوچ کولو ضرورت نه وي. فقط والسلام

محمد يامين

جامعه دارالعلوم الحسينيه شهداد پور

۱۹ جولائی ۲۰۱۰ . د پیر ورځ

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ كَيفَ اَقضى يَومى ﴾

اَنَامُ مُبَكِّرًا فِي اللَّيْلِ وَاَقُوْمُ مُبَكِّرًا فِي الصَّبَاحِ، اَسْتَيْقِظُ عَلَى اسْمِ اللّٰهِ وَذِكْرِهٖ ، اَسْتَعِدُّ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ اَذْهَبُ مَعَ وَالِدِيْ اِلَى الْمَسْجِدِ، وَالْمَسْجِدُ قَرِيْبٌ مِّنْ بَيْتِي، فَاَتَوَضَّأُ وَاُصَلِّيْ مَعَ الْجَمَاعَةِ، وَاَرْجِعُ اِلَى الْبَيْتِ وَاَتْلُوْ شَيْئاً مِّنَ الْقُرْآنِ الْكَرِيْمِ، ثُمَّ اَخْرُجُ اِلَى الْبُسْتَانِ وَاَجْرِيْ، ثُمَّ اَرْجِعُ اِلَى الْبَيْتِ فَاَشْرَبُ اللَّبَنَ وَاَسْتَعِدُّ لِلذَّهَابِ اِلَى الْمَدْرَسَةِ، وَاُفْطِرُ اِذَا كَانَتْ اَيَّامُ الصَّيْفِ، وَاَتَغَدّٰى اِذَا كَانَتْ اَيَّامُ الشِّتَاءِ، وَاَصِلُ اِلَى الْمَدْرَسَةِ فِي الْمِيْعَادِ۔

﴿زه خپله ورځ څنګه تېرووم﴾

ترجمه: زۀ د شپې زر ویده کېږم او سهار وختي پاځم ، د الله په نوم او د هغې په ذکر سره پاځېږم ، د لمانځه تیارے کووم او بیا پلار سره جومات ته ځم، او جومات زما کور سره نزدے دے ، له دې نه وروسته اودس کوم او په جمع لمونځ کووم بیا کورته راځم او د قرآن شریف لږ څه حصه تلاوت کووم بیا باغ ته اوځم او منډې وهم . بیا کورته راځم او شېدې (پے) وڅښم او مدرسې ته د تګ تیارے کووم او کله چې د دوبي(اوړي) موسم وي نو سهارنې کووم او په ژمي کښې ډوډۍ خورم او په خپل وخت مدرسې ته ځم.

﴿د الفاظو پلټنه﴾

اَقْضِيْ: صيغه واحد متكلم فعل د مضارع د باب ”ض“ تېرول.

اَنَامُ: صيغه واحد متكلم فعل د مضارع د باب ”س“ اوده كېدل.

مُبَكِّرًا: صيغه د واحد مذكراسم فاعل د باب تفعيل(تندي كول،بېړه كول)

اَللَّيْلُ: په معنىٰ د شپې، ج ليالى. ليال. ليلي شپه الليلة ج لَيَائل

اَلصَّبَاحُ: په معنیٰ د اولنۍ برخه د ورځې ، سهار ج اصباح.

لِلصَّلَاةِ: دعا،تسبيح، يو ځانګړي اسلامي لمانځنه چې په ټاکلي وخت د ځانګړو شرطونو سره تر سره کيږي . ج صلوات .

اَلْبُسْتَانُ: هغه باغ چې ونې يو څه فاصله ولري او د کښت جوګه وي ګڼې حديقه به ورته وئيلے شي . ج . بساتين.

اَلْبَنُ: شيدې ، شودې . ج البان.

اَلصَّيْفُ: دوبي موسم (اوړي مقسم) ج اصياف

الشِّتَاءُ: د ژمي موسم ج اشتيه

الميعاد: د وعدې وخت. ټاکلے وخت . بحث اسم ظرف. ج مَوَاعِيد د باب "ض"

فائده(نکته): کيف د ظروف د نومونو څخه دى چې په دوه معناؤ استعماليږي:(١) استفهام .(٢) شرط . په فتح ولاړ وي .

فائده: مَسْجِدٌ. اسم ظرف . په معنیٰ د سجدې ځاي ، لمانځه ځاي (عبادت ځاي)ج مساجد .

تنبيه(اخطار):د مَسْجِدٌ صيغه په معنیٰ د اسم ظرف د قياس خلاف دى.

«د مَعَ د لفظ تفصيل»

مُعْ ومَعَ : په معنیٰ د ورسره ، د ملګرتيا لپاره . دا په دوه طريقو استعماليږي (١)اول دا چې که مضاف وي نو هغه به دوه حرفي ظرف وي او په درې معناګانو کښې به په يو دلالت کوي اول به په غونډيز ځاي (مقام اجتماع) باندې او د دې په ذريعه به د ذوات خبر ورکول کيږي لکه "والله مَعَكُمْ" او بل به په غونډيز وخت (زمان اجتماع) باندې لکه " جِئْتُكَ مَعَ العَصْرِ " دريم عند په مرادف کېدو لکه جئتُ من معهم (من عندهم) .(٢) دا چې مضاف نه وي په دې صورت کښې اسم مقصور منصوب منوّن وي فتیً

په شانتې . او د دې لګول به د ظرفيت په بنا وي لکه چې اووئيلې شي خرجنا معًا (في زمانٍ واحدٍ) وكنّا معًا (في مكانٍ واحدٍ)۔

★★★

وَاَمْكُثُ فِي الْمَدْرَسَةِ سِتَّ سَاعَاتٍ وَاَسْمَعُ الدُّرُوْسَ بِنَشَاطٍ وَّرَغْبَةٍ وَاَجْلِسُ بِاَدَبٍ وَّ سَكِيْنَةٍ، حَتّٰى اِذَا انْتَهَى الْوَقْتُ وَضُرِبَ الْجَرَسُ خَرَجْتُ مِنَ الْمَدْرَسَةِ وَرَجَعْتُ اِلَى الْبَيْتِ۔

ترجمه: او زه په مدرسه کښې شپږ ساعته حصاريږم او سبقونه په تندئ او په مينه اورم . او په ادب او اطمينان سره کښينم تر دې چې وخت پوره شي او زنګ اووهلے شي نو د مدرسي نه بهرون راوځم او کور ته بېرته راځم.

﴿د الفاظو پلټنه﴾

اَمْكُثُ: صيغه د واحد متکلم فعل د مضارع د باب "ن" حصاريدل،اوسيدل

سَاعَاتٍ: په معنیٰ د زنګ ، ساعت ، قيامت مفرد . سَاعَةٌ .

الدُّرُوس: په معنیٰ د سبقونو . مفرد دَرْسٌ

نَشَاط: په معنیٰ د تکړه کيدل . اسم مصدر د باب (س . ض)

رَغْبَةٍ: په معنیٰ د خواهش کول. اسم مصدر د باب "س"

أدَب: سليقه ، تهذيب ، ښه والې ، ښه طريقه . هغه هغه پوهه او پېژندګلوي چې د انساني عقل پېدائښت وي . ج آداب.

اِنْتَهٰى: صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي د باب افتعال، ختميدل

اَلْوَقْتُ: زمانه، لمحه، ساعت ، موسم ج اوقات

اَلْجَرَسُ: زنګ ، ساعت ، ج اجراس

مَدْرَسَةٌ: صيغه واحد بحث اسم ظرف . د لوستلو ځاي، ج مدارس

وَلَا اَقْرَأُ بَعْدَ صَلَاةِ الْعَصْرِ اِلَى الْمَغْرِبِ، وَفِيْ بَعْضِ الْاَيَّامِ اَمْكُثُ فِي الْبَيْتِ، وَفِيْ بَعْضِ الْاَيَّامِ اَذْهَبُ اِلَى السُّوْقِ وَاَشْتَرِيْ حَوَائِجَ الْبَيْتِ، وَفِيْ بَعْضِ الْاَيَّامِ اَخْرُجُ مَعَ اَبِيْ اَوْ اَخِيْ اِلَى بَعْضِ الْاَقَارِبِ، اَوْ اَلْعَبُ مَعَ اِخْوَتِيْ وَاَصْدِقَائِيْ۔

ترجمه: او ماښکر د لمانځه نه تر ماښام لمونځ پورې لوستل نه کووم. زیاتره وخت په کور کښې یم. او کله د کورني ضرورتونو اخېستلو لپاره بازار ته لاړشم. او بعض وخت د پلار یا د خپل ورور سره د کوم خپلوانو کره لاړشم. او یا بیا د خپل ورونو او ملګرو سره لوبې کووم.

﴿ دالفاظو پلټنه ﴾

لَا اَقْرَأُ: صیغه واحد متکلم فعل مضارع منفی د باب "ف" لوستل

اَلْبَیْتِ: کور. ج. بُیُوتٌ

حَوَائِجَ: ضرورتونه. مفرد. حَاجَةٌ

اَقَارِبُ: نزدې خپلوان. ګاونډي. مفرد. قَرِیْبٌ

اَلْعَبُ: صیغه واحد متکلم فعل مضارع معروف د باب "س" لوبې کول

اِخْوَةٌ: سکنے ورور. د دې د پاره د شقیق لفظ استعمالیږي. ملګری، انډیوال مفرد اخ.

اَصْدِقَاء: دوست. مفرد. صَدِیْقٌ.

د عصر د لفظ پلټنه: د عصر لفظ په څو معناګانو کښې استعمالیږي. (۱) وخت د ماښکر. (د ورځې آخري برخه د لمر د سور کېدو پورې) (۲) د ماښکر لمونځ.

فائده: دا لفظ د ماښکر لمونځ په معنیٰ کښې د ښځینه او په بله معنیٰ کښې د نارینه او ښځینه دواړو لپاره استعمالیږي.

(۳) زمانه، عصر (۴) وخت (۵) دور.

فائده: د عصر لفظ په معنیٰ د دور د کوم باچا یا حکومت یا مختلف قسم فطری یا ټولنیز انقلاب او بدلون طرف ته هم کیږي مثلًا عصر دولة المغولية په معنیٰ د مغلو د حکومت دور . عصر الخلفاء العباسیین په معنیٰ د عباسی خلیفه ګانو دور . عصر الحضارة . د تمدن دور . عصرُ الذَّرَّة . اټومي دور وغیره .

العَصْرُ الْاٰلِیُّ۔	مشیني وخت
العَصْرُ الحدیدِيُّ۔	اوسپنیز وخت
العَصْرُ الذَّهَبِیُّ۔	د سرو زرو وخت
عَصْرُ الذَّرَّةِ۔	اټومي وخت
عَصْرُ الظلمة۔	د تیارو وخت
اَلْعَصْرُ الْحَدِیْثُ۔	حاضر دور . موجوده وخت
اَلْعَصْرُ الْبَائد۔	تیر شوي وخت

فائده:. اَلْعَصْر لفظ د تثنیه د صیغي سره هم استعمالیږي.

اَلْعَصْرَانِ : په معنیٰ د سهار او ماښام . شپه او ورځ .

فائده: بعضې وخت د عصر لفظ ته د لفظ نسبت کیږي لکه فَرِیْدُ الْعَصْر. په معنیٰ د یکتائے روزګار.

وَحِیْدُ الْعَصْرِ : په معنیٰ د زماني یواځینی

اَلْعَصْرِیُّ : د موجوده دور . نوی ، ماډرن . اپ ټوډیټ .

فائده:. د عصر ماده د زبښلو په معنیٰ استعمالیږي همدا وجه ده چې د هري میوي جوس ته عصیر وئیلے شي ځکه چې هغه د هغې زبښنیده (نچوړ) وي . همدارنګه د عصر وخت ته عصر هم ځکه وئیل کیږي چې هغه د ټولې ورځ زبښنیده وي. همدارنګه ګردوغبار ته هم وئیل کیږي ځکه چې دا د ځمکې نچوړ دي.

وَ اَتَعَشّٰی مَعَ وَالِدِيْ وَاِخْوَتِيْ وَاَحْفَظُ دُرُوْسِيْ وَاُطَالِعُ لِلْغَدِ وَاَسْتَعِدُّ لِلدَّرْسِ، وَاَكْتُبُ مَا يَاْمُرُ بِهِ الْمُعَلِّمُ، وَاُصَلِّيْ الْعِشَاءَ وَاَقْرَأُ قَلِيْلًا، ثُمَّ اَنَامُ عَلَى اسْمِ اللّٰهِ وَذِكْرِهٖ۔

ترجمه :.او زه دَ ماښام ډوډۍ د خپل پلار او وروڼو سره خورم، او خپل سبق يادوم او سبا لپاره د خپلو سبقونو مطالعه كووم او د سبق تياري كووم او استاذ چې د ليك لپاره كوم كار راكړے وي هغه ليكم او د ماسخوتن لمونځ كوم او د هغې نه روسته لږ وخت لوست كوم او بيا د الله د نوم او د هغې د يادوني (ذكر) سره ويده كېږم .

﴿ د الفاظو پلټنه ﴾

اَتَعَشّٰی: صيغه واحد متكلم فعل مضارع د باب تفعل . د شپې ډوډۍ خوړل.

اَحْفَظُ : صيغه واحد متكلم فعل مضارع د باب "س" ساتنه كول،يادول

اُطَالِعُ: صيغه واحد متكلم فعل مضارع ده د باب مفاعله .لوستل، مطالعه كول.

الْمُعَلِّمُ : صيغه واحد مذكر بحث اسم فاعل د باب تفعيل. ورزده كول ج مُعَلِّمُوْنَ

﴿ د مَا لفظ پلټنه ﴾

د مَا لفظ دوه قِسمه دي . (۱) اسميه (نومېز)(۲) حرفيه (حرفيز)

﴿ د مَا اسميه (نومېز) مختلف قسمونه ﴾

(۱) استفهاميه لكه مَا اسْمُكَ (۲) شرطيه : جيسے مَا تَفْعَلْ اَفْعَلْ

(۳) موصوله لكه ويعبدون من دون الله مَالَا يَمْلِكُ لهم رزقا۔

(۴) تعجبيه:لكه مَا اَحْسَنَ زَيْدًا (۵) نكره مبهمه لكه اِشْتَرَيْتُ كِتَابًا مَّا

﴿ د مَا حرفيه مختلف قسمونه ﴾

(۱)ما مشابه بليس لكه مَا زَيْدٌ قَائِمًا (۲) نافيه : لكه مَا فَعَلَ زَيْدٌ

(۳) مصدريه ظرفيه : لكه وَاَوْصَانِيْ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ مَا دُمْتُ حَيًّا اي مدة دوامي

مصدريه غير ظرفيه . لکه وَضَاقَت عليهم الارض بِمَا رَحُبَتْ اي بِرُحْبِهَا

(۴) کافه عن العمل : يعنې حروف مشبه باالفعل باندې داخليدونکې مَا لکه اِنَّمَا الاعمَالُ بِالنِّيَاتِ۔

فائده : لفظ رُبَّ، طَالَ، قَلَّ باندې داخلېدونکې ما هم د همدې ډلې څخه دي .

(۵) زائده :د مثال په توګه د جار مجرور په منځ کښې واقع کيدونکې مَاسَاُسَافِرُ عَمَّا قَرِيْبٍ او لفظ کثيرًا او قليلًا باندې داخلېدونکې ما او د يو قول مطابق د لا سِيَّما مَا همدارنګه هغه ما چې دظروف سره نښلېدلے وي لکه بَيْنَمَا مَا او همدارنګه د حيثما، کَيْفَمَا شرطتيتين مَا

ځانګړي خبره : د ما لفظ کله نِعْم سره مرکب وي په دې وخت کښې کله دا نکره وي او کله معرفه . د دې نه وروسته که فعليه جمله راغله نور پېژندلو په اساس به نکره وي لکه ان الله نِعِمَّا يَعِظُکُمْ بِه او که کله له دې نه وروسته هيڅ هم نه وي يا صرف مفرد وي نو په دې حالت کښې به ما صرف معرفه تامه وي لکه اِنْ تُبْدُوْ الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِي۔

★★★

تِلْكَ عَادَتِيْ كُلَّ يَوْمٍ لَّا اُخَالِفُهَا ، وَاَقُوْمُ مُبَكِّرًا يَوْمَ الْعُطْلَةِ اَيْضًا ، وَاُصَلِّيْ مَعَ الْجَمَاعَةِ وَاَتْلُوالْقُرْآنَ ، وَاَقْضِى الْيَوْمَ فِيْ مُطَالَعَةِ كِتَابٍ وَّمُحَادَثَةٍ مَّعَ اَبِيْ وَاُمِّيْ وَاِخْوَتِيْ ، وَفِيْ زِيَارَةِ قَرِيْبٍ اَوْ عِيَادَةِ مَرِيْضٍ ، وَاَمْكُثُ اَحْيَانًا فِي الْبَيْتِ ، وَاَخْرُجُ اَحْيَانًا اِلَى الْخَارِجِ۔

ترجمه :.دا زما ورځنې عادت دې . زه د خپل عادت څخه سرغړونه نه کوم د رخصتي په ورځ هم سهار وختي بيداريږم او په جمع سره لمونځ کوم د قرآن مجيد تلاوت کوم او د رخصتي ټوله ورځ د کوم کتاب په لوستلو ياد

مور او پلار او ورونو سره په خبري کولو ، یا د کوم رشته دار سره ملاقات کښې او یا د کوم مریض په پوښتنه کښې تېروم . او کله هم په کور پاتې شم او بعضې وخت د کور څخه بیدیا (بهرون) ولاړ شم .

﴿ د الفاظو پلټنه ﴾

عَادَتْ: په معنیٰ د طریقه . معمول ج عادات

يَوْم: ورځ ج ایام

اَلْعُطْلَةُ: رخصتی ج عُطَل

اَيْضًا: اسم مصدر د باب "ض" نه په معنیٰ هم

وضاحت: (سپیناوي): ایضًا په اساس د مفعول مطلق منصوب کېږي او د یو وینا مطابق اٰض ضمیر مستتر نه حال کېدو په اساس منصوب کیږي.

اُصَلِّي: صیغه واحد متکلم فعل مضارع د باب تفعیل تصلیة نه مشتق دي . لمونځ کول .

فائده: کله باب تفعیل مصدر په وخت د ضرورت د تفعله په وزن هم راځي.

مُحَادَثَةٍ: اسم ، مصدر خپل منځي خبري کول.

مَرِيْضٍ: په معنیٰ د ناروغ . ج مرضیٰ

اَحْيَانًا: په معنیٰ د وخت . کله کله د دې هم معنیٰ لفظ استعمالیږي الحیْن په معنیٰ د موقع وخت . د وخت یوه حصه چې کمه وي یا زیاته وي یا لنډه وي ج احیان جمع الجمع احایین ده . (د مفعول فیه په اساس منصوب دي)

★★

★

﴿نوي لغات﴾

الرِّيَاضَةُ الْبَدَنِيَّةُ:	ورزش . ترېننګ
الآدابُ العَامَّة:	مستحسن طور طريقي، د ژوند طرز. اخلاقيات
الدِّرَاسَةُ:	تعليم ، مطالعه ، استډي، غوروفکر، معائنه
الدّراسة الابتدائية:	لمړنی زده کړې .
الدّراسة الثّانويّةُ:	منځني زده کړې
الدّراسة العُلْيَا:	لوړي زده کړې
الدّراسة النَّقْدِيَّة:	تنقيدی کتنه
الدِّراسات:	معلومات ، پلټني
الدِّراسيُّ:	زده کړه ايز. د زده کړې سره تړلي کارونه
كُلِّيّة الآداب:	آرټس کالج
كُلِّيّة العُلُوم:	سائنس کالج
كُلِّيّة التِّجَارة:	کامرس کالج
كُلِّيّة الطِّبّ:	ميډيکل کالج
كُلِّيّة الْهَنْدَسَة:	د انجنيری کالج
كُلِّيّةُ الحُقُوق:	د قانون کالج
كُلِّيّة الزِّرَاعَةِ:	د زراعت کالج اَلْبَكَالورِيُوس :بکلوريا
اَلْمَاجِسْتِير:	ماسټري دِبْلُوْمٌ : ډيپلوم
الدُّكْتُورَاه:	دکتوره

★★★★

★★

★

﴿لَمَّا بَلَغْتُ السَّابِعَةَ مِنْ عُمْرِیْ﴾

لَمَّا بَلَغْتُ السَّابِعَةَ مِنْ عُمْرِيْ اَمَرَنِیْ بِالصَّلَاةِ وَكُنْتُ تَعَلَّمْتُ كَثِيْرًا مِّنَ الْاَدْعِيَةِ وَحَفِظْتُ سُوَرًا مِّنَ الْقُرْآنِ الْكَرِيْمِ مِنْ اُمِّیْ

﴿کله چه زه اووه کلن شوم﴾

ترجمه:.کله چې زه اووه کلن شوم زما پلار ماته د مانځه امر اوکړو او ما ډیري زیاتي دعاګاني زده کړي وي . او د قرآن کریم ډیر سورتونه مې د مور نه زده کړي وؤ . او اوده کیدو په وخت کښې به زما مور ماسره ډیري خبرې کولي هغې به ماته د پیغمبرانو قصي اورولې او ما به دا قصي په مینه سره اوریدلي .

﴿د الفاظو پلټنه﴾

بَلَغْتُ۔ صیغه واحد متکلم ماضي معروف د باب "ن" رسیدل ، بالغ کیدل

عُمْرِیْ۔ په معنیٰ د ژوند ج . اَعْمَارٌ

سُوَرًا۔ علامت ، نښه ، د قرآن پاك ځانګړي برخه . مفرد سورت

فَتَقُصُّ۔ صیغه واحد مؤنث غائب فعل مضارع د باب "ن" بیانوول

اَلْاَنْبِيَاءِ۔ په معنیٰ د خبر ورکونکے . پیغمبر مفرد . نبیٌّ

قِصَصَ۔ په معنیٰ د واقعه ، خبره . مفرد قِصَّةٌ

﴿د لمّا لفظ پلټنه﴾

د لمّا لفظ په ډیر معناؤ راځي لکه لاندني.

(۱) د نفي لپاره لکه وَلَمَّا يَاْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِيْنَ خَلَوْا . تر اوسه پورې تاسو باندې د هغې خلکو په شان حالت نه دي راغلے.

(۲) شرط لکه فَلَمَّا تَرَاءَتِ الْفِئَتٰنِ نَكَصَ عَلٰى عَقِبَيْهِ . نو کله چې دواړه ډلي (کافر او مسلمانان﴾ یو بل ته مخامخ شوي نو شیطان په وروسته خپو اوتښتیدو.

(۳) د استثناء د پاره یعني په معنیٰ د اِلَّا لکه اِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ

او نه دې هيڅ يو نفس مګر په هغې ساتونکې مقرر دې .

فائده:لَمَّا د استثنا، لپاره نفي نه وروسته يا قسم نه وروسته راځي د نفي مثال پورته ذکر شو . د قسم مثال نشدتُّك بِاللّٰهِ لَمَّا تَذْهَبُ . مونږ تاله د الله تعالىٰ قسم درکوؤ مګر چې کله ته لاړ شې .

(۴) د ظرف لپاره :. په هغې وخت کښې به دا د حين په معنىٰ وي او دا د ماضي سره خاص دي .مثلًا .فَلَمَّا اَنْ جَاءَ الْبَشِيْرُ اى فِي وَقْتِ مَجِئيتيه په دې صورت کښې د دې جواب فعل ماضي هم راځي لکه په ذکر شوي آيت کښې او فعل مضارع هم راځي د مثال په توګه فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ اِبْرَاهِيْمَ الرَّوْعُ وَجَائَتْهُ الْبُشْرىٰ يُجَادِلُنَا .

فائده:.لما په شرطيه او ظرفيه احکامو کښې يوشان دی .

★★★

وَبَدَأْتُ اَذْهَبُ مَعَ اَبِىْ اِلَى الْمَسْجِدِ، وَاَقُوْمُ فِيْ صَفِّ الْاَطْفَالِ خَلْفَ صَفِّ الرِّجَالِ ، وَلَمَّا بَلَغْتُ الْعَاشِرَةَ مِنْ عُمُرِىْ قَالَ لِىْ اَبِىْ مَرَّةً : قَدْ اَكْمَلْتَ الْاٰنَ مِنْ عُمُرِكَ تِسْعَ سِنِيْنَ ، وَالْاٰنَ اَنْتَ ابْنُ عَشْرِ سِنِيْنَ فَاِذَا تَرَكْتَ صَلَاةً ضَرَبْتُكَ ، لِاَنَّ النَّبِىَّ قَالَ : مُرُوْا اَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ اَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِيْنَ ، وَاضْرِبُوْهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ اَبْنَاءُ عَشْرٍ۔

ترجمه :.او ما د خپل پلار سره جومات ته تګ شروع کړو او زه به د سړو شاته د ماشومانو صف کښې اودريدم . ځما پلار ماته اووئيل : تاته د خپل عمر نهه کاله پوره کړل او اوس ستاعمر د لسو کلونو دې . نو که چيرته تا کوم مونځ پرېښودو نو زه به تا وهم . ځکه چې نبي ﷺ فرمائيلي دي ”تاسو خپل اولاد ته د مانځه حکم اوکړئ کله چې د اووه کلونو شي . او وي

وهغه كله چې د لسو كلونو شي".

﴿ د الفاظو پلټنه ﴾

صَفٍّ۔ په معنیٰ د قطار ، درجه . ج صُفُوف

اَلْاَطْفَالُ۔ په معنیٰ د ماشوم . مفرد طِفْلٌ

مَرَّةً۔ يو ځلي ، يو كرت ج مِرَارًا (د مفعول فيه له وجې منصوب دې)

اَكْمَلْتَ۔ صيغه واحد مذكر حاضر ماضى معروف د باب افعال نه پوره كول.

اَلْآنَ۔ په معنیٰ د وخت ج اٰونَةٌ

سِنِيْنَ۔ په معنیٰ د كال مفرد سَنَةٌ (جري حالت دې)

اِبْنٌ۔ په معنیٰ د ځوي . هلك ج اَبْنَاء، بَنُون

مُرُوْا۔ صيغه جمع مذكر حاضر امر حاضر معروف . حكم وركول .

☆☆☆

وَقَصَّ عَلَيَّ اَبِيْ قِصَصَ الْاَطْفَالِ الَّذِيْنَ حَافَظُوْا عَلَى الصَّلَاةِ فِي الصِّغَرِ ، وَكَانَ لَهُمْ شَأْنٌ فِي الْكِبَرِ۔ قُلْتُ: يَااَبِيْ ! اِنَّكَ لَا تَحْتَاجُ اِلَى اَنْ تَضْرِبَنِيْ وَسَاُحَافِظُ عَلَى الصَّلَوَاتِ ، وَكَذٰلِكَ فَعَلْتُ ، فَقَدْ كُنْتُ اُصَلِّيْ اَيْنَمَا كُنْتُ ، كُنْتُ اِذَا ذَهَبْتُ اِلَى السُّوْقِ اَوْ كُنْتُ فِيْ شُغْلٍ وَّ اَدْرَكَتْنِي الصَّلَاةُ فِيْ مَكَانٍ صَلَّيْتُ ، لِاَنِّيْ اَرَى النَّاسَ لَا يَخْجَلُوْنَ مِنَ الْاَكْلِ اِذَا جَاعُوْا ، وَاللَّعِبِ اِذَا اَرَادُوْا ، فَلِمَاذَا اَخْجَلُ مِنَ الصَّلَاةِ ؟ وَاِنَّ الصَّلَاةَ لَفَرِيْضَةٌ ، وَّاِنَّ الصَّلَاةَ لَشَرَفٌ لِّلْمُسْلِمِ۔

ترجمه :.او زما پلار ماته د هغو ماشومانو قصې واورولې چاچې په وړوكوالي كښې د مانځه پابندي كړې وه او د هغوي همدا عادت په لوي عمر كښې هم وؤ ما ورته اووئيل چې "اے پلاره ! بې له شكه چې تاته به زما د وهلو ضرورت نه راځي او زه به په پابندئ سره مونځ كووم او ما

همداسې اوکړل . زه چې به هر چیرته ووم مونځ به مې کوؤ . کله چې به بازار ته تللم یا به په کوم کار کښې مشغول ووم او د مانځه وخت به شو نو ما به په هم هغه ځای کښې مونځ کولو . ځکه چې زه خلك ګورم چې کله اوږې شي نو په خوړلو نه شرمیږي او کله چې اوغواړي نو په لوبو نه شرمیږي نو زه په مونځ کولو ولې وشرمیږم ؟ یقیناً مونځ یوه فریضه ده .او د شك پرته مونځ مسلمانانو لپاره یو عزتمند عمل دے .

﴿ د الفاظو پلټنه ﴾

قَصَّ- صیغه واحد مذکر غائب ماضي معروف د باب "ن" بیانول ، قصه کول .

الصِّغَرُ- په معنیٰ د وړوکوالے .

شَأْنٌ- په معنیٰ د حالت ، معامله ، عادت . ج شئون

كِبَر- په معنیٰ د زړښت

لَا تَحْتَاجُ- صیغه واحد مذکر حاضر فعل مضارع منفي معروف د باب افتعال . ضرورت مند کېدل .

السُّوْقُ- په معنیٰ د بازار ج اَسْوَاق

شُغْلُ- په معنیٰ د مصروفیت . کار . جمع اَشْغَالٌ

لَا يَخْجَلُوْنَ- صیغه جمع مذکر غائب فعل مضارع منفي معروف د باب "س" شرمیدل.

اَلْاَكْل- اسم مصدر په معنیٰ د خوارہ .

جَاعُوْا- صیغه جمع مذکر غائب فعل ماضي معروف د باب "ن" اوږے کېدل .

اَللَّعِب- اسم مصدر ، لوبې کول . ساعت تېرول .

اَرَادُوْ- صیغه جمع مذکر غائب فعل ماضي معروف د باب افعال . اراده کول.

فَرِيْضَةٌ۔ ذمه واري . لازم . ضروري كار ج فرائض .

شَرَفٌ۔ اسم مصدر په معنىٰ د بزرگي ، عزت ، لوړوالي .

★★★

وَخَرَجْتُ مَرَّةً إِلَى مُبَارَاةٍ وَّكَانَ الزِّحَامُ شَدِيْداً، وَأَدْرَكَتْنِي صَلَاةُ الْعَصْرِ وَكُنْتُ عَلَىٰ وُضُوْءٍ، فَقُمْتُ أُصَلِّي وَجَعَلَ النَّاسُ يَنْظُرُوْنَ إِلَيَّ وَيَتَعَجَّبُوْنَ، وَأَكْمَلْتُ صَلَاتِي بِسَكِيْنَةٍ وَّرَجَعْتُ إِلَى الْمُبَارَاةِ۔

ترجمه:.او زه يو ځل مقابلي كتلو ته لاړم . هلته ډير رش وؤ او د مازيگر د مانځه وخت شو . زه په اوداسه ووم نو زه مانځه ته اودريدم او خلك ماته په حيرانتيا سره په كتلو شو . او مابنه په اطمينان او په قلاره سره خپل مونځ پوره كړو . او مقابلي طرف ته راوگرځيدم .

مُبَارَاةٍ۔ اسم مصدر د باب مفاعله نه . د يو بل نه مخكښي كيدل . د لوبو ميدان . مقابله

الزِّحَامُ۔ په معنىٰ د رش . هجوم .

شَدِيْد۔ په معنىٰ د سخت ج اشدّاء

أَدْرَكَتْ۔ صيغه واحد مؤنث غائب فعل د باب افعال نه .ترلاسه كول .

يَتَعَجَّبُوْنَ۔صيغه جمع مذكر غائب مضارع معروف د باب افتعال.حيرانيدل

سَكِيْنَةٍ۔ په معنىٰ د قلار . سكون . اطمينان .

اعْتِدَال۔ په معنىٰ د اسم مصدر د باب افتعال نه. منځ روي اختيارول.برابري

★★★

وَلَمَّا انْتَهَتِ الْمُبَارَاةُ جَاءَ إِلَيَّ رَجُلٌ وَّسَأَلَنِي عَنِ اسْمِي وَاسْمِ وَالِدِي، وَسَأَلَنِي عَنْ سِنِّي فَأَخْبَرْتُهُ، فَأَثْنَىٰ عَلَىٰ أَبِي خَيْرًا، وَدَعَا لِي بِالْبَرَكَةِ، وَقَالَ: مَا رَأَيْتُ وَلَدًا

يُصَلِّيْ فِي الْمُبَارَاةِ وَيَتْرُكُ كَثِيْرٌ مِّنَ النَّاسِ الصَّلَاةَ فِيْ هٰذَا الْوَقْتِ، فَحَمِدْتُ اللّٰهِ وَشَكَرْتُ اَبِيْ۔

ترجمه :.كله چې مقابله ختمه شوه يو سړے زما خوا ته راغلے نو زمانه ئې زما او د پلار نوم وپوښتل . او زمانه ئې د عمر تپوس اوکړو. ما هغې ته اووئيلې . نو هغې زما د پلار صفت اوکړو او ماته ئې د برکت دعا اوکړه او وېې وئيل " ما داسې هلك نه دې ليدلے چې د مقابلې په وخت کښې مونځ اوکړي . په داسې وختونو کښې ډير خلك مونځ پريږدي . نو ما د الله حمد بيان کړو او د خپل پلار څخه مې مننه اوکړه .

﴿د الفاظو پلټنه﴾

جَاءَ۔ صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف د باب "ض"نه، راتګ

سَأَلَ۔ صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف د باب "ف" پوښتل

سِنٌ۔ په معنیٰ د عمر، غاښ . ج اَسْنَانٌ

اَخْبَرْتُ۔ صيغه واحد متکلم فعل ماضي معروف د باب افعال . خبر ورکول . ويل .

اَثْنٰى۔ صيغه واحد مذکر غائب ماضي معروف د باب افعال ،تعريف کول

دَعَا۔ صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف د باب "ن" چيغه وهل ، راغوښتل ، دعا کول .

بَرَكَة۔ په معنیٰ د زياتوالي ، لوېوالي ، خوش نصيبي .

فائده : اَلْبِرْكَة، بکسر الباء۔ کچا تالاب يا حوض ، کندها چې په هغې کښې اوبه وي جو هرج برك . البركة . د مرغابی په شان د اوبو مرغی .رسيده کوونکي مزدوري ج بُرَكٌ .

يَتْرُكُ۔ صيغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معروف د باب "ن" پرېښودل

حَمِدتُّ۔ صيغه واحد متكلم فعل ماضي معروف د باب "س" حمدبيانول

شَكَرْتُ۔ صيغه واحد متكلم فعل ماضي معروف د باب "ن" مننه كول. احسان مند كېدل .

★★★

وَلَا اَتْرُكُ الصَّلَاةَ اِذَا كُنْتُ مُسَافِرًا وَّ اَرَىٰ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ يُصَلُّوْنَ فِي الْحَضَرِ وَيَتْرُكُوْنَ الصَّلَاةَ فِي السَّفَرِ، وَيُصَلُّوْنَ فِي الصِّحَّةِ وَلَا يُصَلُّوْنَ فِي الْمَرَضِ، مَعَ اَنَّ الصَّلَاةَ لَا تَسْقُطُ عَنْ اَحَدٍ۔

ترجمه:.او زه د سفر په حالت كښې هم مونځ نه پرېږدم او ډېر خلك وينم چې د اوسيدني په حالت كښې خو مونځ كوي او سفر په حالت كښې مونځ پرېږدي . په روغوالي كښې مونځ ترسره كوي او ناروغتيا حالت كښې مونځ نه كوي . پرته له دې چې مونځ د هيچا څخه هم نه معاف كيږي.

﴿ د الفاظو پلټنه ﴾

مُسَافِرًا۔ صيغه واحد مذكر بحث اسم فاعل د باب مفاعله . سفر كول (د كنت خبر كېدو نه ئې نصب دى)

كَثِيْرًا۔ صيغه واحد مذكر . اسم فاعل د باب "ك" ډېريدل (په نصب باندې بناء مفعوليت دې).

اَلْحَضَر۔ اسم مصدر د باب "ن" ځاې. د اوسيدني (اقامت) حالت .

اَلْمَرَض۔ په معنىٰ د ناروغتيا ج امراض .

لَا تَسْقُطُ۔ صيغه واحد مؤنث غائب فعل مضارع د باب "ن" لويدل، ساقط كيدل.

★★★

وَ اَرَىٰ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ لَا يُصَلُّوْنَ بِاِعْتِدَالٍ وَّ سَكِيْنَةٍ وَّيُسْرِعُوْنَ كَثِيْرًا، وَلَا

اَذْكُرُ اَنِّيْ تَرَكْتُ صَلَاةً فِيْ هٰذِهِ السَّنَوَاتِ الْاَرْبَعِ ، وَاِذَا نِمْتُ عَنْهَا اَوْ نَسِيْتُهَا صَلَّيْتُهَا اِذَا تَذَكَّرْتُ۔وَاِنِّيْ اَسْاَلُ اللّٰهَ تَعَالَى التَّوْفِيْقَ وَالثَّبَاتَ۔

ترجمه:.او زه ډير خلك وينم چې په سكون او اطمينان سره مونځ نه كوي او ډيره تندي كوي او زما نه يادېږي چې ما په دې څلورو كلونو كوم پرېښې وي . او كله چې هم د مونځ كولو نه بغېر ويده شم يا رانه مونځ هېر شي نو چې كله رایاد شي په هغه وخت ئې ترسره كوم . او بې شكه چې زه د الله نه توفيق او ثابت قدمي غواړم .

﴿د الفاظو تحقيق﴾

يُسْرِعُوْنَ۔ صيغه جمع مذكر غائب فعل مضارع معروف د باب ”اِفعال“ جلدي كول .

لَا اَذْكُرُ۔ صيغه واحد متكلم فعل مضارع منفي معروف از باب ”ن“ يادول

السَّنَوَاتِ۔ په معنىٰ د عمر . كال مفرد سَنَةٌ

نَسِيْتُ۔ صيغه واحد متكلم فعل ماضي معروف از باب ”س“ هېرول

تَوْفِيْق۔ اسم ، مصدر د باب تفعيل . موافقت كول

الثَّبَات۔ اسم ، مصدر د باب ”ن“ ثابت قدم پاتې كيدل ، په كار كښې استقامت كول .

﴿نوي لغات﴾

العُمْرُ۔د ژوندي پاتې كېدو وخت .عمر ، ج اَعمار په معنىٰ د وَرو غوښه ج عُمُوْر العُمَران حضرت ابوبكر وعمر رضى الله عنهما . العُمْران . آبادي، تهذيب وتمدن ، شهريت .علم العُمران . معاشرتي علوم . تولنيز پوهه . الاَلْعَاب النَّارِيَّة.آتش بازی.لَعِبُ السَّيْفِ.تيغ بازي .لُعْبَةُ الْغُمَيْضَيَة. پرپټونے .

الْمَلْعَبُ . د لوبو ميدان، استيډيم .تهيټر. تماشي ځاي ج مَلَاعِب .

النَّمْلَةُ

طَابَ سَعْيِي بِالْأَمَلْ
لَسْتُ أَرْضَى بِالْكَسَلْ

غَايَتِي نَيْلُ الطَّلَبْ
لَا أُبَالِي بِالتَّعَبْ

أَبْتَنِي الْبَيْتَ الْحَسَنْ
بِنِظَامٍ لِلسَّكَنْ

وَلِقُوتِي أَذْهَبُ
لَسْتُ يَوْمًا أَلْعَبُ

كُلَّ صَيْفٍ أَجْمَعُ
لِيْ طَعَامًا يُشْبِعُ

فَإِذَا جَاءَ الْمَطَرْ
كَانَ لِيْ بَيْتِي الْمَقَرْ

ذَاكَ شَأْنِي فِي الصِّغَرْ
وَنِظَامِي فِي الْكِبَرْ

إِنَّنِي نِعْمَ الْمَثَلْ
بِاجْتِهَادِيْ فِي الْعَمَلْ

(مَبَادِئُ الْقِرَاءَةِ الرَّاشِدَةِ)

ترجمه:. ﴿میږی﴾

زما محنت د امید مطابق ښه وؤ
زه د سستئ سره راضي نه یم

زما غم دیوشي تر لاسه کول دي
زه د ستړیا پرواه کیر نه یم

زۀ ښه کور جوړوم
په منظم طریقي سره اوسېدو لپاره

او زه خپل خوراك پسې ځم
زۀ هېڅ ورځ لوبې نه کووم

زه په هر اوړي کښې جمع کړم
د ځان له خوراك چې په موړ شم

نو کله چې باران اوشي
ځما کور ځما د اوسیدو ځاي شي

دا مې عادت دې د وړکوالي
او هم معمول د بوډاوالي

بې شکه زه یو ښه مثال یم
په خپل مقصد کښې د کوشش کولو

﴿د الفاظ تحقيق﴾

اَلنَّمْلَةُ۔ په معنیٰ د میږي . ج نَمْلٌ، نِمَالٌ

طَلَبَ- صيغه واحد مذكر غائب ماضي معروف د باب "ض" غوره كيدل ښه كيدل

بِالْاَمَلِ- په معنىٰ د اميد . ج امال

بِالْكَسَلُ-اسم مصدر از باب "س" كاهلي ، سستي

غَايَةٌ- انتها،مدت ، نتيجه ج غَايَات

اَبْتَنِي- صيغه واحد متكلم فعل مضارع معروف از باب افتعال . جوړول . تعميرول .

بِنِظَامٍ- اسم ، مصدر از باب "ض" طريقه .ترتيب وركول. موتى پياول

قُوْتٌ- په معنىٰ د خوراك ، رزق ج اقوات

يُشْبِعُ- صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معروف از باب افعال . مړول . خېټه ډكول.

اَلْمَقَرُ- په معنىٰ د اوسيدو ځاي . ټهكان . پاتي كيدو ځاي ج مقارٌ

اَلْمَثَلُ- په معنىٰ د نموني ، عبرت ، روايت ، معيار ج اَمْثَال

اِجْتِهَاد- اسم .مصدر از باب افتعال . كوشش ، شوق

﴿نوي لغات﴾

بَعُوضَةٌ- ماشے

دُودَة القَزّ- د وريښمو چينجے

بَقٌّ ، بَقَّةٌ- كهټمل

قَمْلَةٌ- جووره

عَقْرَب- لړم

فَرَاشَةٌ- تتلى

زُنْبُور- مچى

حِرْبَاءُ- ګهونګټ

المثل الاَعْلىٰ- روښانه روايت . لوړ معيار . ښه نمونه . آئيډيل

المَثلُ البَسِيطُ - معمولي مثال

المُمَثِّلُ- اداكار .كمشنر، نمائنده، ايجنټ ، مصور، آرټسټ

المُمَثِّل الصَّحَفِي - د پريس نمائنده (چاپ نمائنده)

﴿فِى السُّوقِ﴾

عُمَرُ: هَلْ زُرْتَ سُوْقَ هٰذَا الْبَلَدِ يَا صَدِيْقِى؟

خَالِدٌ: لَا يَا أَخِى، فَإِنِّى غَرِيْبٌ جَدِيْدٌ فِى هٰذَا الْبَلَدِ لَا أَعْرِفُ الطَّرِيْقَ۔

ترجمه: ﴿په بازار کښې﴾

عمر: اے ملګریا. آیا تا د دې ښار بازار لیدلے؟

خالد: نه ملګریا. زه په دې ښار کښې نوے ناآشنا یم. ماته لار معلوم نده

﴿د الفاظ تحقیق﴾

اَلْبَلَدِ۔ بَلْدَةٌ ښار. ج. بِلَاد

اَلسُّوْقُ۔ په معنیٰ د بازار ج أَسْوَاق

غَرِيْبٌ۔ ناآشنا. نوے راغلے. ج غُرَبَاء

جَدِيْدٌ۔ نوے. د باهر نه نوے راتلونکے ج جُدُد

لَا أَعْرِفُ۔ صیغه واحد متکلم فعل مضارع منفی معروف از باب "ض" پیژندل.

اَلطَّرِيْقَ۔ لار ج طُرُق

عُمَرُ: تَعَالَ مَعِى فَإِنِّى ذَاهِبٌ إِلَى السُّوْقِ لِأَشْتَرِىَ بَعْضَ الْحَوَائِجِ، وَنَرْجِعُ قَبْلَ الْمَغْرِبِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ فَإِنَّ السُّوْقَ غَيْرُ بَعِيْدَةٍ۔

خَالِدٌ: مَاشَاءَ اللّٰهُ! هٰذِهِ سُوْقٌ كَبِيْرَةٌ وَّالدَّكَاكِيْنُ نَظِيْفَةٌ جَمِيْلَةٌ، وَمَاهٰذَا الدُّكَّانُ الْجَمِيْلُ إِلَى الْيَمِيْنِ يَا عُمَرُ؟

عُمَرُ: هٰذَا دُكَّانُ فَاكِهَانِىٍّ، أَلَا تَرَىٰ إِلَى الْفَوَاكِهِ وَتَرَى النَّاسَ يُسَاوِمُوْنَ الْفَاكِهَانِىَّ فِيْهَا۔

خَالِدٌ: أَنَا أُرِيْدُ أَنْ أَشْتَرِىَ شَيْئًا مِّنَ الْفَوَاكِهِ، الْمَوْزَ وَالْجَوَّافَةَ وَالْبُرْتُقَالَ، فَإِنِّى

أُرِيْدُ أَنْ أَدْعُوَ بَعْضَ الْإِخْوَانِ إِلَى الْفُطُوْرِ بُكْرَةً۔

ترجمه:.

عمر: زما سره راځه زه بازار ته بعضې ضروریاتو اخېستلو لپاره ځم . انشاء الله چې مابنام نه مخکښې به بیرته راوګرځو ځکه چې بازار لرې ندے.

خالد: ماشاء الله، دا لوې بازار دے او دکانونه ښکلي او صفا دي اے عمره دا ښي طرف ته ښائسته دکان د څه شي دے ؟

عمر: دا د مېوه پلورنکي (میوه خرڅونکي) دکان دے . آیا ته میوې نه وینې . او ته خلك وینې چې میوه خرڅونکي سره قیمت کوي .

خالد: زه لږه مېوه اخېستل غواړم . کیلې ، امرود او نارنګي ځکه چې زه د سهار لپاره یو څو ملګرو ته بلنه ورکول غواړم .

﴿د الفاظو تحقیق﴾

تَعَالَ۔ صیغه واحد حاضر بحث امر حاضر از باب تفاعل . راتګ

الدَّكَاكِيْنُ۔ جهونپړي . دکان مفرد الدُّكَان، جَمِيْلَةٌ ، ښائسته . فَاكِهَانِيٌّ، مېوه پلورونکے (مېوه خرڅونکے)

يُسَاوِمُوْنَ۔ صیغه جمع مذکر غائب فعل مضارع معروف از باب مفاعله. قیمت طے کول .

الْمَوْزَ۔ کیلا . ج مَوْزَةٌ الْجَوَّافَةُ . امرود

فائده: د دې معنیٰ لپاره عربي کښې كُمَّثْرَىٰ لفظ هم استعمالیږي .

الْبُرْتُقَالُ۔ مالټا ، نارنګی ، بُرتُقَالَةٌ

الْفَطُوْرُ۔ ناشته (بفتح الفا) او که چیرته ضم د الف وي نو په معنیٰ د افطاري کول ده .

★★★

عُمَرُ: اَلْجَوَّافَةُ غَالِيَةٌ جِدًّا فِيْ هٰذِهِ الْاَيَّامِ ، وَالْبُرْتُقَالُ حَامِضٌ وَّلَا بَأْسَ بِالْمَوْزِ۔

خَالِدٌ: تَفَضَّلْ يَا اَخِيْ نُسَاوِمُ الْفَاكِهَانِيَّ۔

عُمَرُ: اَحْسَنُ اَنْ نَّشْتَرِيَ الْفَوَاكِهَ مِنْ سُوْقِ الْخُضَرِ بُكْرَةً، فَإِنَّ الْفَوَاكِهَ وَالثِّمَارَ فِيْهَا كَثِيْرَةٌ وَّ رَخِيْصَةٌ۔

خَالِدٌ: هٰذَا هُوَ الرَّأْيُ ، وَمَا هٰذِهِ الدَّكَاكِيْنُ يَا عُمَرُ ؟

عُمَرُ: هٰذِهٖ دَكَاكِيْنُ الْقُمَاشِ ، اَلَا تَرٰى كَيْفَ بَسَطُوْا اَنْوَاعًا مِّنَ الْقُمَاشِ وَكَيْفَ يَلْمَسُهَا النَّاسُ وَيُسَاوِمُوْنَ فِيْهَا التُّجَّارَ، تَعَالَ ! فَاِنِّيْ اُرِيْدُ اَنْ اَشْتَرِيَ حِذَاءً۔

ترجمه:

عمر: نن سبا امرود ډیر ګران دي . او مالتې تروي دي ، او کیلي اخېستلو کښې هیڅ خبره نشته .

خالد: راځه ملګریا چې د میوه خرخونکي سره قیمت اوکړو .

عمر: ښه خبره دا ده چې میوه سهار وختي سبزي منډۍ کښې واخلو ځکه چې میوې هلته ډیري او ارزاني وي .

خالد: دا ښه نظر دې . اے عمر دا دکانونه د څه شي دي ؟

عمر: دا د کپړې (توتیه) دکانونه دي . آیا ته نه وینې چې هغوي قِسم قِسم کپړې غوړولي او خلك هغې له څنګه لاس وروړي او تاجرانو سره د هغې متعلق قیمت کوي . راځه زه یو جوړه بوټان اخېستل غواړم .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

حَامِضٌ۔ په معنیٰ د تریو .

تَفَضَّلْ۔ صیغه واحد مذکر حاضر امر حاضر معروف از باب تفعل . مهرباني کول .

سُوْقُ الْخُضَرِ- سبزي مارکيټ . اَلْخُضَرُ . په معنیٰ د سبزي ، ترکاري ج اَلْخُضْرَةُ .

أَثْمَار- ميوه . مفرد ثَمَرَةٌ .

غَالِيَةٌ- صيغه اسم فاعل واحد مؤنث از باب "ن" نرخ اوچتيدل .

ګرانيدل د دې جمع غَالِيَاتٌ او غُلَاةٌ .

رَخِيْصَةٌ- ارزان ج رَخَائِص .

اَلْقُمَاشِ- کپړا . ردی . بيکار او خراب څيزونه- ج اَقْمِشَةٌ-

بَسَطُوْا- صيغه جمع مذکر غائب فعل ماضي معلوم از باب 'ن" خورول

از باب "ك" بسيط کيدل .

يَلْمَسُ- صيغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم از باب "س" يو

څيز نه لاس لګول.

أَنْوَاعًا- په معنیٰ د قسمونه مفرد نوعٌ.(مفعول به کيدو څخه منصوب دي)

حِذَاءً- بوټ ، چپلکي جمع اَحْذِيَةٌ (مفعول به په بناء منصوب دي)

★★★

خَالِدٌ: تَفَضَّلْ فَإِنِّيْ صَاحِبُكَ-

عُمَرُ: مِنْ فَضْلِكَ اَخْرِجْ لِيْ حِذَاءً مُّطَابِقًا-

صَاحِبُ الدُّكَّانِ: هٰذَا حِذَاءٌ جَمِيْلٌ وَّمَتِيْنٌ-

عُمَرُ: نَعَمْ ! وَلٰكِنَّهٗ وَاسِعٌ قَلِيْلًا-

صَاحِبُ الدُّكَّانِ: وَهٰذَا الْاٰخَرُ مُطَابِقٌ تَمَامًا-

عُمَرُ: بِكَمْ هُوَ ؟

صَاحِبُ الدُّكَّانِ: بِسِتِّ رُبِيَّاتٍ-

عُمَرُ: اَلَا تَنْزِلُ فِي الثَّمَنِ ؟

صَاحِبُ الدُّكَّانِ: لَنْ تَجِدَ يَا سَيِّدِىْ أَرْخَصَ مِنْ هٰذَا فِي السُّوْقِ۔

عُمَرُ: أُصَدِّقُكَ لِاَنَّكَ مُسْلِمٌ وَّالْمُسْلِمُ لَا يَكْذِبُ وَلَا يَغُشُّ۔

ترجمه :

خالد: ښه دا ده چې زه تا سره يم .

عمر: مهرباني اوکړه ماله يو بوټ واوباسه چې زما په ناپ وي .

دکاندار: دا بوټ ښائسته او مضبوط دے .

عمر: هو خو دا لږ شان غټ دے .

دکاندار: دا بل بالکل ستا په ناپ دے .

عمر: د دے څه قيمت دے ؟

دکاندار: شپږ روپۍ .

عمر: آيا لږ څه قيمت به کم نه کړي ؟

دکاندار: صيب تاسو ته به په دې بازار کښې د دې نه ارزانه پيدا نشي .

عمر: زه ستا تصديق کوم ځکه چې ته مسلمان يې او مسلمان نه دروغ وائي او نه دهوکه ورکوي .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

مُطَابِقًا: صيغه واحد مذکر بحث اسم فاعل از باب مفاعله . موافقت کول

مَتِيْنٌ: مضبوط ، پائيدار ، پوخ . ج مِتَانٌ (دا صيغه د اسم فاعل او صفت په توګه استعماليږي)

وَاسِعٌ: صيغه واحد مذکر بحث اسم فاعل از باب "س" فراخ کيدل .

الثَّمَنِ: په معنىٰ د قيمت ، نرخ ج أَثْمَان

أَرْخَص: صيغه واحد بحث اسم تفضيل از باب "ك" ارزان

مُسْلِمٌ: صيغه واحد مذکر بحث اسم فاعل از باب افعال .مسلمان کيدل

لَا يَغُشُّ: صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معروف از باب "ن" دروغ وئيل.

خَالِدٌ: وَمَا هٰذَا الْمَكَانُ الَّذِيْ يَأْكُلُ فِيْهِ النَّاسُ۔

عُمَرُ: هٰذَا مَطْعَمٌ يَأْكُلُ فِيْهِ النَّاسُ، وَالْمَطَاعِمُ فِي الْبَلَدِ كَثِيْرَةٌ۔

خَالِدٌ: مَالِيْ لَمْ اَرَ مَطْعَمًا فِي الْقَرْيَةِ ؟

عُمَرُ: لِاَنَّ الْبَلَدَ فِيْهِ غُرَبَاءُ وَمُسَافِرُوْنَ لَيْسَ لَهُمْ بُيُوْتٌ يُقِيْمُوْنَ فِيْهَا وَيَأْكُلُوْنَ فِيْهَا، فَيَأْكُلُوْنَ فِي الْمَطَاعِمِ، اَمَّا الْقَرْيَةُ فَالْغَرِيْبُ فِيْهَا قَلِيْلٌ فَلَا حَاجَةَ فِي الْقَرْيَةِ اِلَى الْمَطْعَمِ۔

ترجمه:

خالد: دا كوم ځاى دي چې خلك پكښې خوراك كوي.

عمر: دا سرائي (هوټل) دى. خلك دلته خوراك كوي او په ښار كښې مسافرخاني ډيري دي.

خالد: ما په كلي كښې هيڅ هوټل او نه ليد دا څه قيصه ده ؟

عمر: د دې وجه دا ده چې په ښار كښې نااشنا او مسافرخلك ډير وي. د هغوي د پاره په ښار كښې داسې ځاى نه وي چې هلته اووسيږي او ډوډئ اوخوري. نو له دې وجهې خلك په سرائي (هوټل) كښې ډوډئ خوري. خو په كليو كښې نااشنا خلك كم وي نو ځكه په كليو كښې مسافرخانو ضرورت نه وي.

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

مَطْعَمٌ: صيغه واحد بحث اسم ظرف از باب "ض" د خوراك ځاي، هوټل

اَلْقَرْيَةُ: په معنیٰ د كلے ج قُرىٰ.

خَالِدٌ: وَاَيْنَ نَجِدُ الْوَرَقَ وَالْحِبْرَ وَالْقَلَمَ وَالْمِرْسَمَ وَالنَّشَّافَةَ وَاَدَوَاتِ الْكِتَابَةِ۔

عُمَرُ: هٰذَا دُكَّانُ وَرَّاقٍ تَجِدُ فِيْهِ جَمِيْعَ حَوَائِجِ الْمَدْرَسَةِ۔

خَالِدٌ: اَشْكُرُكَ يَا صَدِيْقِي الْكَرِيْمَ فَقَدْ اَفَدْتَنِيْ كَثِيْرًا، وَاَرَىٰ اَنْ نَرْجِعَ الْاٰنَ اِلَى الْبَيْتِ وَنُصَلِّي الْمَغْرِبَ هُنَا۔

عُمَرُ: نَعَمْ ! وَمَا بَقِيَ لِيَ شُغْلٌ۔

ترجمه:

خالد: مونږ ته به کاغذ ، سیاهي او قلم او پنسل اولیکلو سامان چرته پیدا شي .

عمر: دا د کاغذ خرخونکي دکان دي .دلته به تاته د مدرسي سره تړلي ټول ضروري شیان پیدا شي .

خالد: له تا څخه مننه مهربان ملګریه . تا ماته ډیره ګټه اورسوله . اوس څما رائے دا ده که کورته لاړ شو او د ماښام مونځ هلته اوکړو .

﴿ د الفاظو تحقیق ﴾

الْوَرَقُ۔ په معنیٰ د پته ، کاغذ صفحه ج اوراق

الْحِبْرُ۔ په معنیٰ د سیاهي ، روښنائي ج حُبُور

الْمِرْسَمُ۔ پنسل ، ج مَراسم

النَّشَّافَةَ۔ سیاهي راښکونکي ، جازب . بلا ټنګ ، پیپر ، تولیه ، صافي وغیره .

وَرَّاق۔ روپو والا . کاغذ خرڅونکے . کاغذ جوړونکے . لیکونکے .

اَفَدْتَنِيْ۔ صیغه واحد مذکر حاضر فعل ماضي معروف از باب افعال. فائده رسول .

﴿نوي لغات﴾

اَلْمَخبز۔ بیکري صَالُونُ تَجْمِیْل- بیوټي پارلر

مَحَلُّ حَلْوِیَاتٍ د مټهائي دُکان اِلاِسْکَافُ .موچي

محلِ تَنْظِیْفِ مَلَابِس- ډرائي کلینر دُکان

مَحلُّ نَظَّارَاتٍ (عُوَیْنَاتٍ)د چشمو دُکان

ثَمَنٌ اَسَاسِیٌّ- بنیادي قیمت، اصل ریټ

تَثْمِیْن- خراج تحسین

الثَّمِیْن- قیمتي، ډیر قیمت واله

اَلْحِبْر- عالم. پوپ. د یهودو عالم

حِبْرُ الْاَعْظَم- د یهودو لوي عالم

حبر اعلام- نشانه کونکي سیاهي(نشان جوړونکے سیاهي)

قلم حِبْرٍ- فاؤنټین قلم

الحَبَّار- سیاهي خرڅونکے

﴿د السُّوق د لفظ وضاحت﴾

په معنیٰ د بازار، مارکیټ، دا لفظ مذکر او مونث دواړه استعمالیږي ج اَسوَاق

السُّوق الدَّوْرِیَّةُ- چلېدلے بازار. ګشتي بازار

السُّوق الرَّاقِدَةُ- مندا بازار

السُّوق الْخَیْرِیّة- رفاهي بازار (خیراتي)

السُّوقُ السَوْدَاء- تور بازار (هغه بازار چې د سرکاري نرخ او اصولو خلاف اخیستل خرڅول پکښې وي)

السُّوْقُ الضَّعِیفة- کمزورے بازار

السُّوق الْقَوِیَّةُ- تیز مارکیټ

السُّوق الكَاسِدَةُ۔ ډل مارکيټ

السُّوقُ الحُبوب۔ غله مارکيټ

السُّوْق الذَّهَب۔ سروزرو مارکيټ ، صرافه بازار

السُّوق العَمَل۔ مزدور مارکيټ (کوم ځاي کښې چې مزدور ملاويږي)

السُّوْقِيُّ۔ بازاري ، د بازار والا، عام سړے ، معمولي سړے .

★★★

﴿الطَّائِرُ﴾

اَلْحَبْسُ لَيْسَ مَذْهَبِيْ — وَلَيْسَ فِيْهِ طَرَبِيْ

فَلَسْتُ اَرْضىٰ قَفَصًا — وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْ ذَهَب

غَابَاتُ رَبِّيْ غَايَتِيْ — وَالْعَيْشُ فِيْهَا مَطْلَبِيْ

قَدْ طَابَ فِيْهَا مَطْعَمِيْ — وَرَاقَ فِيْهَا مَشْرَبِيْ

اَذْهَبُ فِيْهَا اَسْتَقِيْ — مِنْ مَّاءٍ نَّبْعٍ اَعْذَب

اَصْدَحُ فِيْهَا مُطْلَقًا — فَالْحَبْسُ لَيْسَ مَذْهَبِيْ

(مَدَارِجُ الْقِرَاءَةِ)

ترجمه: ﴿مرغۍ﴾

قيد پاتي کيدل زما عادت نه دی — په دې کښې ځما خوشحالي نشته

زه پنجره نه خوښوم — اګر که سروزرو وي

زما د رب ځنګلونه زما انتهاده — او په دې کښې ژوند تيرول زما مقصد دې

په دې کښې زما دخوراك وي — او په دې زما د څښاك ډير ښه دی

زه په دې کښې اوبه لټوم — د چيني خوږې اوبو نه

زه په کښې په آزاده چغېږم — بس قيدپاتي کيدل زما عادت نه دې

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

اَلطَّائِرُ- په معنیٰ د مرغۍ. ج طُيُور

اَلْحَبْسُ- په معنیٰ د قيد . ج حُبُوس

مَذْهَبِيْ- صيغه واحد بحث اسم ظرف از باب "ف" په معنیٰ د طريقه ، عادت .

قَفَصًا- په معنیٰ د پنجري ج اَقْفَاصْ

مَطْلَبِيْ- په معنیٰ د مقصود ج مَطَالِب

رَاقَ- صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب "ن" پاك صفا كيدل .

اَسْتَقِيْ- صيغه واحد متكلم فعل مضارع معروف از باب افتعال . اوبه غوښتل .

نَبْعٍ- اسم مصدر از باب "ن ، س ، ك "د چيني نه اوبه جاري كيدل .

اَعْذَبُ- صيغه واحد بحث اسم تفصيل از باب "ك" خوږيدل.

اَصْدَحُ- صيغه واحد متكلم فعل مضارع معروف ازباب "ف" چغېدل .

مُطْلَقًا- صيغه واحد بحث اسم مفعول از باب افعال . آزادول ، پريښودل.

فائده :د مطلقًا د نصب وجه دا ده چې د دې نه مخكښې مصدر صَدْحًا محذوف دی ، چې دې اصلاح فعل مفعول مطلق دې او مطلقا د هغې صفت دې .

﴿نوي لغات﴾

النَّبْعُ .(۱) چينه (۲) د غره په څوكه كښې تو كيدونكي ونه چې د هغې د لرګي نه غشي او كمان جوړيږي .

د دې لفظ استعمال: فُلَانٌ صليب النَّبع . فلاني سخت مزاج يا مستقل مزاج

وي.هُوَ مِنْ نَبْعَةٍ كَرِيْمَةٍ . هغه شريف او لوړ نسب والا دے .

الطَّرَبُ .د خوشحالي نه د پاڅيدو كيفيت . مستي ، بے خودي ، انتهائي خوشحالي ، وجه د خوشحالي او غم له وجې په وجود كښې اضطراري حالت.

فائده:دا لفظ اكثراً د خوشحالئ په موقع استعماليږي .

الطُّروب: ډير خوشحاله . مست ، بے خود . ډير زيات خوشحاله ج طِرابٌ

علبة الكبريت- د ماچس ډبے .

عودُ الكبريت- د ماچس تيلے .

المنديل الورقية-ټيشو پيپر (كاغذي رومال)

★★★

﴿ نُزْهَةٌ وَطَبْخٌ ﴾

كَانَ يَوْمُ الثُّلَاثَاءِ الْمَاضِي يَوْمَ عُطْلَةٍ فِي الْمَدْرَسَةِ ، جَاءَ إِلَيَّ دَاؤُدُ صَبَاحًا وَّقَالَ: أَلْيَوْمُ يَوْمُ الْعُطْلَةِ ، أَلَا نَخْرُجُ إِلَىٰ بُسْتَانٍ ، أَوْ مَكَانٍ فِي ضَوَاحِي الْمَدِيْنَةِ نَرْتَعُ وَنَلْعَبُ ، وَنَطْبَخُ مِنَ الطَّعَامِ مَا نَشْتَهِي وَنَأْكُلُ ، وَنَرْجِعُ فِي الْمَسَاءِ ، قُلْتُ : هُوَ كَذٰلِكَ ! وَأَنَا كُنْتُ أُفَكِّرُ أَيْضًا كَيْفَ أَقْضِي هٰذَا الْيَوْمَ ، وَلٰكِنْ كَلِّمْ أَخَاكَ سُلَيْمَانَ وَالْأَخَ هَاشِمًا وَالسَّيِّدَ عُمَرَ لَعَلَّهُمْ يَخْرُجُوْنَ مَعَنَا۔

﴿ سيل او پخلے ﴾

ترجمه:

تيرې سه شنبې په ورځ مدرسه رخصت ده ، د سهار په وخت داؤد ماله راغلے او وې وئيل چې نن ورځ رخصتي ده . راځه چې چيرته باغ ته او ياد ښار په چار اطراف كوم نزدې ځاي ته لاړ شو . خوراك به اوكړو لوبې به اوكړو او څه چې مو خوښ شول هغه به پوخ كړو او به يې خورو او مابنام به بېرته راشو . ما ورته اووئيل چې زه هم په همدې فكر كښې وؤم چې دا!

ورځ ځنګه تېره کړو . خو ته د خپل ورور سلیمان او هاشم ورور او عمر صاحب سره هم خبره اوکړه کیدې شي چې هغوي هم زمونږ سره لاړشي.

﴿ د الفاظو تحقیق ﴾

نُزْهَةٌ ـ په معنیٰ د سیل تفریح ج نُزَهٌ يَوْمُ الثُّلَاثَاءِ . سه شنبي ورځ

ضَوَاحِيْ ـ په معنیٰ د غاړه . طرف . مفرد ضَاحِيَةٌ .

نَشْتَهِيْ ـ صیغه جمع متکلم فعل مضارع معروف از باب افتعال . غوښتل ، خواهش کول .

كَلِّمْ ـ صیغه واحد مذکر حاضر فعل امر از باب تفعیل . خبري کول .

﴿ د السَّيِّد لفظ وضاحت ﴾

په معنیٰ د (۱) مالك (۲) بادشاه (۳) آقا د چاچې غلامان او نوکران وي . (۴) د لوي جماعت منتظم او متولي (۵) هر واجب الاطاعت سړے (٦) د نبي اکرم ﷺ نسل یعني د حضرت فاطمهؓ د اولاد سره تعلق لرونکے هرنفر (۷) په نني وخت کښې هر عزت مند سړي له استعمالیږي لکه د مسټر یا صاحب په ځاي اووئیلے شي السید فلان (۸) د هر یو څیز لوړ او پورته لکه چې اووئیلے شي القرآن سید الکلام د ده جمع سَادَةٌ او سَيَائِدُ دے کله مرکب هم استعمالیږي د مثال په توګه .

سَيِّدُ الْبَشَر . حضرت آدمؑ

سيّد النَّفس . خود مختار (د خپل ځان مالك)

د سید مؤنث :

السَّيِّدَةُ : صاحبه ، د صاحبي په ځاي ، میډم ، لیډي ، مس ، محترمه ، زنانه ج سيّدات .

★★★

وَافَقَ دَاؤُدُ عَلَىٰ ذٰلِكَ وَكَلَّمَهُمْ ، وَفَرِحُوْا جِدًّا وَجَاء وا اِلَىٰ بَيْتِي مِنْ سَاعَتِهِمْ وَصَدِيْقُنَا خَالِدٌ فَفَرِحْنَا بِهٖ وَقُلْنَا : مَرْحَبًا۔

اِجْتَمَعْنَا وَقُلْنَا : هَلْ نَقْصِدُ بُسْتَانًا مِّنْ بَسَاتِيْنِ الْمَدِيْنَةِ اَوْ نَتَوَجَّهُ اِلَىٰ ضَاحِيَةٍ مِّنْ ضَوَاحِي الْمَدِيْنَةِ۔

ترجمه :.داؤد راسره اومنله او هغه تېولو سره ئې خبره اوکړه . هغوي ډېر خوشحاله شول او زما کور ته راغلل او زمونږ ملګرے خالد هم راغلے . د هغې په راتګ سره مونږ ډېر خوشحاله شو او هغې هرکلے اوکړو مونږ ټول جمع شول او سوچ مو اوکړو چې د ښار باغونو کښې کوم باغ ته لاړ شو یا د ښار په اطرافو کښې کوم طرف ته لاړ شو .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

وَافَقَ۔ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب مفاعله . موافقت كول .

مَرْحَبًا۔په معنىٰ د هركلي ، دفعل محذوف د مفعول مطلق د صفت په سبب منصوب دي .

اِجْتَمَعْنَا۔ صيغه جمع متكلم فعل ماضي معروف از باب افتعال. يو ځاي كيدل.

نَتَوَجَّه۔صيغه جمع متكلم فعل مضارع معلوم از باب تفعل .اراده كول ، طرف ته تلل

★★★

قَالَ دَاؤُدُ وَعُمَرُ : بَلْ نَقْصِدُ الْبُسْتَانَ الْكَبِيْرَ فِيْ وَسْطِ الْمَدِيْنَةِ ، فَاِنَّ الْبُسْتَانَ قَرِيْبٌ فَلَا يَضِيْعُ وَقْتُنَا فِي الذَّهَابِ اِلَىٰ ضَاحِيَةٍ مِّنْ ضَوَاحِي الْبَلَدِ۔

وَقَالَ سُلَيْمَانُ وَهَاشِمٌ وَاَنَا مَعَهُمَا : بَلْ نَتَوَجَّهُ اِلَى الضَّوَاحِي لِاَنَّا نُرِيْدُ اَنْ نَطْبَخَ الطَّعَامَ وَنَقْضِيَ النَّهَارَ فِي النُّزْهَةِ وَالطَّبْخِ۔

فَاسْتَقَرَّ رَأْيُنَا عَلَى الذَّهَابِ اِلَى الضَّاحِيَةِ فَاكْتَرَيْنَا مَرْكَبَةً وَوَصَلْنَا مِنْ سَاعَتِنَا اِلَى الضَّاحِيَةِ۔

ترجمه :.داؤد او عمر اووئيل چې مونږ به هغه غټ باغ ته لاړ شو چې د ښار په مينځ کښې دې ، هلته د تګ پروګرام جوړ کړئ ځکه چې هغه باغ نزدې دې ، او د ښار اطرافو ته چې کوم وخت ضائع کېږي هغه به ضائع نشي .سليمان او هاشم دا نظر ورکړو او زما هم دا رائے ده چې د ښار کومې غاړې ته به لاړ شو ځکه چې مونږ خو پخلے کوؤ او بل دا چې مونږ به ورځ په سېل وتفريح او پخلي باندې تيره کړو .

د ښار غاړې طرف ته د تګ فېصله اوشوه . بيا مونږ يو ګاډے په کرائې کړو او په هم هغه وخت د ښار غاړې ته اورسېدو .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

لَا يَضِيعُ۔ صيغه واحد مذکر غائب فعل مضارع منفي معلوم از باب "ض" ضائع کېدل .

فَاسْتَقَرَّ۔ صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم از باب افتعال . مقررول . ايسارول .

فَاكْتَرَيْنَا۔صيغه جمع متکلم فعل ماضي معروف از باب افتعال . په کرائې کول .

مَرْكَبَةٌ۔ په معنىٰ د سورلئ ج مَرَاكِيبُ

وَصَلْنَا۔ صيغه جمع متکلم فعل ماضي معلوم از باب "ض" رسېدل.

﴿ د وسط لفظ تشريح ﴾

وَسْط سکون السين .مينځ لکه جَلَسَ وَسْط القوم . هغه د خلکو مينځ کښې کيناستو . وَصَلَ اِلىٰ وَسْط الجُموع . هغه د هجوم مينځ ته اورسېدو.

وَسَطَ . بفتح السين (١) د يو شي مرکز . منځنئ برخه .

(٢) هر معتدل او متوسط شې . شَئٌ وَسَطٌ معتدل او متوسط درجه څيز . منځني درجې څيز .

(٣) د دوو غاړو منځ برخه اګر که بالکل منځ نه وي.

(۴) عدل او انصاف .

(٥) تاکلے او غوره . قرآن پاك کښې دي .وَكَذَالِكَ جَعَلْنَاكُمْ اُمَّةً وَسَطًا۔

ترجمه : او همدارنګه مونږ تاسو منتخب او غوره امت جوړ کړئ .

(٦) مرکزي

(٧) منځنے ، بين بين لکه هو من وَسَط قومِه . هغه د خپل قوم تاکلے نفر دے .

(٨) ماحول

(٩) حلقه ، دائره ، د عمل ميدان ج اَوْسَاط

﴿ د وسط لفظ نور استعمال ﴾

الوُسْطىٰ۔ د اوسط تانيث په معنىٰ د منځ ګوته

الصَّلَاةُ الوُسْطىٰ۔ د مازيګر مونځ چې د ورځې او شپې د مونځ په مينځ کښې راځي.

اَلْاَوْسَاطُ الاَدَبِيَّة۔ ادبي حلقې

اَلْاَوْسَاطُ التِّجارية۔ تجارتي حلقې

اَلْاَوْسَاطُ الدِّيْنيّة۔ ديني حلقې

اَلْاَوْسَاطُ العِلْمِيّة۔ علمي حلقې

وَكُنَّا اَخَذْنَا مَعَنَا الرُّزَّ وَاللَّحْمَ وَالتَّوابِلَ وَالسَّمْنَ وَ الْخُضَرَ وَاَخَذْنَا قِدْرَيْنِ وَاَوَانِيَ ، وَكُنَّا عَلِمْنَا اَنَّ فِي الْمَحَلِّ خَبَّازًا فَقُلْنَا نَشْتَرِى الرَّغِيْفَ فَاِنَّ الرَّغِيْفَ فِيْهِ تَعَبٌ۔ اِخْتَرْنَا مَكَانًا ظَلِيْلًا وَّكَانَ السَّيِّدُ عُمَرُ وَالسَّيِّدُ هَاشِمٌ يُّحْسِنَانِ الطَّبْخَ فَتَوَلَّيَا اَمْرَ الطَّبْخِ وَسَاعَدَهُمَا دَاوُدُ وَ سُلَيْمَانُ۔

ترجمه:او مونږ خپل ځان سره وريجي ، غوښه ، مصالحه ، غوړي او سبزي اخيستي وه ، او دوه ديګچي او څه لوخي هم وؤ . او مونږ ته دا مخکښي نه معلومه وه چې هلته نان بائي شته نو ځکه مونږ سوچ اوکړو چې ډوډئ به هم هلته نه واخلو ځکه روټۍ پخلو کښې پريشاني وه . مونږ د يو سوري ځاي وټاکلو عمر صاحب او هاشم صاحب په ښه پخلي پو هيدل او دواړو د پخلي ذمه واري واخيسته داؤد او سليمان د هغې دواړو کومك کوؤ.

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

الرُّزُّ په معنیٰ د وريجي . ج اُرُزٌّ

اللَّحْمُ په معنیٰ د غوښي ج لُحُوم

التَّوابِلُ مصالحه مفرد . تَابِلٌ

اَلسَّمْنُ غوړي ، تيل ج سُمُون

قِدْرَيْنِ تثنيه دولوخي ، مفرد قِدْرٌ ج قُدُوْرٌ

المَحَلّ صيغه واحد بحث اسم ظرف از باب "ض" ځاي ج مَحَالٌ

خَبَّازًا په معنیٰ د نانبائي ، ډوډئ پخونکے ، تندوري ، روټۍ خر څونکے

الرَّغِيْفُ په معنیٰ د چپاتئ ، روټۍ ج اَرْغِفَةٌ

اخْتَرْنَا صيغه جمع متکلم فعل ماضي معلوم از باب افتعال . منتخب کول . مقررول .

يُحْسِنَانِ صيغه تثنيه مذكر غائب فعل مضارع معروف از باب افعال. ښه كول.

وَتَوَلَّيْتُ اَمْرَ الْحَطَبِ فَذَهَبْتُ اِلَى الْغَابَةِ الْقَرِيْبَةِ وَ جِئْتُ بِالْحَطَبِ مِنْ سَاعَتِيْ، وَدَقَّ خَالِدُ التَّوَابِلَ وَذَهَبْتُ اَنَا اِلَى الْخَبَّازِ فَاشْتَرَيْتُ الْاَرْغِفَةَ۔

وَاَدْرَكَ الطَّعَامُ فِي السَّاعَةِ الْحَادِيَةَ عَشَرَةَ، وَقَدْ غَلَبَنَا الْجُوْعُ وَاشْتَهَيْنَا الطَّعَامَ فَاَكَلْنَا بِرَغْبَةٍ، وَكَانَ الطَّعَامُ شَهِيًّا لَّذِيْذًا۔

ترجمه :او د لرګيو جمع كولو ذمه واري ما واخيسته . او نزدې ځنګل ته لاړم او په هم هغه وخت مې لرګي راوړل او خالد مصالحه نرئ كړه او زه نانبائي ته لاړم او ډوډۍ مې واخيستې ، يولس بجو پورې ډوډۍ تياره شوه . مونږ هم ډير وږي شو او د خوړلو شوق پيدا شو . بيا مونږ ښه په مينه اوخوړله . خواړه ښه مزيدار او خونده ور وؤ .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

الْحَطَبُ په معنیٰ د لرګيو خشاك ج اَحْطَاب

وَدَقَّ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب "ن" ټكول.

شَهِيًّا په معنیٰ د خوښ ، پسنديده.

وَجَلَسْنَا نَتَحَدَّثُ حَتّٰى كَانَ وَقْتُ الظُّهْرِ فَاَذَّنْتُ وَصَلَّيْنَا جَمَاعَةً۔ وَخَرَجْنَا بَعْدَ الصَّلَاةِ نَزُوْرُ بَعْضَ الْآثَارِ وَفِي الْعَصْرِ رَجَعْنَا اِلَى الْبَلَدِ مَسْرُوْرِيْنَ۔

ترجمه :او مونږ كيناستو خبرې مو كولې ، تر دې چې د ماسپښين وخت شو نو ما اذان اوكړو او مونږ ټولو په جمع مونځ اوكړو . مونځ كولو نه وروسته مونږ لرغوني آثارو (آثار قديمه) كتلو ته لاړو . او مازيګر وخت كښې مونږ خوشحاله بېرته ښار ته راغلو .

★★★

﴿د الفاظو تحقيق﴾

فَاَذَّنْتُ- صيغه واحد متكلم فعل ماضي معروف از باب تفعيل . اذان كول ، اطلاع وركول .

اَلْاٰثَارُ- په معنیٰ د علامت ، نښه ، مفرد اثر

مَسْرُوْرِيْن- صيغه جمع مذكر بحث اسم مفعول از باب "ن" خوشحاليدل.

فائده :مسرورين حالت نصبي دي د حال كېدو په بناء .

﴿نوي لغات﴾

رِحْلَةٌ خَلَوِيَّةٌ-	پكنك (تفريح)
مِنْطَقَةٌ رَائِعَةٌ-	شانداره ځاي
اَلنَّسِيْمُ الْجَمِيْلُ-	ښائسته هوا
مَكْتَبُ السِّيَاحَةِ-	ټورسټ آفس (د تفريح دفتر)
المتحَفُ-	ميوزيم (عجائب گهر)
قَصْرٌ مَلِكِيٌّ-	د بادشاه بنګله
سَيَّارَةُ اُجْرَةٍ-	ټيكسي (په كرايه اخيستے موټر)
جَدْوَلُ الْمَوَاعِيد-	ټائم ټيبل (تقسيم اوقات)
رُسُوم الدُّخُول-	د داخلي فيس .

﴿مَنْ يَّمْنَعُكَ مِنِّيْ﴾

خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم فِيْ غَزْوَةٍ : هَلْ تَعْرِفُوْنَ مَا هِيَ الْغَزْوَةُ ؟ لَعَلَّكُمْ تَعْلَمُوْنَ اَنَّ الْمُسْلِمِيْنَ كَانُوْا يَخْرُجُوْنَ لِلْجِهَادِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَكَانُوْا يُقَاتِلُوْنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَالْكُفَّارَ لِوَجْهِ اللّٰهِ تَعَالٰى وَلَعَلَّكُمْ تَعْلَمُوْنَ فَضِيْلَةَ الْجِهَادِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؟ وَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَخْرُجُ اَحْيَانًا مَّعَ الْمُسْلِمِيْنَ وَاَحْيَانًا يَّمْكُثُ فِي الْمَدِيْنَةِ لِشُغْلٍ اَوْ

مَصْلَحَةٍ وَّيَبْعَثُ جُنْدًا مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ۔

ترجمه : **﴿تابه زما نه خوك خلاص كړي﴾**

حضور اقدس ﷺ يوي غزوي له تشريف يوړو . آيا تاسو ته معلومه ده چې غزوه څه شے وي ؟ شايد چې تاسو ته معلومه وي چې مسلمانان به د الله په لار كښې جهاد ته وتل . او مشركينو او كفارو سره به ئې جهاد كولو او شايد چې د الله په لار كښې جهاد كولو فضيلت تاسو ته معلوم وي . او نبي ﷺ به بعضې وخت مسلمانانو سره وتلو . او كله به د كوم كار يا د مصلحت په خاطر په مدينه كښې قيام كولو . او مسلمانانو كښې به ئې يو لښكر ليږلو .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

غَزْوَةٌ : هغه د جهاد لښكر چې په هغې كښې به نبي كريم ﷺ پخپله تشريف وړلو د صحابه كرامو سره . ج غزوات .

لِلْجِهَادِ . اسم مصدر ، د اعلاء كلمة الله لپاره ټول قوت په كار اچول ، جهاد كول.

يُقَاتِلُوْنَ . صيغه جمع مذكر غائب فعل مضارع معروف از باب مفاعله. وژنه.

الْمُشْرِكِيْن . صيغه جمع مذكر بحث اسم فاعل از باب افعال شرك كرنا. مفرد مُشرك .

اَلْكُفَّار . كفر كونكے مفرد كافر (جمع مكسر)

اَلْوَجْهَة . رضامندي ، مخ ، ج وُجوهٌ

يَمْكُثُ.صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معلوم از باب "ن" اودريدل، ايساريدل .

يَبْعَثُ . صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع از باب "ف" ليږل .

جُنْدًا. په معنىٰ د لښكر . قافله ج جنود ، اجناد

﴿ الفضيلة د لفظ تفصيل ﴾

الفضيلة : (۱) د ښه اخلاقو لوړه درجه (د دې چپه رذيل دې) ښه والې .

اخلاق، لوړوالی ، لوړ کردار ، لوړه مرتبه . امتيازي صفت

(۲) ترجيح ، برتری ، فوقيت

(۳) فراغت ، وفاضل سند ج فَضَائل

فائده : امهات الفضائل . په معنیٰ د بنيادي فضائل . د دې اطلاق په څلور صفتو کيږي

(۱) حکمت (۲) عفت (پاکدامني) (۳) بهادری (۳) انصاف .

★★★

فَالْغَزْوَةُ مَاخَرَجَ فِيهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم فِیْ جُنْدٍ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ لِلْجِهَادِ فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ نَعَمْ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم فِیْ غَزْوَةٍ وَّرَجَعَ عَنْهَا فِی الظَّهِيْرَةِ وَكَانَتْ اَيَّامُ الصَّيْفِ فَاَرَادَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم اَنْ يَّسْتَرِيْحَ ، وَلَيْسَ فِی الْبَرِّيَّةِ مَكَانٌ يَّسْتَرِيْحُ فِيْهِ الْاِنْسَانُ اِلَّا الشَّجَرُ۔

ترجمه : پس غزوه هغه ده چې په هغې کښې رسول الله ﷺ د مسلمانانو کوم يو لښکر سره د الله په لاره کښې جهاد ته تللے وي ، هو . نو رسول الله ﷺ يو غزوې له تشريف وړے وؤ او ماسپښين په وخت کښې د هغې نه بيرته راؤګرځيدلو د اوړي موسم وؤ ، نو نبي ﷺ د اٰرام کولو اراده وکړه او په ځنګل کښې د ونې نه بغير داسې ځاې نه وؤ چې هلته انسان آرام اوکړے شي .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

الظَّهِيْرَة په معنیٰ د ماسپښين ، نصف النهار ج ظَهَائِرُ

يَسْتَرِيْح صيغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم از باب استفعال ،

آرام کول.

البَرِيَّةُ- په معنیٰ د ځنګل ج بَرارى

★★★

وَلَيْسَ فِي الْبَرِيَّةِ فِي بِلَادِ الْعَرَبِ شَجَرٌ كَثِيرٌ وَلَيْسَ فِيهَا إِلَّا السَّمُرُ-

فَنَزَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم تَحْتَ سَمُرَةٍ وَّعَلَّقَ بِهَا سَيْفَهُ، وَتَفَرَّقَ النَّاسُ وَنَامُوْا؛ وَنَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم تَحْتَ السَّمُرَةِ-

وَجَاءَ رَجُلٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَسَيْفُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم مُعَلَّقٌ بِالسَّمُرَةِ وَهُوَ فِي غِمْدِهٖ فَأَخَذَ الْمُشْرِكُ السَّيْفَ وَسَلَّهٗ مِنْ غِمْدِهٖ وَاسْتَيْقَظَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم-

ترجمه :او د عربو په خاوره کښې په ځنګلونو کښې دومره ډير بوټي نه وؤ په دې ځنګلونو کښې به صرف د کيکر بوټي وؤ . نو رسول الله ﷺ د يو بوټي لاندے کوز شو او خپله توره ئې بوټي ته ځوړنده کړه . صحابه کرامؓ هم بيل بيل اوده شول . او رسول الله ﷺ هم د کيکر د بوټي لاندي اوده شو، د مشرکينو نه يو سړے راغلے او رسول الله ﷺ توره کيکر ته ځوړنده وه، او توره په تيکي کښې وه ، مشرك توره راوچته کړه او توره ئې د تيکي نه راويسته . او رسول الله ﷺ رابيدار شو .

«د الفاظو تحقيق»

السَّمُرُ په معنیٰ د ببول بوټي (کيکر) ج أَسْمُر

عَلَّقَ صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب تفعيل. ځوړندول .

سَيْفَهٗ په معنیٰ د توره ، ج سُيُوف، أَسْيَاف

مُعَلَّقٌ صيغه واحد مذكر بحث اسم مفعول از باب تفعيل، ځوړندول

غِمْدِهٖ په معنیٰ د تیکي (نیام) ج غُمُوْدٌ

سَلَّهٗ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب "ن" توره د نیام نه بهر راویستل.

اِسْتَیْقَظَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب "استفعال" بیداریدل، پاڅیدل

★★★

فَقَالَ الْمُشْرِكُ وَالسَّیْفُ مَسْلُوْلٌ فِیْ یَدِهٖ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ: تَخَافُنِیْ؟

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: لَا!

قَالَ الْمُشْرِكُ: مَنْ یَّمْنَعُكَ مِنِّیْ؟

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: اَللّٰهُ!

فَسَقَطَ السَّیْفُ مِنْ یَّدِ الْمُشْرِكِ فَاَخَذَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ السَّیْفَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِلْمُشْرِكِ: مَنْ یَّمْنَعُكَ مِنِّیْ؟

ترجمه: نو مشرك په داسې حال کښې که توره ئې لاس کښې نیولې وه. رسول الله ﷺ ته اووئیل ته زمانه یریږې؟ حضور اقدس ﷺ وفرمائیل "نه" نو مشرك اووئیل تا به څما نه څوك خلاص کړي؟ حضور ﷺ اووئیل "الله" پس د مشرك د لاس نه توره اوغورځېده. رسول الله ﷺ توره راوچته کړه نو بیا ئې د مشرك نه تپوس اوکړو تا به زما نه څوك خلاص کړي؟

﴿ د الفاظو تحقیق ﴾

مَسْلُوْلٌ صیغه واحد مذکر بحث اسم مفعول از باب "ن" راویستل.

سَقَطَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب "ن" لویدل

یَدٌ په معنیٰ د لاس ج اَیْدِیْ

فَقَالَ الْمُشْرِكُ : كُنْ خَيْرَ آخِذٍ ؟

فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم : اَتَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ؟

قَالَ الْمُشْرِكُ : لَا ! وَلٰكِنِّيْ اُعَاهِدُكَ عَلٰى اَنْ لَّا اُقَاتِلَكَ وَلَا اَكُوْنَ مَعَ قَوْمٍ يُّقَاتِلُوْنَكَ !

فَخَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم سَبِيْلَهٗ۔

فَاَتَى الْمُشْرِكُ اَصْحَابَهٗ فَقَالَ : جِئْتُكُمْ مِّنْ عِنْدِ خَيْرِ النَّاسِ۔

ترجمه : نو مشرك جواب وركړو چې تاسو ښه نيونكي شئ . حضور ﷺ ورته اوفرمائيل "آيا ته د دې ګواهي وركوې چې د الله تعالىٰ نه بغير بل معبود نشته او زه د الله تعالىٰ رسول يم " مشرك جواب وركړو "نه " خو زه تاسره دا وعده كووم چې زه به تاسره جنګ نه كووم او نه به تاسره د جنګ كونكي مدد كووم ، نو رسول الله ﷺ د هغه سړي لار پرېښوده . بيا هغه مشرك خپلو ملګرو خوا ته لاړو او وئې وئيل " چې زه تاسو ته په خلكو كښې د ټولو نه غوره سړي د خوا نه راغلم "

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

كُنْ صيغه واحد مذكر حاضر فعل امر از باب "ن" كېدل

خَيْرٌ په معنىٰ بهتر .

آخِذٌ صيغه واحد مذكر بحث اسم فاعل از باب "ن" لينا

فَخَلّٰى صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب تفعيل. لار پرېښودل ، جداوالے اختيارول.

اَتٰى صيغه واحد مذكر غائب فعل معلوم از باب "ض" راتلل.

★★★

﴿نوي لغات﴾

اَلْحَرْبُ جنګ

فائده: دا لفظ مونث سماعي استعماليږي، او کله په معنیٰ د قتال مذکر هم استعماليږي ج حُرُوب۔

اَلْحَرْبُ الْاَهْلِيَّةُ۔ خانه جنګي، داخلي جنګ

اَلْحَرْبُ الْبَارِدَة۔ سوړ جنګ (چې په هغې کښې هريوا ړخ د مخامخ جنګ په ځاي به مکر و چالاکي سره يو بل ته نقصان رسولو چل جوړوي)

رَجُلٌ حَرْبٌ۔ بهادر. جنګي.

اَلْحَرْبِيُّ۔ جنګي، فوجي

اَلْمَدْرَسَةُ الْحَرْبِيَّةُ۔ ملټري سکول

وَزِيْرُ الْحَرْبِيَّةُ۔ د جنګ وزير

★★★

﴿سَفَرُ الْقِطَارِ﴾

لَا اَنْسیٰ سَفَرِی الْاَوَّلَ، عَلِمْتُ اَنِّیْ مُسَافِرٌ بُکْرَةً مَعَ اُمِّیْ وَاِخْوَتِیْ، فَاسْتَیْقَظْتُ قَبْلَ السَّحَرِ وَبَقِیْتُ اَنْتَظِرُ سَاعَةَ السَّفَرِ، وَاسْتَیْقَظَ اَهْلُ الْبَیْتِ مُبَکِّرِیْنَ، وَصَلَّیْنَا الصُّبْحَ، وَجَاءَ عَمِّیْ وَبَدَاَتْ فِی الْبَیْتِ حَرَکَةٌ وَّ اَصْوَاتٌ، هٰذَا یَجْرِیْ وَذٰلِكَ یَلُفُّ الْفِرَاشَ، وَهٰذَا یُنَادِیْ۔

ترجمه: ﴿د ريل ګاړي سفر﴾

زه به خپل اولنے سفر هېر نکړم ماته پته اولګېده که سبا سهار وختي به خپلې مور او ورونو سره سفر کووم، نو زه د سبا صادق نه مخکښې راپېدار شوم. او د سفر د وخت انتظار مې کولو او پاتي کورنۍ کسان هم سهار

وختي بېدار شول . او مونږ د سهار مونځ اوکړو . په دې کښې زما تره راغلے او په کور کښې تک راتک اوشور شروع شو . رامنډې وهي ، هغه بستره تولوي او دا آواز کوي .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

اَلْقِطَارُ په معنىٰ د ريل ګاړي ج قُطُر

لَا اَنْسَى صيغه واحد متكلم فعل مضارع معلوم منفي ازباب "س" هيرول

السَّحَرُ د سهار نه لږ مخکښې ، د پشلمي وخت ج اَسْحَار

عَمٌّ په معنىٰ د تره . ج اَعْمَامٌ

بَدَاَتْ صيغه واحد مؤنث غائب فعل ماضي معروف از باب "ف" شروع كول.

حَرَكَةٌ اسم مصدر از باب "ك" خوځول ، نقل وحركت

اَصْوَاتٌ په معنىٰ د آواز مفرد صَوْتٌ

يَلُفُّ صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معلوم از باب "ن" راتولول

اَلْفِرَاشُ بستره ج فُرُشٌ

يُنَادِيْ صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معلوم ازباب مفاعله. راغوښتل ، آواز وركول

★★★

وَذٰلِكَ يُجِيْبُ ، وَالْعَمُّ يَغْضَبُ وَيَسْتَعْجِلُ ، وَالْوَالِدُ قَائِمٌ يَأْمُرُ وَيَنْهٰى ، وَيَغْضَبُ وَيُرْشِدُ ، وَالْخَادِمُ يُهَيِّيءُ الزَّادَ ، حَتّٰى كَانَ وَقْتُ الْخُرُوْجِ مِنَ الْبَيْتِ وَقَرُبَ مِيْعَادُ الْقِطَارِ۔

ترجمه :او هغه جواب وركوي . او تره غصه كيږي او جلدي كوي او پلار محترم په ولاړه حكمونه وركوي او منع كول كوي او غصه كيږي او

لاربښوونه کوي او نوکر د سفر سامان تياروي تر دې چې د کور نه د وتلو وخت شو او د ريل ګاړي وخت راورسېدو .

﴿د الفاظو تحقيق﴾

يَغْضَبُ صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معلوم از باب "س" غصه کيدل.

يَسْتَعْجِلُ صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معلوم از باب استفعال . تُندي کول .

يُهَيِّيءُ صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معلوم از باب تفعيل.تيارول

الزَّادُ د سفر سامان ، توښه ج أَزْوِدَةٌ

مِيْعَادُ صيغه واحد بحث اسم ظرف از باب "ض" مقرره وخت

★★★

جَاءَتْ مَرْكَبَتَانِ فَرَكِبْنَاهُمَا ، وَسَلَّمْتُ عَلَىٰ اَبِيْ فَوَدَّعَنِيْ وَدَعَالِيْ ، وَوَصَلْنَا اِلَى الْمَحَطَّةِ فَاَخَذَ الْحَمَّالُوْنَ الْحَوَائِجَ وَالْمَتَاعَ ، وَكَانَتْ اَيَّامُ شِتَاءٍ فَكَانَتِ الْفُرُشُ كَبِيْرَةً ، وَذَهَبَ عَمِّيْ فَاشْتَرَىٰ تَذَاكِرَ الْقِطَارِ

وَسَاَلْتُ عَمِّيْ عَنِ النَّوْلِ فَقَالَ : اِنَّ النَّوْلَ ثَلَاثُ رُبِّيَاتٍ ، وَرُبِّيَةٌ وَّنِصْفٌ لَّكَ

ترجمه :دوه سورلۍ راغلي ، مونږ په هغه کښې سواره شو. ما خپل پلار ته سلام اوکړو هغه راته مخه ښه اووئيله او دعائې راته اوکړه . مونږ ستېشن ته اورسيدو مزدورانو سامان اوچت کړو . دا د ژمي موسم وؤ له همدې امله بستري غټې وې او زما تره لاړو او د ريل ټکټونه ئې واخيستل ما د خپل تره نه د کرائې په هکله تپوس اوکړو هغې راته اووئيل چې درې روپۍ کرائې ده او ستا کرائې دوه نيمې روپۍ ده .

﴿د الفاظو تحقيق﴾

وَدَّعَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب تفعيل رخصتول

اَلْمَحَطَّةُ په معنیٰ د سټيشن ج محطات

اَلْحَمَّالُوْنَ سامان اوچتونکے . قلی ، مفرد حَمَّال

تَذَاكِرَ په معنیٰ د ټکټ مفرد تذکره

النَّولُ په معنیٰ د کرايه

وَدَّعَ صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب تفعيل. رخصتول.

★★★

وَقُلْتُ لِعَمِّيْ: اَعْطِنِيْ تَذْكِرَتِيْ، فَقَالَ عَمِّيْ: اِنَّكَ تُضَيِّعُ تَذْكِرَتَكَ، فَقُلْتُ: لَا! سَاُحَافِظُ عَلٰى تَذْكِرَتِيْ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ، فَاَعْطَانِيْ تَذْكِرَتِيْ وَوَضَعْتُهَا عِنْدِيْ، دَخَلْنَا الْمَحَطَّةَ فَرَاَيْنَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَاءً وَّاَطْفَالًا، وَرَاَيْنَا زِحَامًا شَدِيْدًا وَّسَمِعْنَا اَصْوَاتَ النَّاسِ وَبُكَاءَ الْاَطْفَالِ وَصَيْحَةَ الْحَمَّالِيْنَ وَصَفِيْرَ الْقَاطِرَةِ۔

ترجمه: ماخپل تره ته اووئيل چې زما ټکټ راکړه . زما تره راته اووئيل چې ته به خپل ټکټ ورک کړې ، ما ورته اووئيل چې انشاء الله زه به د خپل ټکټ حفاظت اوکړے شم . نو هغه ماته ټکټ راکړو . ما د خپل ځان سره کېښودو . مونږ سټيشن ته داخل شو مونږ ډير سړي ښځې او ماشومان ولیدل او مونږ هلته د خلکو آوازونه ، د ماشومانو ژړا ، دقليانو چيغې او د انجن شپيلۍ واوريدل .

﴿د الفاظو تحقيق﴾

تُضَيِّعُ صيغه واحد مذکر حاضر فعل مضارع معروف از باب تفعيل.

ضائع کول.

نِسَاءً په معنیٰ د ښځه، مفرد امرأيٌ جمع خلاف قياس ده.

فائده : د نساء لفظ د مفعول به په وجه منصوب ده

النَّاسِ په معنیٰ د خلکو، سړي، جمع أُناس خلاف د قياس ده.

بُكَاءَ اسم، مصدر از باب "ض" ژړل

صَيْحَةَ اسم، مصدر ازباب "ض" شور

صَفِيْرَ په معنیٰ د شپېلي ج صُفُر

★★★

وَكَانَ قِطَارُنَا مُتَأَخِّرًا فَذَهَبْنَا إِلَى الْمَنْظَرَةِ وَجَلَسْنَا قَلِيْلًا، ثُمَّ جِئْتُ إِلَى الرَّصِيْفِ لِأَرَىٰ هَلْ جَاءَ الْقِطَارُ ثُمَّ رَجَعْتُ إِلَى الْمَنْظَرَةِ۔

وَبَعْدَ قَلِيْلٍ جَاءَ الْقِطَارُ فَخَرَجْنَا مِنَ الْمَنْظَرَةِ، وَقَامَ النَّاسُ كُلُّهُمْ عَلَى الرَّصِيْفِ وَوَقَفَ الْقِطَارُ، وَنَزَلَ أُنَاسٌ وَّرَكِبَ أُنَاسٌ وَّرَكِبْنَا۔

ترجمه :زموږ ګاړے د مقرر وخت نه وروستو وؤ، نو ځکه موږ مسافر خاني ته لاړو، لږ وخت هلته کېناستو. بيا په پليټ فارم باندې ګاړي کتلو ته راغلم. بيا واپس انتظار ګاه ته لاړم. لږ وروسته ګاړے راورسېدو. نو موږ ټول د انتظارګاه نه بهر راڅو. ټول مسافر په پليټ فارم اودرېدل. ګاړے اودرېدو څه خلك راښکته شول او څه اوښتل. او موږ سواره شو.

د الفاظو تحقيق

اَلْمَنْظَرَةِ په معنیٰ د انتظار ځاي، ج مناظر

قَلِيْلًا په معنیٰ د لږ، کم ج اَقِلَّاءُ (د مفعول به په بناء منصوب وي)

الرَّصِيْفُ په معنیٰ پليټ فارم. ج اَرْصِفَةٌ، رُصُفٌ

وَكَفَ صيغه واحد مذكرغائب فعل ماضي معروف ازباب "ض" اودريدل.

★★★

وَكُنْتُ أُطِلُّ مِنَ الْقِطَارِ وَأَرَى الْمَنَاظِرَ، وَكَانَ الزِّحَامُ شَدِيْدًا فِي الْقِطَارِ، وَجَاءَ الْبَاعَةُ وَجَعَلَ النَّاسُ يَشْتَرُوْنَ وَيَأْكُلُوْنَ، وَاشْتَرَىٰ بَعْضُ النَّاسِ مِنَ الْبَاعَةِ هَدَايَا لِأَصْدِقَائِهِمْ وَأَقَارِبِهِمْ۔

وَبَعْدَ قَلِيْلٍ صَفَرَ أَمِيْنُ الْقِطَارِ وَهَزَّ الْعَلَمَ الْأَخْضَرَ فَأَسْرَعَ النَّاسُ وَدَخَلُوْا فِي الْقِطَارِ، وَتَحَرَّكَتِ الْقَاطِرَةُ وَسَارَ الْقِطَارُ۔

ترجمه :او ما د ريل ګاړي نه بهرنے منظري كتلي ، او په ريل ګاړي كښې ډير زيات رش وؤ. يو لاس ګاړي والا راغلے او خلكو د هغې نه اخيستل او خوړل شروع كړل . بعضې خلكو د خرخونكي نه د خپل ملګرو او خپلوانو لپاره تحفې هم واخيستې . لږ وروسته ساتونكي شپيلئ اووهله شين بيرغ ئې وخوزاوه .نو خلكو تادي (جلدي) اوكړه او ريل ته سواره شو او انجن حركت اوكړو او ريل روان شو.

﴿د الفاظو تحقيق﴾

أُطِلُّ صيغه واحدمتكلم فعل مضارع معروف از باب افعال. كتل

اَلْبَاعَةُ څېزونه خرخونكے

هَدَايَا په معنىٰ د تحفه مفرد هديه

هَزَّ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف ازباب''ن''خوځول

اَلْعَلَمَ جهنډا ، بيرغ ، علامت ، نشان ج اعلام

فَأَسْرَعَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب افعال،تندي كول.

تَحَرَّكَتِ صيغه واحدمؤنث غائب فعل ماضي معروف ازباب تفعل.

حرکت کول.

وَدَخَلَ نَقَّابٌ فِيْ عَرَبَتِنَا فَنَقَبَ تَذَاكِرَنَا وَرَدَّهَ اِلَيْنَا۔ وَفِي الطَّرِيْقِ تَغَدَّيْنَا بِالزَّادِ وَاَكَلْنَا وَشَرِبْنَا وَحَمِدْنَا اللّٰهَ۔ وَلَمْ يَزَلْ يَقِفُ الْقِطَارُ عَلَى الْمَحَطَّاتِ وَيَسِيْرُ حَتّٰى وَصَلَ وَقْتُ الظُّهْرِ فَتَوَضَّانَا بِسُرْعَةٍ عَلَىٰ مَحَطَّةٍ وَّصَلَّيْنَا صَلَاةَ السَّفَرِ، صَلَّيْنَا الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ وَسَلَّمْنَا، وَصَفَرَ اَمِيْنُ الْقِطَارِ فَرَكِبْنَا سَرِيْعًا۔

ترجمه: زمونږ ډبي له يو ټي ټي راغلے او هغې زمونږ په ټکټونو کښې سورے اوکړو او بېرته ئې راکړ. او په لاره کښې مونږ د خپل توښې نه خوراك اوڅښاك اوکړو او د الله تعالیٰ حمد اوثناء اوکړه. همدارنګه ګاړے په سټېشنونو اودريدو او چلېدو تر دې چې د ماسپښين مانځه وخت شو. مونږ په يو سټېشن زر زر اودس اوکړو او ماسپښين مونځ مو اوکړو. د ماسپښين دوه رکعاته مو اوکړل او سلام مو اوګرځولو. ساتونکي شپلۍ اووهله نو مونږ په تندۍ سره سواره شول.

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

نَقَّابٌ صيغه واحد بحث اسم مبالغه از باب "ن" تحقيق او تفتيش کول

رَدَّ صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب "ن" واپس کول

رَكْعَتَيْنِ تثنيه، دوه رکعت مفرد. رَكْعَةٌ۔

﴿ د العربه لفظ تحقيق ﴾

العرَبة: (۱) تېز درياب

(۲) نفس، ځان

(۳) ګاړے، دوه يا درې يا څلور پايو والا

(۴) د دجله درياب جام شوي کشتۍ

(۵)ويګن، د ريل ګاړې ډبے.

﴿د عربه د لفظ د نورو لفظونو سره استعمال﴾

عَرَبَة سِكَّةِ الحديد:د ريل ګاړي ډبه، ويګن

عَرَبَةُ العَفْش- د سامان ګاړى ،ليګج ويګن

عَرَبَةٌ للجَرِّ- ټرالي ، سامان وغيره لپاره وړوکے ګاړے

عَرَبَةُ البَرِيد- د ډاك ګاړے ، ريل ګاړى کښې ميل مين

عَرَبَةُ الْاَكْل-د خوراك ګاړے ، ډائينګ کار

عَرَبَةُ الْاَمْتِعَةِ- سامان ، ډبے ، ليګج وين

عَرَبَةُ الصِّهْرِيج- د اوبو ټانکر

عَرَبَةُ الطَّعَام- د خوراكِ ډبے ، ډنر کار

عَرَبَةُ المستشفى- هسپتال ګاړے ، ايمبولينس ج عَرَبَاتٌ

★★★

وَقَالَ عَمِّى : لَوْ كَانَ الْقِطَارُ لِلْمُسْلِمِيْنَ لَكَانَ فِيْهِ مَكَانٌ لِّلْوُضُوْءِ وَلِلصَّلَاةِ، نُؤَذِّنُ فِيْهِ وَنُصَلِّى جَمَاعَةً-

وَفِي الْعَصْرِ وَصَلَ الْقِطَارُ اِلٰى مَحَطَّتِنَا، وَكُنْتُ اُطِلُّ مِنَ النَّافِذَةِ فَرَاَيْتُ هَاشِمًا وَّسَعِيْدًا عَلَى الرَّصِيْفِ وَ عَرَفْتُهُمَا وَسَلَّمْتُ عَلَيْهِمَا وَسَلَّمَا عَلَىَّ-

وَوَصَلْتُ اِلٰى قَرْيَتِىْ وَقَابَلْتُ اَصْدِقَائِىْ وَاِخْوَانِىْ وَ جَعَلْتُ اُحَدِّثُهُمْ حَدِيْثَ الْبَلَدِ وَاُخْبِرُهُمْ بِعَجَائِبِهٖ وَاَحْكِىْ لَهُمْ مَا رَاَيْتُ فِى السَّفَرِ-

ترجمه: ځما تره اووئيل که دا ريل ګاړے د مسلمانانو وے، نو په ديکښې به د اودس کولو او مونځ کولو ځاې وے. مونږ به په دې کښې اذان کړے وے او باجماعت مونځ به مو کړے وے. ګاړے ځمونږ استيشن ته

ماز یګر وقت کښې اورسیدو ، ما د کهړکۍ نه بهر کتل ، هاشم او سعید مې په پلیټ فارم اولیدل . ما هغوي اوپیژندل او سلام مې ورته اوکړو. هغوي ماته سلام اوکړو . څه کلي ته اورسیدم ، او خپل رونړو او دوستانو سره ملاؤ شوم . او هغوي ته مې د ښار خبرې شروع کړې . او ښار ناآشنا ناآشنا خبرې مې ورته اوکړې . او د سفر په دوران کښې چې مې څه لیدلي وو نو هغه مې ورته هم بیان کړل .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

النَّافِذَةُ پـه معنیٰ د کهړکۍ ج نَوَافِذ

قَابَلْتُ صیغه واحد متکلم فعل ماضي معروف از باب مفاعله .ملاقات کول

اَحْكِيْ صیغه واحد متکلم فعل مضارع معروف ازباب "ض" بیانول

السَّفَرَ په معنیٰ د حالت د سفرج اَسْفَارٌ

﴿ نوي الفاظ ﴾

مَكْتَبُ التَّذَاكِر- د ټکټ کور (ټکټ گهر)

غُرْفَةُ الْاِنْتِظَارِ- ویټنګ روم (د انتظار ځائے)

شَيَّال- قلي (سامان اوچتونکے مزدور)

اَلاِشَارَاتُ- سګنل

حَارِسُ الْقِطَارِ- د ریلوے محافظ

مَقْصُورَةٌ- کمپارټمنټ (ډبه)

خُطُوط رَئِيْسِيَّة- مین لائنین (مرکزي خطونه)

مَمْنُوْعُ التَّدْخِيْن- سګریټ څکل منع دي.

مَقْعَد- سیټ (د ناستې ځاي)

صَفَّارَةُ الْإِنْذَارِ۔ د خطري تلئ ، سائرن

رصيف الشَّارِع۔ فټ پاتهـ (د سړك دواړه طرفونو ته د پيدل تللو پخه لاره چوپال)

قِطَارُ الْبَضَائِع۔ مال ګاړے

قِطَار الرُّكَّاب۔ د مسافرو ګاړے

الْقِطَارُ السَّرِيْعُ۔ ايكسپريس ګاړے ، اسپيشل ريل ګاړے ، تيزريل ګاړے

الْقِطَارُ الْبَطِئ۔ لوكل ګاړے ، قلار مزل (مسافرو) ګاړے .

قِطَارٌ طَوَّالٌ۔ ډائريك ريل ګاړے ، د اوږد سفر ګاړے .

﴿ مَا ذَا تُحِبُّ اَنْ تَكُوْنَ ؟ ﴾

سَاَلَ الْمُعَلِّمُ التَّلَامِيْذَ مَرَّةً فِي الصَّفِّ وَاحِدًا وَّاحِدًا : مَا ذَا تُحِبُّ اَنْ تَكُوْنَ ؟ وَقَالَ : كُلُّ وَاحِدٍ حُرٌّ فِيْ جَوَابِهٖ فَلَا يَخَفْ وَلَا يَسْتَحِيْ۔

وَقَالَ اَحْمَدُ وَكَانَ اَصْغَرَ التَّلَامِيْذِ : اَنَا اُرِيْدُ اَنْ اَكُوْنَ سَائِقًا فِي الْقِطَارِ، فَاَرْكَبَ دَائِمًا وَاُسَافِرَ مَجَّانًا وَاَتَنَزَّهَ۔

ترجمه: **﴿ته څه جوړيدل خوښوې﴾**

په درسګاه كښې استاذ يوځل د څانله څانله شاګرد نه تپوس اوكړو چې ته څه جوړيدل خوښوې ؟ او استاذ اوئيل چې تاسو ټول په جواب وركولو كښې اختيار مندئې نو مه يريږے او مه شرميږے .

احمد اووئيل چې دا به په ټولو شاګردانو كښې وړوكے (كوچنے) وو څه د ريل ګاړي ډرائيور جوړيدل غواړم . هروخت سورلئ كوم او د مفت سفر به كوم او چكري به هم اووهم .

★★★

﴿ د الفاظو تحقیق ﴾

تُحِبُّ صیغه واحد مذکر حاضر فعل مضارع معروف از باب افعال، خوښول.

التَّلَامِيذُ شاګردان مفرد تِلْمِيذٌ

مَرَّةً یو ځلي ، یو وارج مرارًا، مَرَّاتٌ

حُرٌّ آزاد (اصیل) ج اَحْرَارٌ

اَصْغَرُ صیغه واحد بحث اسم تفضیل ازباب س، ك د تولونه وړوکے.

سَائِقًا صیغه واحد مذکر بحث اسم فاعل از باب ''ن'' راخکونکے، چلونکے .ج سائقون .

فائده : اکون د فعل ناقص خبرکیدلو د وجه نه منصوب دے .

لَا يَخَفْ۔ صیغه واحد مذکر غائب بحث فعل نهی از باب ''س'' یریدل

لَا يَسْتَحِي۔ صیغه واحد مذکر غائب فعل نهی از باب استفعال ،شرمیدل

مَجَّانًا۔ مفت ،مفعول مطلق کیدلو د وجه نه منصوب دے .

اَتَنَزَّهَ ۔صیغه واحد متکلم فعل مضارع معلوم از باب تفعل: تفریح کول.

★★★

وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ : اِنَّ سَائِقَ الْقِطَارِ فِيْ تَعَبٍ عَظِيْمٍ وَّحَرٍّ وَّجَحِيْمٍ ، وَلٰكِنِّيْ اُحِبُّ اَنْ اَكُوْنَ رُبَّانًا فِيْ بَاخِرَةٍ، فَاُسَافِرَ فِي الْبَحْرِ وَاَزُوْرَ الْبِلَادَ الْبَعِيْدَةَ مَجَّانًا وَاُشَاهِدَ عَجَائِبَ الدُّنْيَا۔

ترجمه :عبدالرحمن اووئیل چې د ریل ګاړي ډرائیور په ډیر تکلیف سخته ګرمي او اور (په شان ګرمي) کښې وي ، خو ځما دا خوښه ده چې د جهاز کپتان جوړ شم چې سمندري سفري کوم او د لري لري ښارونو په مفت کښې چکري اووهم . او دنیا (عجائبات تماشه) به اوکړم .

﴿د الفاظو تحقيق﴾

جَحِيمُ- تپ، تاؤ، جهنم

رُبَّانًا- کپتان، د سمندري جهاز ډرائيور

فائده: د فعل ناقص خبر کيدلو د وجه نه اکون منصوب دے .

بَاخِرَة- سمندري جهاز ج بَوَاخِر

اَلْبَحْر- سمندر ج أبحر، بحار، بحور

أَزُوْرُ- صيغه واحد متکلم فعل مضارع معروف از باب ن، ليدل

البَعِيْدَة- لري، ج بعداءُ

أُشَاهِدُ- صيغه واحد متکلم فعل مضارع معروف از باب مفاعله ليدل

عَجَائِب- ناآشنا څيز، مفرد، الْعَجِيْبَةُ

★★★

وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ : اَلرُّبَّانُ وَبَاخِرَتُهُ فِيْ خَطَرٍ مِّنَ الْغَرَقِ، وَلٰكِنِّيْ أُحِبُّ اَنْ اَكُوْنَ طَبِيْبًا فَأُدَاوِيَ النَّاسَ وَأُدَاوِيَ الْفُقَرَاءَ مَجَّانًا، وَاَخْدِمَ الْخَلْقَ وَأُحَافِظَ عَلٰى صِحَّتِيْ وَاَعِيْشَ بِاَمْنٍ وَّسَلَامٍ-

ترجمه :ابراهيم اووئيل کپتان او د هغه جهاز د ډوبيدلو په خطره کښې وي . څه طبيب (ډاکټر) جوړيدل غواړم، د پاره د دې چې د خلکو علاج اوکړم او د غريبانانو علاج مفت اوکړم او د خلکو خدمت به کوم او د خپل بدن (صحت) خيال به ساتم . او په امن او سلامتي به ژوند تيروم .

﴿د الفاظو تحقيق﴾

الغَرَق- اسم مصدر از باب "س" ډوبيدل .

طَبِيْبًا- ډاکټر، حکيم (علاج کونکے) ج اطباء (منصوب بنا برخبرفعل ناقص)

أُدَاوِي- صيغه واحد فعل متکلم فعل مضارع معروف از باب مفاعله

علاج کول، دوا دارو کول .

اَعِيْشَ- صيغه واحد متکلم فعل مضارع معروف ازباب"ض"ژوندتیرول

★★★

وَاَجَابَهٗ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ وَقَالَ : هٰذَا لَيْسَ بِصَحِيْحٍ ، لَيْسَتِ الْبَاخِرَةُ فِيْ خَطَرٍ فِيْ هٰذَا الزَّمَانِ ، وَالْبَوَاخِرُ تُسَافِرُ دَائِمًا فِيْ هٰذِهِ الْاَيَّامِ بِاَمْنٍ وَّسَلَامٍ ، وَبِالْعَكْسِ اَرَى الْاَطِبَّاءَ يَمْرَضُوْنَ وَيَمُوْتُوْنَ-

وَقَاطَعَهٗ اِبْرَاهِيْمُ وَقَالَ :اَمَا سَمِعْتَ اَنَّ بَاخِرَةً غَرِقَتْ قَبْلَ يَوْمَيْنِ اَوْ ثَلَاثَةِ اَيَّامٍ-

ترجمه :عبدالرحمن هغه له جواب ورکړو چې دا خبره صحیح نده نن صبا بحري جهاز په امن او سلامتیٔ سره سفر پورا کوي او د دې په خلاف څه طبیبانان وینم چې مریضان شي او مړ شي .

ابراهیم د عبدالرحمن خبره غوڅه کړه او وې وئیل : ایا تاندي اوریدلي چې دوه ، درې ورځې وړاندي هم یو جهاز ډوب شوے وو.

﴿ د الفاظو تحقیق ﴾

الزَّمَان : (۱) وخت (ډیروي او که لږ) مُده ، عرصه ، زمانه (۲) د دنیا ټوله مُده ج ازمنة .

العَکْس- اسم مصدرازباب "ض" مخالف کیدل ، سرچپه کیدل.

يَمْرَضُوْن- جمع مذکرغائب فعل مضارع معروف از باب "س" مریض کیدل

يَمُوْتُوْنَ- صیغه جمع مذکرغائب فعل مضارع معروف از باب "ن" مړکیدل

★★★

وَاَرَادَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ اَنْ يُّجِيْبَهٗ وَلٰكِنْ ، قَالَ الْمُعَلِّمُ : وَهٰذَا لَيْسَ وَقْتَ مُنَاظَرَةٍ وَّقَدْ بَقِيَ كَثِيْرٌ مِّنَ الطَّلَبَةِ ، وَمَاذَا تَقُوْلُ يَا قَاسِمُ ؟

قَالَ قَاسِمٌ : اَنَا لَا اُحِبُّ اَنْ اَكُوْنَ سَائِقًا اَوْ رُبَّانًا اَوْ طَبِيْبًا ، بَلْ اُحِبُّ اَنْ اَكُوْنَ فَلَّاحًا ، اَزْرَعُ وَاَحْرُثُ ، وَلَا اَحَدَ يَّخْدِمُ النَّاسَ وَيَنْفَعُهُمْ كَالْفَلَّاحِ ،وَهُوَ الَّذِيْ يَزْرَعُ الْحُبُوْبَ وَالْخُضَرَ فَيَاْكُلُ النَّاسُ وَالدَّوَابُّ۔

ترجمه :عبدالرحمن د ابراهیم د خبري جواب کولو اراده اوکړه خو استاذ اووئیله چې دا د بحث کولو موقع نده . نور طلبه هم پاتې دي . اے قاسم ! ته څه وائې ؟ قاسم اووئیل : چې څه ډرائیور او کپتان او ډاکټر جوړېدل نه خوښوم بلکه څه خوز میندار جوړېدل غواړم . زمینداري به کوم او قوليه بـه کوم هیڅوك هم د زمیندار پشان د خلکو خدمت خو نکوي او نـه هغوي تـه فائده رسوي . هغه غله او سبزیاني کري او بیا انسانان او څناور هغه خوري .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

مُنَاظِرَةٌ۔ اسم مصدر از باب مفاعله . د يو بل سره خبري اتري کول.

فَلَّاحًا۔ زمیندار ، کرونده کونکے ج فَلَاحون

اَزْرَعُ۔ صیغه واحدمتکلم فعل مضارع معروف از باب"ف" کرونده کول

اَحْرُثُ۔ صیغه واحد متکلم فعل مضارع معروف ازباب"ن"قولبه کول، زمکه اړول .

اَلْحُبُوْبُ۔ داني ، ناج ، تخم ، غله مفرد حَب

وَالدَّوَابُّ۔ څناور ، چارپایان ، مفرد دابة

وَقَالَ سُلَيْمَانُ :اَنَا اُحِبُّ اَنْ اَكُوْنَ تَاجِرًا ، لِيْ دُكَّانٌ كَبِيْرٌ فِيْ سُوْقٍ كَبِيْرَةٍ يَاْتِي النَّاسُ اِلَيَّ وَيَشْتَرُوْنَ۔

وَقَالَ حَامِدٌ : اَنَا اُحِبُّ اَنْ اَكُوْنَ صَنَّاعًا مَاهِرًا وَ مُخْتَرِعًا اَصْنَعُ وَاَخْتَرِعُ الْاَشْيَاءَ

الْعَجِيْبَةَ۔

وَقَالَ خَالِدٌ : اَنَا اُحِبُّ اَنْ اَكُوْنَ جُنْدِيًّا قَوِيًّا اُقَاتِلُ الْكُفَّارَ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَاُجَاهِدُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ۔

ترجمه :سليمان اووئيل : څه خو تاجر جوړيدل خوښوم ، چې څما په يو غټ بازار کښې غټ دکان وي . خلك څما خوا له راځي او سودا اخلي ، حامد اووئيل ! څه يو پوهه کاريګر او د نوي شيانو جوړونکے جوړيدل غواړم . دپاره د دې چې نوي نوي او ناآشنا څيزونه جوړ کړم .

خالد اووئيل : زه خوښوم چې زه يو قوي او بهادر جنګيالے جوړشم او جنګ اوکړم د کفارو او مشرکينو سره او جهاد اوکړم د الله تعالىٰ په لار کښې .

﴿د الفاظو تحقيق﴾

صَنَّاعًا۔ صيغه واحد بحث اسم مبالغه از باب تفعيل، کاريګري کول.

مُخْتَرِعًا۔ صيغه واحد مذكر بحث اسم فاعل از باب افتعال نوي څيزونه جوړول.

اُقَاتِلُ۔ صيغه واحد متكلم فعل مضارع معروف از باب مفاعله ،جهګړه کول .

جُنْدِيٌّ۔ په معنىٰ د سپاهي ، فوجي ، ج جُنُوْد .

وَقَالَ عَبْدُ الْكَرِيْمِ : اَنَا اُحِبُّ اَنْ اَكُوْنَ غَنِيًّا كَبِيْرًا اَلْبَسُ مَا اُحِبُّ وَآكُلُ مَا اَشْتَهِيْ وَاُسَافِرُ اِلٰى اَيْنَ اُرِيْدُ ، وَدَائِمًا عِنْدِيْ مَالٌ كَثِيْرٌ وَّ اَسْكُنُ فِيْ قَصْرٍ كَبِيْرٍ۔ وَضَحِكَ الْاَوْلَادُ مِنْ قَوْلِ عَبْدِ الْكَرِيْمِ وَخَجِلَ عَبْدُ الْكَرِيْمِ۔

وَقَالَ مُحَمَّدٌ : اَمَا اُحِبُّ اَنْ اَكُوْنَ عَالِمًا اَخَافُ اللّٰهَ وَ اَعْبُدُهٗ ، وَاَعِظُ النَّاسَ وَآمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ وَاَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاُحَذِّرُهُمْ عَذَابَ اللّٰهِ۔

ترجمه :عبدالكريم اووئيل چې زه مالداره کيدل غواړم چې څنګه

اوغوارم هم هغه واغوندم او چې زړه مې څه اوغواړي او خورم او چې کوم ځاې ته اوغواړي هلته سفر اوکړم . او همېشه زما سره پريمانه دولت وي او په يو غټ محل کښې اووسيږم . عبدالکريم خبرو په اوريدو سره تول هلکان په خندا شول او عبدالکريم پښيمانه شو .

محمد اووئيل چې زه غوارم چې عالم شم د دې د پاره چې الله نه ويريږم او د هغې بندګي اوکړم او خلکو ته نصيحت اوکړم او خلك نيکو خبرو ته وهڅوم او بديو نه ئې منع کړم او خلك د الله د عذاب نه ويروم .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

قَصْرٌ محل . ج . قُصُوْرٌ

خَجِلَ صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب "س" شرميدل .

اَعِظُ صيغه واحد متکلم فعل مضارع معروف از باب "ض" وعظ او نصيحت کول.

اُحَذِّرُهُمْ صيغه واحد متکلم فعل مضارع معروف ازباب تفعيل . ويرول

★★★

قَالَ الْمُعَلِّمُ : اَحْسَنْتُمْ يَا اَوْلَادِيْ وَاَنَا اَدْعُوْ لَكُمْ بِالتَّوْفِيْقِ وَالنَّجَاحِ، وَلٰكِنْ كُوْنُوْا مُسْلِمِيْنَ وَابْتَغُوْا اللّٰهَ بِعَمَلِكُمْ وَانْفَعُوْا الدِّيْنَ بِشُغْلِكُمْ وَاخْدِمُوْا الْاُمَّةَ بِعِلْمِكُمْ ـ

قَالَ التَّلَامِيْذُ: وَمَاذَا تَقُوْلُ اَيُّهَا الْاُسْتَاذُ عَنْ عَبْدِ الْكَرِيْمِ وَقَصْرِهٖ ـ

ترجمه :استاذ اووئيل اے بچيانو ! تاسو د خپلو خيالاتو اظهار ډير ښه اوکړو زه تاسو ټولو ته د کاميابئ او توفيق دعا کووم . خوليکن تاسو به فرمانبرداره شئ او په خپل عمل د الله رضا اوغواړئ او خپل مصروفيت سره دين ته فائده اورسوي او خپل عمل سره د امت خدمت اوکړئ .

شاګردانو تپوس اوکړو اے محترم استاذه ! تاسو د عبدالکريم او د هغې د مانئ (محل) په هکله څه وايئ ؟

﴿د الفاظو تحقيق﴾

اَحْسَنْتُمْ- صيغه جمع مذكر حاضر فعل ماضي معروف از باب افعال ، ښه كول

اَدْعُوْ- صيغه واحد متكلم فعل مضارع معروف ازباب "ن" راغوښتل دعاكول ، آواز وركول .

اَلتَّوْفِيْق- اسم ، مصدر از باب تفعيل ، توفيق وركول .

اَلنَّجَاح- اسم مصدر از باب "ف" كاميابېدل .

كُوْنُوْا- صيغه جمع مذكر فعل امر حاضر از باب "ن" كېدل .

اِبْتَغُوا- صيغه جمع مذكر فعل امر حاضر از باب افتعال. لټول.

اِنْفَعُوا- صيغه جمع مذكر فعل امر حاضرازباب "ف" ګټه رسول.

اِخْدِمُوا- صيغه جمع مذكر فعل امر حاضرازباب "ض" خدمت كول.

★★★

قَالَ الْمُعَلِّمُ : اَلْمَالُ نِعْمَةٌ مِّنَ اللّٰهِ يَجِبُ عَلَيْهَا الشُّكْرُ ، وَسَعِيْدٌ جِدًّا مَنْ آتَاهُ اللّٰهُ مَالًا فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَّ جَهْرًا ، وَيَبْتَغِيْ بِهٖ مَرْضَاةَ اللّٰهِ وَيَخْدِمُ بِهِ الْاِسْلَامَ ، وَقَدْ جَاءَ فِي الْحَدِيْثِ الشَّرِيْفِ ، لَا حَسَدَ اِلَّا فِي اثْنَتَيْنِ ، رَجُلٍ آتَاهُ اللّٰهُ مَالًا فَسَلَّطَهٗ عَلٰى هَلَكَتِهٖ فِي الْحَقِّ ، وَرَجُلٍ آتَاهُ اللّٰهُ حِكْمَةً فَهُوَ يَقْضِيْ بِهَا وَيُعَلِّمُهَا-

ترجمه:استاذ جواب وركړو چې مال د الله تعالىٰ د طرف نه يو نعمت دې او نعمت باندې شكر ضروري دې ، خوش قسمته دي هغه سړي چاله چې الله تعالىٰ مال وركړے وي او هغه د هغې نه په پټه او په ښكاره خرچ كوي او د دې په ذريعه د الله تعالىٰ رضا غواړي .او د اسلام خدمت كوي . او په

حديث كښې راغلي دي چې حسد د دوه شيانو نه بغير په بل شي كښې جائز نه دې يو هغه سړے چې الله تعالىٰ هغې له مال وركړے وي او نيك كارونو باندې خرچ كولو لپاره هغې سره اختياروي . او بل هغه سړے چې الله تعالىٰ هغې ته فراست (پوهه) او هوښيارتيا وركړي وي او هغه د هغې په ذريعه فيصلي كوي او نوروته د هغې تعليم وركوي .

﴿د الفاظو تحقيق﴾

نِعْمَةٌ: (١) انعام ، دولت ، رزق

(٢) قابل قدر شئ .

(٣) آسودګي.

(٤) احسان او ښه سلوك ته وائي لَكَ عِنْدِیْ نِعْمَةٌ لَا تُنْكَرُ .

ترجمه: زما په تا باندې نه هېرويدونكے احسان دى ج. نِعَمٌ، اَنْعُمٌ

يَجِبُ صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معروف از باب "ض" واجب كيدل ، ضروري كيدل

﴿د جدًا لفظ وضاحت﴾

اَلْجِدُّ (١) د زمكي مخ .(٢) د نهر غاړه .

(٣)د يو شي دزياتوالي او مبالغي بيانولو لپاره لكه فُلَانٌ مُحْسِنٌ جِدًّا .فلانے سړے ډيرنيكي كوونكے دے . هٰذَا خَطَرٌ جِدٌّ عَظِيْمٍ اى عَظِيْمٌ جِدًّا۔

(٤) محنت (۵) كوشش (٦) سنجيدګي ، واقعيت

مثلًا مِنْ جِدٍّ سنجيدګئ سره ، واقعيت

فائده: . جِدًّا مفعول مطلق كيدو په سبب منصوب دى .

يُنْفِقُ صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معروف از باب افعال، خرچ كول.

سِرًّا۔ په معنىٰ د راز ج اسرار

جَهرًا۔ اسم مصدر از باب "ز" ښکاره .

فائده: سرًا او جهرًا دواړه مفعول مطلق د صفت کيدو په بناء منصوب وي تقدير به عبارت وي اتفاقًا سرًا وجهرًا .

سَلَّطَ۔ صيغه واحد مذكر غائب ماضي معروف از باب تفعيل .مسلط كيدل . مقرريدل .

هَلَكَةٌ۔ هلاك كيدل ، بے دريغه خرچ كول ج هَلَكَات

الحَقّ۔ اسم مصدر از باب "ض" په معنىٰ د رښتينوالي ، راستي، يقين، انصاف ، ثابت شوي برخه ، مال او ملك ، هوښياري فيصله شوي معامله. ج حقوق

يَقْضِي۔ صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معروف از باب "ض" فيصله كول .

يُعَلِّمُ۔ صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معروف ازباب تفعيل. ښودل

★★★

وَقَدْ كَانَ سَيِّدُنَا عُثْمَانُ غَنِيًّا وَّسَيِّدُنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ ابْنُ عَوْفٍ غَنِيًّا۔

وَرَفَعَ عَبْدُ الْكَرِيْمِ رَأْسَهٗ وَقَالَ : سَأَجْتَهِدُ اَنْ اَخْدِمَ الْإِسْلَامَ بِمَالِيْ وَاَبْتَغِيْ بِهٖ مَرْضَاةَ اللّٰهِ۔

ترجمه :او زمونږ سردار حضرت عثمانؓ مالداره وؤ . او زمونږ آقا حضرت عبدالرحمن بن عوفؓ هم ښه مالداره وؤ . عبدالكريم خپل سر اوچت كړو او وې وئيل چې زه به كوشش كوم چې خپل مال په ذريعه د اسلام د دين خدمت اوكړم او مال په ذريعه به د الله رضا اوغواړم .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

غَنِيًّا۔ مالدار ، ج اغنياء

رَفَعَ۔ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب "ف" اوچتول

اَجْتَهِدُ۔ صيغه واحد متكلم فعل مضارع معروف از باب افتعال، كوشش كول

مَرْضَاةٌ اسم، مصدرازباب "س" خوشحاليدل، رضامندي، خوشنودي

﴿ نوي لغات ﴾

مَعْبَرٌ فَوْقِيٌّ، جِسْرٌ،	پُل .فلائی اوور	مَعْبَرٌ سفليٌّ	زيرزميني لار
مَحَطَّةُ بِتْرُوْلٍ	پيټرول سټيشن، پټرول پمپ		
سيارة إِسْعَافٍ	ايمبولينس	البَاخِرَة۔	شپ، بحري جهاز
البَاخِرَة المكَيِّفَةُ	ايركنډيشنډ بحري جهاز	حَرَارَةٌ	ګرمائش
صُدَاعٌ	سر درد	ضَغْطُ دَمٍ۔	بلډ پريشر(فشار)
حَسَّاسِيَّة	الرجي	طَبِيْبُ اَسْنَانٍ۔	دغاښونو ډاکټر
اَلْعَالِمُ الطَّبِيْعِيُّ	سائنسدان	عُلَمَاءُ الذَّرَّةِ۔	ايټمي سائنسدان

★★★

﴿ مُسَابَقَةٌ ﴾

كَانَتْ اَمْسِ مُسَابَقَةٌ فِي الْجَرْيِ فِيْ مَدْرَسَتِيْ، اَوَّلًا إِخْتَارَ مُعَلِّمُ الرِّيَاضَةِ اَرْبَعَةً وَّعِشْرِيْنَ طَالِبًا مِّنْ جَمِيعِ الصُّفُوْفِ هُمْ اَقْرَانٌ وَّاَكْفَاءُ، وَاَوْقَفَهُمْ فِيْ صُفُوْفٍ صَفًّا خَلْفَ صَفٍّ، وَفِيْ كُلِّ صَفٍّ ثَلَاثَةٌ۔

ترجمه: **﴿ خپل منځي ځغاستي (منډه) مقابله ﴾**

زمونږ مدرسه كښې پرون د منډې مقابله وه. تولو نه مخكښې ورزش استاذ څلورويشت (۲۴) شاګردان منتخب كړل چې هغوي يوشان او برابر وو. او هغوي ئې په څوقطارونو كښې اودرول او يو صف بل صف شاته وو او هر صف كښې درې هلكان وو.

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

مُسَابَقَةٌ اسم مصدراز باب مفاعله.

اَلْجَرْی اسم، مصدر از باب "ض" منډې وهل.

اِخْتَارَ صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب افتعال، چانول.

الرِّيَاضَةُ اسم،مصدر از باب "ن" جسماني ورزش

اَقْرَانٌ په معنیٰ د برابر، مفرد قَرْن

اَکْفَاءٌ په معنیٰ د برابر همسر، هم عمر، مفرد کُفُوٌ

اَوْقَفَ صيغه واحد مذکرغائب فعل ماضي معروف ازباب افعال.اودرول

صُفُوْفٍ په معنیٰ د قطار. مفرد صَفٌّ

★★★

وَوَقَفَ الْاُسْتَاذُ بِجَانِبٍ مِّنْ هٰذِهِ الصُّفُوْفِ، وَقَدَّمَ صَفًّا فِيْهِ مُحَمَّدٌ وَّاِبْرَاهِيْمُ وَسَعِيْدٌ وَّهُمْ اَقْرَانٌ وَّ اَكْفَاءٌ وَقَالَ: قُوْمُوْا فِيْ صَفٍّ وَّاحِدٍ وَّ عَلٰى خَطٍّ وَّاحِدٍ، وَلَا يَتَقَدَّمْ مِنْكُمْ اَحَدٌ، وَكَانَ اِبْرَاهِيْمُ مُتَقَدِّمًا قَلِيْلًا فَاَخَّرَهٗ وَجَعَلَهٗ فِي الصَّفِّ وَقَالَ: اَنَا اَعُدُّ لَكُمْ فَاِذَا قُلْتُ: وَاحِدٌ، فَسَوُّوا الصَّفَّ، وَاِذَا قُلْتُ: اِثْنَانِ فَاسْتَعِدُّوْا وَاجْمَعُوْا ثِيَابَكُمْ، وَاِذَا قُلْتُ: ثَلَاثَةٌ، فَطِيْرُوْا، وَذَهَبَ اَحَدُ الْمُعَلِّمِيْنَ اِلٰى آخِرِ الْمَيْدَانِ وَوَضَعَ هُنَالِكَ قَصَبَةً وَّقَالَ: هٰذِهٖ هِيَ الْغَايَةُ۔

ترجمه: او استاذ د دې قطارونو يو اړخ ته اودريدو او يو قطار ئې رامخکښې کړو چې په هغې کښې محمد، ابراهيم او سعيد وؤ. او دا ټول په عمر کښې يو شان او برابر وؤ. او استاذ اووئيل تاسو په يو قطار کښې په يوه کرښه اودرېږئ. او هيڅ څوك مه رامخکښې کيږئ. او ابراهيم څه لږ مخکښې هغه ئې وروسته کړو او قطار کښې برابر کړو او استاذ اووئيل

چې زه به شمارم . چې زه اوويم نو تاسو خپل صفونه نېغ کړئ او کله چې دوه اوويم نو تاسو تيار شئ او خپلې کپړې راغونډې کړئ او کله چې اوويم چې درې نو تاسو منډه کړئ او يو استاذ د ميدان آخرې ته لاړو . هلته ئې يو بانس خښ کړو او وې وئيل چې همدا آخري ځاى دې .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

قُوْمُوْا۔ صيغه جمع مذکر فعل امر حاضر از باب "ن" اودريدل.

خَطٌّ۔ کرښه ، نشان ، سطر ج خُطُوط

اَعُدُّ۔ صيغه واحد متکلم فعل مضارع معروف از باب "ن" شمارل ، گڼل.

فَسَوُّوْا۔ صيغه جمع مذکر فعل امر حاضر از باب تفعيل ،نېغول.

قَصَبَةٌ۔ هغه لرګئ چې د ميدان په آخر کښې يو نشان په توګه خښول کيږي ج قَصَبات.

★★★

وَقَالَ الْاُسْتَاذُ : وَاحِدٌ وَوَقَفَ قَلِيْلًا ثُمَّ قَالَ : اَثْنَانِ ، فَتَقَدَّمَ سَعِيْدٌ ، فَقَالَ الْاُسْتَاذُ : تَاَخَّرْ يَا سَعِيْدُ وَاَنَا اَعُدُّ مَرَّةً ثَانِيَةً فَقَالَ : وَاحِدٌ ، اَثْنَانِ ، ثَلَاثَةٌ ، فَطَارَ الْاَوْلَادُ لَا يَدْرِىْ اَحَدٌ مِّنَ السَّابِقِ ، حَتّٰى بَرَّزَ مُحَمَّدٌ وَهَتَفَ الْاَوْلَادُ بِاسْمِهٖ وَقَالُوْا : مُحَمَّدٌ مُحَمَّدٌ وَصَاحُوْا مَرْحَىٰ مَرْحَىٰ ، وَكَانَ هُوَ الْمُجَلِّىَ ، وَلَحِقَهٗ اِبْرَاهِيْمُ فَكَانَ هُوَ الْمُصَلِّىَ ، وَجَاءَ دَوْرِىْ وَقُمْتُ فِىْ اَقْرَانِىْ وَاَكْفَائِىْ وَعَدَّ الْاُسْتَاذُ : وَاحِدٌ ، اثْنَانِ ، ثَلَاثَةٌ ، وَاَبْطَاْتُ قَلِيْلًا عِنْدَ الْجَرْىِ فَمَا قَدَرْتُ اَنْ اَسْبِقَ وَاَكُوْنَ الْمُجَلِّىَ ، وَوَصَلْنَا اِلَى الْغَايَةِ وَكُنْتُ الْمُصَلِّىَ۔

ترجمه :استاذ اووئيل :يو او بيا ئې لږه وقفه اوکړه بيا ئې اووئيل دوه نو سعيد لږ رامخکښې شو . استاذ ووئيل سعيد وروستو ته زه بيا شمارم . بيا

ئې اووئيل يوه دوه ، درې ، نو هلكانو منډه كړې ، هيڅوك نه پوهېدل چې څوك به مخكښې كيږي تر دې چې محمد مخكښې شو . او هلكانو د هغې نوم په اخېستو سره چېغې كړې او ويله ئې محمد او په اوچت آواز ئې شاباش ويلو . او هغه د ټولو نه مخكښې وو . او ابراهيم هم د هغې سره راغلو ملګرے شو ، هغه په دويم نمبر وو ما په منډه كښې لږ وروستووالے اوكړو . نو څكه نه د ټولو نه مخكښې شوم او نه اول كېدو باندې قادر شوم .او مونږ آخري ځاي ته رارسيدو پس زه دويم نمبر وؤ.

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

بَرَّزَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب تفعيل. ظاهريدل ، مخكښې كېدل .

مَرْحَىٰ مَرْحَىٰ په معنىٰ د شاباش ، شاباش

اَلْمُجَلِّیْ اول نمبر راتلونكے (صيغه واحد مذكر بحث اسم فاعل ازباب تفعيل) .

اَلْمُصَلِّیْ دويم نمبر راتلونكے (صيغه بحث اسم فاعل از باب تفعيل)

فائده : اَلْمُصَلِّیْ پورته ذكر شوي معناګاني به هغه وخت وي كله چې د دې مصدر تصليي وي .

هَتَفَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب ”ض“ چېغې وهل .

اَبْطَأْتُ صيغه واحد متكلم فعل ماضي معروف از باب افعال.وروسته كيدل.

﴿ د دور لفظ تشريح ﴾

اَلدَّوْرُ (۱) ځلي ، عنبر ، دتبې نمبر

(۲) منزل (چې يو د بل د بره وي)

(۳) پارټ ، حصه ، كردار

(۴) د كارونو سلسله

(۵) تاوؤ . د پټكي تاويدني وَلُ ته وائي . اِنْفَسَخَ دَوْرُ عِمَامَتِه۔

ترجمه : د هغې د پټكي وَلُ كولاؤ شو.

(٦) د مناطقه په نزد په دوه شيانو كښې د شي په بل موقوف كيدل ج ادوار .

د نورو الفاظو سره استعمال :۔

الدَّوْرُ الْاَرْضِيُّ	گراؤنډ فلور ، د عمارت ښكته منزل
الدَّوْرُ الْاِيْجَابِي	مثبت رول . كردار
الدَّوْرُ الْبُطُوْلِيُّ	زړه ور كردار
الدَّوْرُ الْحَاسِم	فيصله كونكے كردار . زبردست پارټ

دَوْرَةُ الْاُمَمِ الْمُتَّحِدَةِ د ملل متحد غونډه

دَوْرَةُ الْمَجْلِسِ النِّيَابِيِّ د كال معياري غونډه . د پارلمان غونډه

الدَّوْرَةُ الطَّارِئَةُ ناخاپي غونډه .

★★★

وَكَانَ خَالِدٌ الْمُجَلِّي فَهَتَفَ الْاَوْلَادُ بِاسْمِهٖ۔ وَقَالُوْا : مَرْحَىٰ مَرْحَىٰ . وَكَانَ اِخْوَانِيْ يَظُنُّوْنَ اَنِّيْ اَنَا الْمُجَلِّيْ ، لِاَنِّيْ خَفِيْفٌ وَّسَرِيْعٌ وَاَجْرِيْ كُلَّ يَوْمٍ ، وَتَاَسَّفْتُ اَيْضًا وَلٰكِنِّيْ قُلْتُ فِيْ نَفْسِيْ : سَاَسْبِقُ فِي الْمَرَّةِ الثَّانِيَةِ عِنْدَ انْتِهَاءِ السَّنَةِ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ۔

وَخَطَبَ الْاُسْتَاذُ فِي الْاَخِيْرِ وَقَالَ : اِنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يُسَابِقُ وَكَانَ اَصْحَابُهٗ

يَتَسَابَقُوْنَ وَيَنْبَغِيْ لِلْمُسْلِمِ اَنْ يَّكُوْنَ نَشِيْطًا خَفِيْفًا قَوِيًّا حَتّٰى لَا يَعْجِزُ فِي الْجِهَادِ

ترجمه: او خالد ټولو نه مخکښې وؤ. ټولو هلکانو د هغې نوم اخېستو سره شور کولو او شاباش ئې ورته وېلو. زما د ورونو خيال وؤ چې زه به مخکښې شم ځکه چې زه سپك او منډه کښې تېز ووم. او هره ورځ منډه وهم. ماله هم ډير افسوس راغلے خو ماد خپل ځان سره عزم اوکړو چې کال په آخر کښې دويم ځل کښې به انشاء الله زه اول راځم. آخره کښې استاذ وينا اوکړه او وې وئيل: نبي اکرم ﷺ به هم منډه کښې مقابله کوله او د هغې ﷺ صحابه کرامو به هم خپل منځي ځغاستي (منډه) کښې مقابله کوله. او مسلمان لپاره ضروري دي چې هغه چالاك، چست او طاقتور وي چې د جهاد په موقع عاجز نشي.

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

يَظُنُّوْنَ صيغه جمع مذكر غائب فعل مضارع معروف از باب "ن" ګمان كول.

خَفِيْفٌ په معنىٰ د سپك. نرے

لَا يَعْجِزُ صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معروف از باب "ض" عاجز كيدل.

﴿ نوي لغات ﴾

سِبَاقُ الْحِصَانِ	د اسپو منډه
اَلْجُوكِيْ	پيشه ور ګهېړ سوار
كُرَّةُ الْقَدَمِ	فټ بال
خَطُّ التَّمَاس	باونډري لائن (هغه كرښه چې د لوبو د ميدان حد مقرروي)
حَكَم	ريفري (منځګړے)
حارس الْمرمَى	ګول كيپر . وكټ كيپر

مدافع	لوبغاړے
رَامِيُ الْكُرَةِ	بولر (بال کونکے)
حِكَمٌ	امپائر (فیصله کونکے)
ضَارِبُ الْكُرَةِ	بیټسمین. بال وهونکے
مِضْرَبٌ	بیټ، وکټ، ریکټ
شَبَكَةٌ	نیټ (جال)

★★★

﴿السَّاعَةُ﴾

حَارِثٌ: كَمِ السَّاعَةُ يَا أَخِيْ ؟

سَعِيْدٌ: اَلسَّاعَةُ عَشْرٌ وَرُبُعٌ أَلَيْسَ عِنْدَكَ سَاعَةٌ۔

حَارِثٌ: بَلَىٰ ! وَلٰكِنَّ سَاعَتِيْ وَاقِفَةٌ۔

سَعِيْدٌ: لَعَلَّكَ مَا مَلَأْتَهَا

حَارِثٌ: نَعَمْ ! نَسِيْتُ أَنْ أَمْلَاهَا الْبَارِحَةَ، أَنَا أَمْلَأُهَا فِي السَّاعَةِ الْعَاشِرَةِ فِي اللَّيْلِ وَلٰكِنِّيْ غَلَبَتْنِيْ عَيْنِيْ الْبَارِحَةَ فَقَدْ كُنْتُ تَعِبًا جِدًّا فَمَا مَلَأْتُهَا۔

سَعِيْدٌ: هَلْ تُرِيْدُ ضَبْطَهَا بِسَاعَتِيْ ؟

ترجمه: ﴿گهړۍ﴾

حارث: اے وروره ! څه وخت شو ؟

سَعید: پاؤ باندے لس بجے. ولې تاسره گهړۍ نشته ؟

حارث: هو ولې نشته. خو زما گهړۍ ولاړه ده.

سعید: لکه چې تا گهړۍ له چابي نه ده ورکړي.

حارث: هو. پرون شپه مې گهړۍ له چابي ورکول هېر شو. زه د شپې لس

بجې دې له چابي ورکوم . ليکن تېره شپه ډير سترے ووم نو ځکه مې سترګې پټې شوي وي نو چابي مې ورنکړے شوه .

سعيد: آيا ته ئې زما ګهړئ سره سمول غواړې ؟

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

اَلسَّاعَة قيامت ، ګهړئ ، وخت ج سَاعَاتٌ

وَاقِفَةٌ صيغه واحد مؤنث اسم بحث فاعل از باب "ض" اودريدل

مَا مَلَأْت صيغه واحد مذكر حاضر فعل ماضي منفي معروف از باب "ف" ډکول

اَلْبَارِحَةُ په معنىٰ د تيري شپې .

ضَبْطٌ مصدر از باب "ن" سمول .

★★★

حَارِثٌ: نَعَمْ ! اَضْبِطُهَا بِسَاعَتِكَ إِذَا كَانَتْ سَاعَتُكَ مُسْتَقِيْمَةً۔

سَعِيْدٌ: سَاعَتِى تَتَقَدَّمُ دَقِيْقَتَيْنِ فِيْ اَرْبَعٍ وَّعِشْرِيْنَ سَاعَةً وَقَدْ ضَبَطْتُهَا الْبَارِحَةَ فَاَخَّرْتُهَا دَقِيْقَتَيْنِ۔

حَارِثٌ: كَمِ السَّاعَةُ الْآنَ ؟

سَعِيْدٌ: اَلْآنَ عَشْرٌ وَّ ثُلُثٌ۔

حَارِثٌ: اَشْكُرُكَ ، اَرِنِىْ سَاعَتَكَ۔

سَعِيْدٌ: تَفَضَّلْ۔

ترجمه: هو! زه به دا ستا ګهړئ سره سمه کړم کچېرته ستا ګهړئ صحيح وي .

سعيد: زما ګهړئ څلورويشت ساعتونو کښې دوه دقيقي (منټ) وروسته کيږي او ما دا تېره شپه ملاؤ کړي وه . بيا مې دوه دقيقي (منټ)

وروسته کړه .

حارث: اوس څه وخت شوے ؟

سعيد: اوس شل منټه د پاسه لس بجي دي .

حارث: مهرباني اوکړه خپله ګهړئ ماته اوښايه .

سعيد: دا واخله .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

اَضْبِطُهَا صيغه واحد متکلم فعل مضارع معروف از باب "ض" سمول

دَقِيْقَتَيْنِ صيغه تثنيه ، دوه منټه ، مفرد دَقِيْقَةٌ۔ ج دَقَائِق

فَأَخَّرْتُ صيغه واحد متکلم فعل ماضي معروف ازباب تفعيل.وروسته کول

عَشْرٌ وَّثُلُثٌ شل منټه د پاسه لس

تَفَضَّلْ صيغه واحد مذکر فعل امر حاضر از باب تَفَعُّل . مهرباني کول

★★★

حَارِثٌ: إِنَّ سَاعَتَكَ ثَمِيْنَةٌ وَّجَمِيْلَةٌ مِيْنَاؤُهَا جَمِيْلَةٌ وَعَقَارِبُهَا دَقِيْقَةٌ وَغِطَاؤُهَا نَظِيْفٌ ، بِكَمْ اشْتَرَيْتَهَا يَا سَعِيْدُ ؟

سَعِيْدٌ: أَهْدَاهَا إِلَيَّ أَخِي الْكَبِيْرُ وَأَخْبَرَنِي أَنَّهُ اشْتَرَاهَا بِثَلَاثِيْنَ رُبِيَّةً ، وَسَاعَتُكَ بِكَمْ ؟

حَارِثٌ: سَاعَتِي أَرْخَصُ مِنْهَا ، فَإِنَّهَا بِعِشْرِيْنَ رُبِيَّةً ، قَدْ أَهْدَاهَا إِلَيَّ عَمِّي لَمَّا رَجَعَ مِنَ السَّفَرِ۔

ترجمه:

حارث: يقيناًستا ګهړئ قيمتي او ښائسته ده . د دې ډائل ډير مزين دې . او د دې ستنې هم نرې دي . او د دې شيشه هم پړقيدونکي

(چمکدار) ده . سعید تا دا گهړئ په څو اخیستي ؟

سعید: دا گهړئ زما وررور ماله تحفه کښې راکړې او هغې ماته اوونیل چې هغې دا گهړئ په دیرش روپۍ اخیستي . او ستا گهړئ د څورویو ده؟

حارث: زما گهړئ د دې نه ارزانه ده . ځکه چې دا د شل روپو ده . زما تره چې کله د سفر نه واپس راغلے وؤ نوماله ئې تحفه کښې راکړې وه .

﴿ د الفاظو تحقیق ﴾

ثَمِيْنَةٌ په معنیٰ د قیمتي شي . مذکر ثَمِيْنٌ

مِيْنَاءُ د گهړئ ډائل ، بندرگاه . پورټ ج مَوَانِي ، مَوَانٍ

عَقَارِبُ دگهړئ ستن . مفرد عَقْرب

غِطَاءٌ پوښ، غلاف . پرده . سرپوخ . کور ج اَغْطِيَةٌ

اَرْخَصُ صیغه واحد بحث اسم تفضیل از باب "ك" ارزانه کیدل

اَهْدَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب افعال.تحفه ورکول.

★ ★ ★

سَعِيْدٌ: اِنَّ السَّاعَةَ لَازِمَةٌ فِيْ هٰذَا الزَّمَانِ ، فَبِالسَّاعَةِ يَعْرِفُ التِّلْمِيْذُ مِيْعَادَ الْمَدْرَسَةِ ، وَبِالسَّاعَةِ يَعْرِفُ الْمُسْلِمُ اَوْقَاتَ الْجَمَاعَةِ وَالصَّلوَاتِ۔

حَارِثٌ: نَعَم ! اَنَا كُنْتُ اَتَاَخَّرُ عَنْ مِيْعَادِ الْمَدْرَسَةِ فِيْ بَعْضِ الْاَيَّامِ وَتَفُوْتُنِيْ الْجَمَاعَةُ اَحْيَانًا ، وَلٰكِنْ مُنْذُ اِشْتَرَيْتُهَا لَمْ اَتَاَخَّرْ عَنِ الْمَدْرَسَةِ وَمَا فَاتَتْنِيْ جَمَاعَةٌ

سَعِيْدٌ: اَسْتَاذِنُكَ لِاَنِّيْ مُسَافِرٌ الْيَوْمَ وَمِيْعَادُ الْقِطَارِ السَّاعَةُ اثْنَتَا عَشَرَةَ اِلَّا عَشْرًا

ترجمه:

سعيد: يقيناً گهړئ د نن سبا ضرورت دي . د گهړئ په كومك سره طالب العلم د مدرسې مقرر وخت معلوموي . او مسلمان د گهړئ په كومك سره د جمعې او مانځه وخت معلوموي .

حارث: هو! كله نه كله به زه د مدرسې د وخت نه وروسته كېدم . كله به رانه جمعه پاتې شوه خو دكله نه چې مې گهړئ اخېستې زه د مدرسې د مقرر وخت نه ورستو شوے نه يم او نه رانه كومه جمعه پاتې شوي .

سعيد: اوس به درنه زه اجازت اوغواړم ځكه چې زه نن په سفر روانيږم او د كارې مقرر وخت پنځوس منټه د پاسه يولس بجې دي .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

لَازِمَةٌ صيغه واحد مؤنث بحث اسم فاعل از باب "س" ضروري كيدل

اَوْقَاتَ مفرد وقت په معنىٰ د مدت . وخت

تَفُوْتُ صيغه واحد مؤنث غائب فعل مضارع معروف از باب "ن" ضائع كيدل.

اِشْتَرَيْتُ صيغه واحد متكلم فعل ماضي معروف از باب افتعال.اخيستل

اَسْتَأْذِنُ صيغه واحد متكلم فعل مضارع معروف از باب استفعال اجازت غوښتل.

﴿ د مُذْ ومُنْذُ تحقيق ﴾

د مُذْ ومُنْذُ د استعمال درې صورتونه دي .

اول : د حرف جر په توگه .

(۱) كه زمانه په ماضي داخل شوه نو د مِنْ په معنىٰ به وي .

(۲) كه زمانه په حال داخل شوه نو د فِيْ په معنىٰ به وي .

(۳) كه محدود زمانه باندې داخل شوه نو مِنْ او اِلىٰ په معنىٰ به وي.

دويم: د اسم په توګه:

دا دواړه لفظونه به د اسم په توګه هغه وخت استعماليږي چې د دې نه وروستے اسم مرفوع وي لكه ما رأيته مذيومان .

فائده: دبعضې محققينو وينا ده چې دا دواړه به هغه صورت كښې ظرف وي چې د هغې اضافت جملې طرف ته وي . په دې كښې فعل حذف شوې او فاعل باقي پريښودلے شوے تقدير عبارت .اى ما رأيته مذ كان يومان.

دريم: د ظرف په توګه :

مشهوره وينا دا ده كچيرته د دې نه وروسته جمله اسميه يا فعليه وي نو دواړه به ظرف وي .

★★★

حَارِثٌ: اَلْوَقْتُ وَاسِعٌ فَلَيْسَ الْآنَ اِلَّا عَشْرٌ وَّنِصْفٌ وَالْمَحَطَّةُ قَرِيْبَةٌ مِّنْ بَيْتِكَ۔

سَعِيْدٌ: نَعَمْ! اَلْوَقْتُ وَاسِعٌ وَّلٰكِنْ لِّيْ شُغْلٌ فِي السُّوْقِ وَلَمْ اَرْبِطِ الْحَوَائِجَ اِلَى الْآنَ۔

حَارِثٌ: عَلٰى بَرَكَةِ اللّٰهِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ۔

سَعِيْدٌ: وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ۔

ترجمه:

حارث: اوس خو ډير وخت پاتې دې اوس خو ايله لس نيمې بجې دي او ستېشن هم ستاسو كورته نزدې دے .

سعيد: هو! وخت خو اوس ډير دے خو زما بازار كښې لږ كار دے او ماتر اوسه د سفر سامان هم نه دے تيار كړے .

حارث: الله تعالیٰ دې مبارك كړي . السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

سعيد: وعليكم السلام ورحمة الله وبركاته .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

وَاسِعٌ: صيغه واحد مذكر بحث اسم فاعل از باب "س" فراخيدل. ګنجائش كيدل .

اَرْبِطِ: صيغه واحد متكلم فعل مضارع معروف از باب "ض" تړل.

﴿ نوي لغات ﴾

مَحَلُّ السَّاعَاتِ	د ګهړيو دكان	الزُّجَاج:	د ګهړئ شيشه
مِسْمَار السَّاعَةِ	د ګهړئ چابي	تنظيف السَّاعَةِ	د ګهړئ صفائي
وَاجِهَة الْعَرْض	شوكيس	تشكيلة الساعة:	دګهړئ ډيزائن
مَكْفُوْلَةُ السَّاعة	د ګهړئ وارنټي، ګارنټي.	سَاعَةٌ مَنَبَّهَةٌ:	ټائم پيس
بِطَاقَةُ الْكِفَالة	وارنټي كارډ	سَاعَةُ الْحَائِط:	د ديوال ګهړئ

★★★

﴿ اَلْفُطُوْرُ ﴾

طَلَبْتُ مِنْ اَبِیْ وَاُمِّیْ اَنْ اَصُوْمَ يَوْمًا مِّنْ رَمَضَانَ ، فَقَالَ اَبِیْ : اِنَّكَ صَغِيْرٌ ضَعِيْفٌ لَّا تَصْبِرُ عَلَى الْجُوْعِ وَالْعَطْشِ ، وَقَالَتْ اُمِّیْ : هٰذِهٖ اَيَّامُ صَيْفٍ وَّالصَّوْمُ فِيْهَا شَدِيْدٌ اِصْبِرْ حَتّٰى تَكُوْنَ اَيَّامُ شِتَاءٍ۔

وَلٰكِنِّیْ بَكَيْتُ وَقُلْتُ: قَدْ صَامَ مَحْمُوْدٌ وَّهُوَ فِیْ سِنِّیْ ،وَقَدْ صَامَ اِسْمٰعِيْلُ وَهُوَ اَصْغَرُ مِنِّیْ ، وَلِمَاذَا اَنْتَظِرُ اَنَا ؟

ترجمه:

﴿ روژه ماتے ﴾

ما د خپل مور او پلار نه د رمضان يوه روژه نيولو اجازت اوغوښتو. زما

پلار او وئيل چې ته تراوسه وړوکے يې او کمزورے يې ته به ولږه او تنده ونه زغمې (برداشت) او زما مور او وئيل چې دا د اوړي موسم دے او په دې ورځو کښې روژه نيول ډير ګران وي ، نو ځکه ته د ژمي انتظار اوکړه . ليکن زه په ژړا شوم او ما او وئيل چې محمود روژه نيولې حال دا چې هغه زما برابر دې او اسماعيل هم روژه نيولې حالانکه هغه زمانه وړوکے دے . زه ولې انتظار اوکړم .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

اَلْفُطُوْرُ بضم الفاء په معنیٰ د روژه ماتی کول . بفتح الفاء ناشته کول.

اَصُوْمُ صيغه واحد متکلم فعل مضارع معروف از باب "ن" روژه نيول

لَا تَصْبِرُ صيغه واحد مذکر حاضر فعل مضارع معروف از باب "ض" اودريدل ، صبر کول .

سِنٌّ په معنیٰ د غاښ عمر . ج اَسْنَان

اَنْتَظِرُ صيغه واحد متکلم فعل مضارع از باب افتعال . انتظار کول.

★★★

وَقَدْ رَاَيْتُ مَحْمُوْدًا لَمَّا صَامَ لَبِسَ لِبَاسًا جَدِيْدًا وَ صُنِعَتْ لَهٗ اَطْعِمَةٌ لَذِيْذَةٌ وَّقَدَّمَ لَهٗ اَقَارِبُهٗ هَدَايَا وَجَوَائِزَ وَاجْتَمَعَ نَاسٌ كَثِيْرٌ ، وَكَانَ مَحْمُوْدٌ لَّهٗ شَرَفٌ ، كُلٌّ يَّتَحَادَثُ مَعَهٗ وَيُقَرِّبُهٗ اِلَيْهِ۔

وَقَدْ سَمِعْتُ اَنَّ الْوَلَدَ الصَّغِيْرَ اِذَا صَامَ كَانَ لِوَالِدَيْهِ الْاَجْرُ وَالثَّوَابُ ، وَ اُحِبُّ اَنْ يَّنَالَ اَبِیْ وَاُمِّیْ الْاَ جْرَ وَالثَّوَابَ۔

ترجمه :او ما محمود اوليدو چې هغې روژه نيولې وه . هغې نوي جامې اغوستې وې او هغې لپاره ښه خواړه (خوراك) تيار شوي وؤ او د هغې

خپلوانو هغې ته تحفې او انعامونه ورکړل . او ډير زيات خلك را جمع شول او د محمود ئې ډير عزت او اكرام اوكړو . هر سړي به هغې سره خبري كولې او هغه به ئې ځان سره نزدې كېنوو.

ما اوريدلي چې كله يو وړوكے ماشوم روژه نيسي نو د هغې مور او پلار ته د هغې اجر او ثواب وي نو ځكه زه غواړم چې زما مور او پلار ثواب ترلاسه كړي .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

صُنِعَتْ صيغه واحد مؤنث غائب فعل ماضي مجهول از باب "ف" جوړول . تيارول .

اَطْعِمَةٌ خواړه (خوراك) مفرد طعام .

قَدَّمَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب "تفعيل" وړاندي كول.

جَوَائِزُ انعامونه مفرد جَائِزَةٌ

يُقَرِّبُ صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معروف از باب تفعيل. نزدې كول.

صَامَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب "ن" روژه نيول

يَنَالُ صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معروف از باب "ف" ترلاسه كيدل.

★★★

وَقَبِلَ اَبِىْ وَرَضِيَتْ اُمِّىْ ، وَدَعَتْ اُمِّىْ اَصْدِقَائِىْ وَاَتْرَابِىْ لِلسُّحُوْرِ مَعِىْ فَبَاتُوْا فِىْ بَيْتِىْ ، وَفِى السَّاعَةِ الرَّابِعَةِ فِى اللَّيْلِ اسْتَيْقَظْنَا وَقَدَّمَتْ اُمِّىْ طَعَامًا لَّذِيْذًا ، فَاَكَلْنَا وَشَبِعْنَا وَنِمْنَا قَلِيْلًا وَّاسْتَيْقَظْنَا لِصَلَاةِ الصُّبْحِ۔

ترجمه :زما پلار زما خبره اومنله او زما لور هم راضي شوه ، زما لور زما

دوستان او هم عمره ماسره پيشمني (سحري) ته راوبلل هغوي زمونږ کره شپه اوکړه او د شپې څلور بجې مونږ راپاڅيدو زما مور ډيربنه خواړه راوړل نو مونږ اوخوړه او ماړه شو لږ شانته اوده شو او بياسحر مانځه ته پاڅيدو.

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

قَبِلَ صيغه واحد مذکرغائب فعل ماضي معروف ازباب "س" قبلول

دَعَتْ صيغه واحد مؤنث غائب فعل ماضي معروف از باب "ن" دعا کول، راغوښتل، آواز کول.

السُّحُوْرُ دپيشمني ډوډئ خوړل . پيشمني.

شَبِعْنَا صيغه جمع متکلم فعل ماضي معروف ازباب "س" مړيدل

نِمْنَا صيغه جمع متکلم فعل ماضي از باب "س" اوده کيدل.

★★★

وَفِي النَّهَارِ أَرَادَتْ اُمِّيْ اَنْ تَشْغُلَنِيْ فَلَا اَذْكُرُ الْجُوْعَ وَالْعَطَشَ، فَاَمَرَتْنِيْ بِاَشْغَالٍ لَيْسَ فِيْهَا تَعَبٌ، وَكُنْتُ فِيْ شُغْلٍ وَحَدِيْثٍ مَعَ الْاَصْدِقَاءِ وَالْاَتْرَابِ حَتَّى انْتَصَفَ النَّهَارُ وَمَا شَعَرْتُ بِجُوْعٍ وَلَا عَطَشٍ۔

وَفِيْ الظَّهِيْرَةِ شَعَرْتُ بِظَمَاءٍ وَحَرٍّ فَاغْتَسَلْتُ فَذَهَبَ عَنِّي الظَّمَاءُ وَاسْتَرَحْتُ۔

ترجمه: مور مې زه د ورځې مصروفه ساتلو لپاره اراده وکړه ترڅو ما ته د ولږې او تندې احساس اونشي نوځکه يې ماته د داسې مصروفياتو حکم اوکړو چې په هغې کښې ستړيا نه وي زه د خپلو ملګرو او همزولوسره په لوبو او خبرو کښې مصروف ووم تر دې چې نيمه ورځ تيره شوه او ما ولږه او تنده محسوس نکړه .

د ماسپښين په وخت ما لږ څه ولږه او تنده محسوس کړه . ما غسل اوکړو

چې د هغې سره مې تنده ختمه شوه او ماته راحت ملاؤ شو .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

تَشْغُلُ صيغه واحد مؤنث غائب فعل مضارع معروف از باب "ن" مشغولول . مصروفول.

العَطَشُ تنده ، عطش ، يعطش ، عطشا از باب "ض" تږي کېدل

حديث په معنیٰ د خبرو ، وينا ج احاديث

انتصف صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب افتعال . نيمه ول .

مَا شَعَرْتُ صيغه واحد متکلم فعل ماضي معروف منفي، از باب "ن" محسوسول ، پوهيدل .

اِغْتَسَلْتُ صيغه واحد متکلم فعل ماضي معروف از باب افتعال. لمبيدل ، غسل کول

الظَّمَاءُ مصدر از باب "ف" تږے کيدل

اِسْتَرَحْتُ صيغه واحد متکلم فعل ماضي معروف از باب استفعال. راحت کيدل . آرام حاصلول .

★★★

وَفِى الْعَصْرِ شَعَرْتُ بِالْجُوْعِ وَرَاَيْتُ اَطْعِمَةً وَّثِمَارًا وَّ فَوَاكِهَ، وَقَالَ لِيْ اَحَدُ الْاَصْدِقَاءِ : لَا بَأْسَ اَنْ تَاكُلَ شَيْئًا وَّلَا يَرَاكَ الْاٰنَ اَحَدٌ، وَقَدْ اَكَلْتُ اَيْضًا لَمَّا كُنْتُ صَائِمًا، قُلْتُ : نَعَمْ ! لَا يَرَانِيْ هُنَا اَحَدٌ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يَرَانِيْ وَسَكَتَ صَدِيْقِيْ وَصَبَرْتُ عَلَى الْجُوْعِ۔

ترجمه :مازيګر په وخت کښې ما ولږه محسوس کړه . ماخواره ، مېوې

وليدي زما په ملګرو کښې يو ماته اووئيل که لږ څه خوړلو کښې خو هيڅ خبره نشته ، او اوس خو تا هيڅوك نه ويني ، ما هم خوړلي وه کله چې ما روژه نيولي وه ما ورته اووئيل چې هو صاحبه ، خو ما هيڅوك نه ويني خو الله تعالىٰ مې ويني ، زما ملګري غلے شو او ما ولږه وزغمله (برداشت).

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

تاكُلُ

لَا يَرَاكَ

سَكَتَ

صَبَرْتُ

﴿ د لا بأس لغظ تحقيق ﴾

لَا بَأْسَ په معنىٰ د هيڅ حرج نشته (هيڅ خبره نده) نحوي ترکيب په اعتبار سره لا د نفي جنس او بأس د دې اسم دې . خو خبر محذوف دې ، مثلًا

لَا بَأسَ بِه — په دې هيڅ اعتراض نشته

لَا بَأسَ فيه — اى لاحرج فيه . په دې کښې هيڅ حرج نشته .

لَا بَأْسَ عَلَيْكَ — په تا هيڅ ويره نشته .

لَا بَأْسَ اَن تسعمو — ستا په اوريدو کښې هيڅ تکليف نشته

فائده: بعضې وخت د لابأس په ځاى ما بأس هم استعماليږي . او ما بأس د لابأسَ په معنىٰ وي مثلًا ما بَأسَ عَلَيْك په معنىٰ د لابأس عليك .

★ ★ ★

وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ حَضَرَ اَصْدِقَاءُ اَبِىْ وَاَقَارِبُنَا وَنُقِلَ الْفُطُوْرُ اِلَى الْمَسْجِدِ، وَكَانَ الْوَقْتُ شَدِيْدًا عَلَىَّ فَكُنْتُ اَرْمُقُ الْمُؤَذِّنَ وَاَعُدُّ الدَّقَائِقَ ، فَلَمَّا اَذَّنَ اَفْطَرْتُ بِتَمْرَةٍ ثُمَّ اَكَلْتُ وَشَرِبْتُ وَقُلْتُ كَمَا عَلَّمَنِىْ اَبِىْ :

" ذَهَبَ الظَّمَاءُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوْقُ وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ "وَمَا اَكَلْتُ طَعَامًا اَلَذَّ مِنْ طَعَامِ ذٰلِكَ الْيَوْمِ ، وَمَا كَانَ يَوْمٌ اَجْمَلَ فِيْ حَيَاتِيْ مِنْ ذٰلِكَ الْيَوْمِ۔

ترجمه :اولمر پرېوتو نه مخکښې زما د پلار ملګرے اوزمونږ خپلوان حاضر شو . او روژه ماتي جومات ته يوړل شو. هغه وخت په ما ډير سخت وؤ . ما په توجه سره اذان کونکی ته کتل او منتونه مې شمارل . کله چې مؤذن اذان اوکړو نو ما يوي کهجوري سره روژه ماته کړه . بيا ما اوخوړل او وڅکل اوما هغه دعا اووئيله چې څما پلار ماته زده کړي وه .

(تنده لرې شوه او رګونه لامده شو او اجر ثابت شو انشاء الله) او د هغې ورځ نه زيات ما په بله هيڅ ورځ خونده ور خواړه نه وؤ خوړلي ، او د هغې ورځې نه زياته شانداره ورځ زما په ژوند کښې رانغله .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

نُقِلَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي مجهول از باب "ن" منتقلول

أَرْمُقُ صيغه واحد متكلم فعل مضارع معروف از باب "ن" په توجه سره کتل . برنده کتل .

أَعُدُّ صيغه واحد متكلم فعل مضارع معروف از باب "ن" شمارل، ګڼل.

بِتَمْرَةٍ په معنیٰ د کهجور ج تَمَرَاتٌ

إِبْتَلَّتْ صيغه واحد مؤنث غائب فعل ماضي معروف از باب افتعال.لمديدل.

اَلْعُرُوْقُ په معنیٰ د رګونه مفرد عِرْقٌ .

اَلَذَّ صيغه واحد بحث اسم تفضيل از باب "ن" مزيدار کيدل.

ثَبَتَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب "ن" ثابت کيدل

اَجْمَلُ صيغه واحد بحث اسم تفضيل از باب "ن" ښکلي کيدل

حياتي زما ژوند.

﴿نوي لغات﴾

حَفْلَةُ الفُطُورِ افطار پارټي

حَفْلَةُ العَشَاءِ ډنر پارټي

نِظَامٌ خَاصٌ لِلأَكْلِ پرهيزي خوراك

حَفْلَةُ عِيْدِ مِيْلَادِ د پيدائش د ورځ پارټي

★★★

﴿اَلْاَمَانَةُ﴾

اِسْتَاجَرَ رَجُلٌ قَوْمًا، فَاشْتَغَلُوْا وَعَمِلُوْا وَلَمَّا فَرَغُوْا مِنْ شُغْلِهِمْ جَاؤُوْا اِلَيْهِ فَأَعْطَاهُمْ أَجْرَهُمْ، وَكَانَ فِيْهِمْ رَجُلٌ اشْتَغَلَ مَعَهُمْ، وَلٰكِنَّهُ لَمْ يَأْخُذْ أَجْرَهُ وَتَرَكَهُ وَذَهَبَ۔

ترجمه: ﴿امانت﴾

يو سړي څه خلك په مزدورۍ نيولي وو. ټول مزدوران مصروف شو او كار ئې كولو. كله چې هغه مزدوران د كار نه فارغ شول نو هغه سړي خوا ته راغلل. هغې ټولو مزدورانو ته د هغوي مزدوري وركړه. په دې كښې سړے داسې وو چاچې هغې سره مزدوري كړي وه خو خپله مزدوري ئې نه وه اخېستې. او مزدوري ئې پرېښې وه او تللے وو.

﴿د الفاظو تحقيق﴾

اَلْاَمَانَةُ امانت داري، زر امانت، ديانت داري ج اَمَانَات

اِسْتَاْجَرَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب استفعال. اجرت غوښتل.

اِشْتَغَلُوا صيغه جمع مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب افتعال، مصروف كيدل.

اَجْرٌ مزدوري، ثواب، بدله، ج اُجُوْرٌ

يَأْخُذُ صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معروف از باب "ن" اخېستل . وصولول.

★★★

وَكَانَ الرَّجُلُ كَرِيْمًا اَمِيْنًا، فَلَمْ يَأْكُلْ أُجْرَتَهُ، وَلَمْ يَنْتَفِعْ بِهَا، وَخَافَ اللّٰهَ وَوَضَعَهَا فِي التِّجَارَةِ، وَثَمَّرَهَا وَ اَثْمَرَتِ الْأُجْرَةُ كَثِيْرًا، وَكَثُرَ مِنْهَا الْأَمْوَالُ.

ترجمه: هغه سړے سخي او امانت دار وؤ . هغې د هغې مزدوري اونخوړه او نه ئې د هغې نه فائده واخيسته . او په دې معامله كښې هغه د الله ويرېدو او هغه ئې په تجارت اولګولې او هغه ئې زياتې كړې او هغه مزدوري ډيره زياته شوه او مال ډير شو.

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

كَرِيْمًا صيغه واحد بحث اسم فاعل از باب "ك" مهرباني كونكے

اَمِيْنًا صيغه واحد صفت مشبه ، په معنىٰ د امانتدار

يَنْتَفِعُ صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معروف از باب افتعال. فائده اوچتول.

التِّجَارَةُ تجارت ، كاروبار

ثَمَّرَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب تفضيل. زياتول ډيرول.

كَثُرَ صيغه واحد مذكرغائب فعل ماضي معروف از باب "ك"زياتيدل

★★★

وَبَعْدَ حِيْنٍ جَاءَهُ الْأَجِيْرُ وَهُوَ خَائِفٌ اَنْ لَّا يَعْرِفَهُ الرَّجُلُ، فَقَدْ طَالَتِ الْمُدَّةُ، وَمَضٰى زَمَنٌ كَثِيْرٌ، وَمَاذَا يَفْعَلُ الْمِسْكِيْنُ اِنْ لَّمْ يَعْرِفْهُ الرَّجُلُ اَوْ نَسِيَ قِصَّتَهُ

جَاءَ الْأَجِيْرُ وَهُوَ لَا يَطْمَعُ إِلَّا فِيْ أُجْرَتِهِ الْقَلِيْلَةِ دَرَاهِمَ مَعْدُوْدَةٍ، وَإِذَا جَحَدَهَا الرَّجُلُ وَلَمْ يَدْفَعْهَا رَجَعَ خَائِبًا۔

ترجمه: او څه وخت پس هغه مزدور بيرته راغلو حالانکه هغه ويريده چې هغه به ئې اونه پيژني ځکه چې ډير وخت شوے وؤ . او وخت اوږد شوے وؤ . کچېرته هغې سړے دا اونه پيژندو يا هغې دا خبره هېره کړي وه نو دا مسکين به څه کوي . هغه مزدور راغلے هغه سره صرف د خپلې مزدورئ لالچ وؤ چې د شمار يو څو درهم وؤ . کچېرته هغې سړي انکار اوکړو او هغې ته ئې مزدوري ورنکړه نو هغه به د پريشانئ حالت کښې بېرته راځي .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

اَلْأَجِيْرُ مزدور . نوکر . ج أُجَرَاءُ

طَالَتْ صيغه واحد مؤنث غائب فعل ماضي معروف از باب "ن" اوږد کيدل.

لَا يَطْمَعُ صيغه واحد مذکر غائب فعل مضارع منفي معروف از باب "ف" لالچ کول

مَعْدُوْدَةٍ صيغه واحد مؤنث بحث اسم مفعول از باب "ن" په معنیٰ د شمار معدودة د شمار

جَحَدَ صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب "ف" انکار کول

خائبًا . صيغه واحد مذکر بحث اسم فاعل از باب "ن" نقصان کيدل

★★★

وَلٰكِنَّهُ جَاءَهُ لِأَنَّهُ مُحْتَاجٌ إِلَى هٰذِهِ الدَّرَاهِمِ ، فَقَالَ : مَا عَبْدَاللّٰهِ ! أَدِّ إِلَيَّ أَجْرِيْ ، فَمَا جَحَدَ الرَّجُلُ وَمَا أَنْكَرَ ، بَلْ قَالَ : كُلُّ مَا تَرَىٰ مِنَ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ وَالرَّقِيْقِ مِنْ أَجْرِكَ دُهِشَ الرَّجُلُ وَتَحَيَّرَ وَظَنَّ أَنَّهُ يَسْتَهْزِئُ بِهٖ ، فَقَالَ : يَا عَبْدَ اللّٰهِ

لَا تَسْتَهْزِئْ بِيْ۔

ترجمه:ليکن هغه مزدور هغه سړي خوا ته راغلے ځکه چې هغه د هغې درهمو (پېسې) محتاج وؤ . مزدور ورته اووئيل اے د الله بنده . هغه زما مزدوري ماته راکړه . نو هغه سړي انکار اونکړو او نه ئې منع کړو بلکه هغې ورته اووئيل چې دا ټول شيان چې ته اوښ ، غوا، چيلۍ (بيزي) او غلامان وينې ، دا ټول ستا په مزدورۍ کښې دي هغه سړے حېران شو او خيال ئې اوکړو چې دا سړے ماسره ټوقې کوي هغه اووئيل چې اے د الله بنده . ماسره ټوقې مکوه .

﴿د الفاظو تحقيق﴾

أَدِّ صيغه واحد مذکر بحث امر حاضر از باب "ض" ادا کول.

مَا أَنْكَرَ صيغه واحد مذکر فعل ماضي معروف از باب افعال.انکارکول

اَلْإِبِلُ په معنیٰ د اوښ (بسکون الباء ايضا الابل) ج آبال (مفرد لپاره د دې استعمال نه وي)

اَلْبَقَرُ په معنیٰ د غوا ، سنډا (اسم جنس) مفرد بقرة ج بقرات، بَقَر، بُقُر اَبْقَار، اباقِر

اَلغَنَمُ په معنیٰ د چيلۍ (بيزه) دا لفظ مصدر په توګه استعماليږي مفرد شَاةٌ ج۔ اَغْنَام ، غُنُوْمٌ ، اَغَانِمُ۔

اَلرَّقِيْقُ غلام، ج اَرِقَّاءُ

دُهِشَ صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي مجهول از باب "س" حيرانيدل.

تَحَيَّرَ صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب تَفَعُّل۔ حيرانيدل.

يَسْتَهْزِئُ صيغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معروف از باب استفعال. ټوقې کول. خندا کول . مذاق کول

قَالَ الرَّجُلُ : لَا أَسْتَهْزِئُ بِكَ ، فَكُلُّ مَا تَرَىٰ مِنَ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ وَالرَّقِيقِ لَكَ ، فَإِنِّي قَدْ وَضَعْتُ أُجْرَتَكَ فِي التِّجَارَةِ ، وَثَمَّرْتُهَا وَأَثْمَرَتْ هٰذِهِ الْإِبِلَ وَالْبَقَرَ وَالْغَنَمَ وَالرَّقِيقَ۔

فَأَخَذَ الْأَجِيرُ الْإِبِلَ وَالْبَقَرَ وَالْغَنَمَ وَالرَّقِيقَ وَلَمْ يَتْرُكْ مِنْهَا شَيْئًا۔

وَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَلَىٰ هٰذِهِ الْأَمَانَةِ وَالْوَفَاءِ وَالْكَرَمِ۔

ترجمه : هغې جواب ورکړو . زه تاسره ټوقې نه کوم دا څه اوښان ، غواګانې او چیلئ او غلام چې ته وینې دا ټول ستا د پاره دي ځکه چې ما ستا مزدورۍ په تجارت لګولي وه او هغه مې زیاته کړه نو دا اوښ ، غوا ، چیلئ او غلام هغې تجارت ګټه ده نو لهذا هغې مزدور هغه ټول اوښان ، غوا ، چیلئ او غلام واخیستل او هیڅ ئې هم پرېنښودل . الله تعالیٰ د هغې سړي د امانت دارئ ، دیانت دارئ او وفادارئ نه راضي شو .

﴿ د الفاظو تحقیق ﴾

رَضِيَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب ''س'' راضي کیدل ، خوشحالیدل

الوَفَاءُ په معنیٰ د ښه سلوك . وفادارئ

اَلْكَرَم په معنیٰ د شرافت ، طیّب دصفت په طور د کَریم لفظ استعمالیږي

فائده: دا لفظ واحد ، جمع ، مذکر او مؤنث ټولو د پاره استعمالیږي ، لکه رَجُلٌ كَرَمٌ ، نِسَاءٌ كَرَمٌ ، أَرْضٌ كَرَمٌ

★★★

وَقَدْ وَقَعَ هٰذَا الرَّجُلُ الْأَمِيْنُ مَرَّةً فِيْ غَارٍ ، وَانْطَبَقَتْ عَلَيْهِ صَخْرَةٌ ، فَلَمَّا يَئِسَ مِنَ الْحَيَاةِ دَعَا اللّٰهَ بِهٰذَا الْعَمَلِ الصَّالِحِ ، وَقَالَ : اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ

وَجْهِكَ ، فَاكْشِفْ عَنَّا هٰذِهِ الصَّخْرَةَ ، فَأَجَابَ اللّٰهُ دَعْوَتَهٗ وَأَعَانَهٗ۔

ترجمه :یو ځل یو امانتدار سړے غار ته ننوت او تیږي د غار خوله بنده کړه . نو کله چې هغه سړے د ژوند نه مایوسه شو نو الله تعالیٰ نه ئې د خپل هغه نیك عمل په وسیله دعااوکړه او وې وئیل اے الله ! کچیرته ما هغه عمل ستا د رضا لپاره کړے وي نو مونږ نه دا تیږه (ګټه) لرې کړه . لهذا الله تعالیٰ د هغې دعا قبوله کړه او هغه خلاص شو.

﴿ د الفاظو تحقیق ﴾

اَلْاَمِیْنُ	په معنیٰ د امانتدار ، ج اُمَنَاءُ
غَارٌ	غار، سُرنګ ، ج اغور، غِیران
اِنْطَبَقَتْ	صیغه واحد مؤنث غائب فعل ماضي معروف از باب انفعال. پټول
صَخْرَةٌ	په معنیٰ د تیږي ، غټ کاڼي ج صَخَرٌ، صَخْرٌ، صُخُوْرٌ، صُخُوْرَةٌ
يَئِسَ	صیغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معروف از باب ''حَسِبَ'' نااميد کيدل
اِكْشِفْ	صیغه واحد مذکر فعل امر حاضر از باب ''ض'' کهولاول. لرې کول

﴿ نوي لغات ﴾

شُغْلٌ	مشغله ، کار ، ورك ، مصروفیت ، حالت ، پیشه
شُغْلُ الاِبْره	د ګلانو ایستلو کار ، کشیده کاري ، ایمبرائډري
شُغْلُ البال	زړه مشغولول
الشُّغْلُ الشَّاغِل	اهم مشغله
شُغْلٌ شَاقٌّ	د محنت کار .
شُغْلُ يَدٍ	دست کاري . د لاس کار
شَغْلِيٌّ	کار ، مشغله .

الشَّغِيْل	کارکوونکے
شَغَّال	مزدور، کارکن، قلي، کاريګر، بزي ، مشغول ، بېحد مصروف
مَشْغُول	انګيج ، بزي ، مصروف
مَشْغَل	ورکشاپ ، محتاج خانه
اَلْاَمِيْنُ	ديانتدار ، قابل اعتماد ، محفوظ ، بے ضرر ، محافظ ، نګران ، سيکرټري ج اُمَنَاء
اَمِيْنُ الصُّنْدُوق	خزانچي ، کيشير ، تحويلدار
اَلْاَمِيْنُ الْعَامُّ	جنرل سيکرټري ، عمومي ناظم
تَامِيْنُ عَلَى الْحَيَاة	لائف انشورنس ، د ژوند بيمه
شِرْكَةُ التَّامِيْن	د بيمه کمپني

★★★

الصَّيْدُ

خَرَجْتُ يَوْمَ عُطْلَةٍ مَّعَ صَيَّادِيْنَ عِنْدَهُمْ بَنَادِقُ وَسَكَاكِيْنُ، خَرَجْنَا مُبَكِّرِيْنَ فِي الصَّبَاحِ لَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ، وَكَانَ مَعِيْ كَثِيْرٌ مِّنْ اَتْرَابِيْ وَاَصْدِقَائِيْ، وَ اَخَذْنَا غَدَائَنَا مَعَنَا لِنَتَغَدّٰى اِذَا غَلَبْنَا الْجُوْعُ، وَكُنَّا نُرِيْدُ اَنْ نَّرْجِعَ فِي الْمَسَاءِ۔ وَلَمْ نَزَلْ نَمْشِيْ فِي الْحَرِّ وَالشَّمْسِ حَتّٰى تَعِبْنَا، وَغَلَبَنَا الْجُوْعُ وَالظَّمَاءُ، وَكَانَ الْغَدَاءُ مَعَ خَلِيْلٍ، وَقَدْ ضَلَّ الطَّرِيْقَ، وَمَا وَجَدْنَا طَعَامًا وَّلَا مَاءً۔

ترجمه: **ښکار**

زه چهټۍ په ورځ ښکاريانو سره اووتلم . د هغوي سره ټوپکي او چړي وي مونږ سهار وختي لمر ختلو نه مخکښې اووتلو . زما سره ډير همزولي او ملګري وو . او مونږ د غرمي ډوډۍ د ځان سره اخيستي وه . چې کله د

ولږې زور شو نو اوبه ئې خورو . زمونږ خيال وؤ چې ماښام به راواپس شو . مونږ په ګرمئ او تاؤ کښې روان وؤ تر دې چې مونږ ستړي شو . او په مونږ د ولږې او تندې سختي شوه ، خواړه د خليل سره وو او هغې لاره ورکه کړې وه لهذا مونږ ته خواړه او اوبه ونه رسيدې .

﴿د الفاظو تحقيق﴾

الصَّيْدُ مصدر از باب "ض" ښکار کول

صَيَّادِيْنُ مفرد . صَيَّادٌ په معنیٰ د ښکاري

بَنَادِقُ مفرد بُنْدُقِيَّةٌ

سَكَاكِيْنُ مفرد سِكِّيْنٌ په معنیٰ د چاړه ، چاقو

تَطْلُعُ صيغه واحد مؤنث غائب فعل مضارع معروف از باب "ن" راختل.

ضَلَّ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف ازباب "ض" ورکيدل ، هېرول

نَمْشِيْ صيغه جمع متكلم فعل مضارع معروف از باب "ض" تلل

الحَرِّ تاؤ، ګرمي ، د ګرمئ سختي

مَا وَجَدْنَا صيغه جمع متكلم فعل ماضي منفي معروف از باب "ض" مونږ ونه ميندل .

★★★

وَانْتَصَفَ النَّهَارُ وَجَلَسْنَا فِيْ ظِلِّ شَجَرَةٍ نَنْتَظِرُ خَلِيْلًا وَبَرَزَ خَلِيْلٌ مِّنْ بُعْدٍ فَنَادَيْنَاهُ بِاسْمِهٖ وَحَمِدْنَا اللّٰهَ ، وَتَغَدَّيْنَا وَاسْتَرَحْنَا قَلِيْلًا ، ثُمَّ خَرَجْنَا۔

وَدَخَلْنَا فِي الْغَابَةِ وَوَجَدْنَا آثَارَ بَقَرِ الْوَحْشِ فَتَفَرَّقْنَا وَجَلَسْنَا بِالْمِرْصَادِ وَخَرَجَتْ

بَقَرَةٌ مِنَ الْاَشْجَارِ، وَكَانَ السَّيِّدُ اِسْمَاعِيلُ مُسْتَعِدًّا فَصَوَّبَ اِلَيْهَا بُنْدُقِيَّتَهُ، وَاَطْلَقَ الرَّصَاصَةَ وَاَصَابَ الْبَقَرَةَ فِي صَدْرِهَا، فَسَقَطَتْ جَرِيْحًا تَضْرِبُ بِرِجْلَيْهَا۔

ترجمه: او نیمه ورځ تیره شوي وه مونږ د یو بوټي د سوري لاندې ناست د خلیل انتظار مو کولو. د لرې نه خلیل ښکاره شو، مونږ هغې ته د هغې په نوم چیغې کړي. او مونږ د الله حمدوثناء بیان کړه. مونږ ډوډۍ اوخوړله او لږ آرام مو اوکړو او بیا اووتو او مونږ ځنګل ته دننه لاړو. او ځنګلي غواګانو د قدمونو نشانونه اوموندل. بیا مونږ ټول خواره شو او په شیش کښې کیناستو. په دې کښې یوه غوا د بوټو نه راووته او اسماعیل صاحب بالکل تیار وؤ. هغې د هغې طرف ته د خپل ټوپك نشانه سمه کړه او ګولۍ اوچلوله او بالکل نیغ ئې د غوا په سینه کښې اوویشته. هغه غوا زخمي شوه او ولویده او خپلې دواړه پخې ئې وهلې.

د الفاظو تحقیق

اِنْتَصَفَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب افتعال. نیمیدل.

ظِلّ په معنیٰ د سوري، د هر شي سورے، ظِلُّ اللَّيْل د شپې تورتم ج ظِلَالٌ، اَظْلَالٌ

بَرَزَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب "ن" ظاهریدل.

بَقَرِ الْوُحُوْشِ ځنګلي غوا

مِرْصَادِ په معنیٰ د شیش ځاي. لاره، مورچل ج مَرَاصِید، مَرَاصِد

صَوَّبَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف ازباب، تفعیل سمول.

اَطْلَقَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب افعال. پرېښودل

رَصَاصَةً ګولۍ (مرمۍ) ج رِصَاص

جَرِيْحًا صیغه واحد مذکر صفت مشبه په معنیٰ د زخمي ج جرحیٰ

فائده: لفظ جريحًا د سقوطت د ضمير نه حال كېدو په بنا منصوب دي.

وضاحت: فعيل وزن كله د فاعل په معنىٰ استعمالېږي او كله د مفعول په معنىٰ استعمالېږي.

تنبيه: (۱) كچيرته د فعيل وزن د فاعل په معنىٰ وي نو مذكر او مؤنث كښې به فرق كېږي اګر كه د موصوف ذكر كېږي او كه نه. لكه رَجُلٌ نَصِيْرٌ، اِمرأةٌ نَصِيْرَةٌ۔

(۲) كچيرته فعيل د مفعول په معنىٰ وي نو د موصوف سره به مذكر او مؤنث په يو حالت كښې وي لكه زيد قتيل واتت المراة جَرِيْحًا۔

او كه موصوف سره نه وي نو بيا به فرق كېږي لكه جَاءَ حَبِيْبٌ وحَبِيْبَةٌ

مهم خبره: دفعيل وزن چې كله د متعدي نه مشتق وي نو هميشه به د مفعول په معنىٰ وي لكه قَتِيْلٌ په معنىٰ د مقتولٌ.

بله فائده: د فعيل وزن د معنىٰ په اعتبار سره په مبالغه دلالت كوي يعنې د موصوف زيادت په صفت دلالت كوي مثلًا رَحِيْمٌ انتهائي رحم كولو والا عَظِيْمٌ ډېر لوي عَلِيْمٌ ډېر پوهېدونكے.

★★★

وَسَمِعَ الْإِخْوَانُ صَوْتَ الْبُنْدُقِيَّةِ فَجَاؤُا، وَذَبَحَهَا يَا قُوْتُ بِسِكِّيْنٍ كَبِيْرٍ حَادٍّ وَسَمَّى اللّٰهَ وَكَبَّرَ، وَكُنَّا نَتَكَلَّمُ وَكُنَّا مُطْمَئِنِّيْنَ اِذْ خَرَجَتْ بَقَرَةٌ اُخْرىٰ، فَاَطْلَقَ عَلَيْهَا هَاشِمٌ بُنْدُقِيَّتَهٗ بِسُرْعَةٍ، وَمَا قَدَرَ اَنْ يُصَوِّبَ الْبُنْدُقِيَّةَ، فَاَخْطَأَتِ الرَّصَاصَةُ وَمَا صَادَتِ الْبَقَرَةَ، وَ تَاَسَّفَ هَاشِمٌ وَّتَاَسَّفَتِ الْجَمَاعَةُ۔

وَصِدْنَا حَمَامَتَيْنِ بِرَصَاصَةٍ وَبَطَّتَيْنِ بِرَصَاصَتَيْنِ، وَكَانَ عِنْدِىْ سِكِّيْنٌ صَغِيْرٌ حَادٌّ فَذَبَحْتُ الْبَطَّتَيْنِ، وَسَمَّيْتُ اللّٰهَ وَكَبَّرْتُ۔

ترجمه :او ملګرو چې کله د ډز آواز واوريدو نو راجمع شول اوياقوت په يوه تيزه چاړه هغه حلال کړو او بسم الله الله اکبر ئې اووئيل مونږ په اطمينان شو او کيناستو خپل منځي خبري مو کولې چې په دې کښې يو بله غوا راووته نو هاشم په تندئ کښې په هغې مرمئ وچلوله او ټوپك په صحيح نښه چلولو باندې قادر نشو مرمئ خطا شوه او غوا ښکاره نشوه. هاشم ډير افسوس اوکړو بلکه ټولو ملګرو افسوس اوکړو. د دې نه علاوه دوه کوترو ښکار په يوه مرمئ او دوه بطکو ښکار په دوه مرمو اوکړو. ماسره يو وړه تېز چاړه وه ما دواړه بطکي حلالي کړي او بسم الله اکبر مې پرې اووئيل.

د الفاظو تحقيق

ذَبَحَ صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب "ف" حلالول

حَادٌّ صيغه واحدمذکربحث اسم فعل ازباب"ض" تيزي څوکي والا

اَخْطَأتْ صيغه واحد مؤنث غائب فعل ماضي معروف از باب "افعال" غلطي کول.

بَطَّتَيْنِ تثنيه مفرد بَطَّةٌ په معنیٰ د بطکي ج بُطُوطٌ

اَصَبْتُ صيغه واحد متکلم فعل ماضي معروف از باب افعال.رسيدل

★★★

وَقُلْتُ لِلسَّيِّدِ اِسْمَاعِيلَ:اَنَا اُرِيْدُ اَنْ اَصِيْدَ اَيْضًا ، فَاَعْطَانِي بُنْدُقِيَتَهٗ وَوَضَعَ فِيْهَا رَصَاصَةً ، وَكُنْتُ اَعْرِفُ كَيْفَ اُصَوِّبُ الْبُنْدُقِيَّةَ وَكَيْفَ اُطْلِقُهَا ، لِاَنِّي اَطْلَقْتُ الْبُنْدُقِيَّةَ اَرْبَعَ مَرَّاتٍ اَوْ خَمْسَ مَرَّاتٍ ، فَذَهَبْتُ وَجَلَسْتُ بِالْمِرْصَادِ ، وَجَاءَ حَمَامٌ وَوَقَعَ عَلٰى شَجَرَةٍ قَرِيْبَةٍ ، وَصَوَّبْتُ بُنْدُقِيَّتِي نَحْوَ الْحَمَامِ ، وَاَطْلَقْتُ الْبُنْدُقِيَّةَ ،

فَاَصَبْتُ حَمَامَتَيْنِ وَفَرِحْتُ جِدًّا لَّمَّا اَصَبْتُ الْحَمَامَتَيْنِ وَكَبَّرْتُ مِنَ الْفَرَحِ۔ وَجَاءَ الْاِخْوَانُ وَقَالُوْا: مَرْحىٰ مَرْحىٰ، وَقَالُوْا: مَا شَاءَ اللّٰهُ اِنَّ خَالِدًا صَيَّادٌ۔

ترجمه: ما اسماعیل صاحب ته اووئیل چې زه هم ښکار کول غواړم. نو هغې ماته خپل ټوپك راكړو او په هغې كښې يوه مرمئ هم كېښوده او د ټوپك نښه سمول او هغه ځنګه چلول كيږي ماته معلوم وو. دې وجه نه چې مخكښې مې هم ځلور يا پنځه ځلې ټوپك چلولے وؤ. نو زه لاړم او شېش كښې كېناستم او يو كوتره راغله او نزدې بوټې كښې كېناستو. ما كوترې ارخ ته نښه سمه كړه او ټوپك مې اوچلولو او دوه كوترې مې ويشتې، او كله چې ما دوه كوترې ويشتې نو ډير خوشحاله شوم ما په خوشحالئ كښې الله اكبر اووئيل او ټول ملګري راغلل او شاباش شاباش ئې راته اوئيل. او وې وئيل چې ماشاء الله خالد خو په رښتيا ښكاري دے.

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

حَمَامَتَيْن تثنيه، دوه كوترې مفرد حَمَامَةٌ ج حَمَائِم، حَمَامَات

كَبَّرْتُ صيغه واحد متكلم فعل ماضي معروف از باب تفعيل. الله اكبر وئيل، تكبير وئيل.

اَلْفَرْحُ خوشحالي

★★★

وَمَا رَضِيْتُ اَنْ يَّذْبَحَهُمَا اَحَدٌ، فَذَهَبْتُ وَسَمَّيْتُ اللّٰهَ وَذَبَحْتُ الْحَمَامَتَيْنِ بِسِكِّيْنِي الصَّغِيْرِ الْحَادِّ، وَرَجَعْنَا اِلَى الْقَرْيَةِ فِي الْمَسَاءِ بِصَيْدٍ كَثِيْرٍ، وَقُطِعَتِ الْبَقَرَةُ قِطَعًا قِطَعًا، وَ اَهْدَيْنَا لَحْمَهَا اِلٰى جَمِيْعِ الْاَصْدِقَاءِ وَالْاَقَارِبِ وَاَهْلِ الْقَرْيَةِ، فَاَكَلُوْا وَشَبِعُوْا وَشَكَرُوْا الصَّيَّادِيْنَ۔

ترجمه :زه په دې راضي نه ووم چې دا دواړه کوترې دې بل څوك حلالې کړې او بسم الله مې اووئيله او دواړه کوترې مې په تېزه چاړه حلالې کړې او ماښام کښې د ډېر ښکار سره کلي ته بېرته راستانه شول . او غوا مو توتې توتې کړه . موږ د هغې غوښه ټولو ملګرو ، خپلوانو او کلي والاؤ ته هديه (تحفه) کړه . ټولو اوخوړله او ماړه شول او د ښکاريانو څخه ئې مننه اوکړه .

﴿د الفاظو تحقيق﴾

مَا رَضِيْتُ صيغه واحد متكلم فعل ماضي معروف از باب''س'' راضي كيدل

يَذْبَحُ صيغه واحدمذكرغائب فعل مضارع معروف از باب ''ف'' حلالول

سَمَّيْتُ صيغه واحد متكلم فعل ماضي معروف از باب تفعيل.بسم الله وئيل

حَادٍّ صيغه واحدمذكربحث اسم فاعل ازباب''ض''تيز غاړي والا

قُطِعَتْ صيغه واحد مؤنث غائب فعل ماضي مجهول از باب ''ف''غوڅول

اَهْدَيْنَا صيغه جمع متكلم فعل ماضي معروف ازباب''افعال'' تحفه وركول ، هديه وركول

﴿نوي لغات﴾

اَلظُّلَّةُ (۱) سورے لرونكي څيز (بوټي وغيره)

(۲) سائبان ، شاميانه ، چهترې ، ج ظُلَلٌ

اَلظَّلِيْلُ سورے لرونكے ، ظل ظليل ، دائمي سورے گڼ سورے

اَلظَّلِيْلَةُ گڼ باغ (د بوټو نه ډك) ج ظَلَائِل

مِظَلَّةُ التِّلِيْفُوْن تيلي فون . فون بوتھ (د تيليفون وړوكي كوټه)

اَلْمِظَلَّةُ الْوَاقِيَةُ پيراشوټ ، هوائي فوجي چهترئ .

فائده:پيراشوټ ته نوي عربي كښې اَلْمِهْبَطَة وائي

رَصَاصَةٌ فَارِغَةٌ	د مرمۍ تشه توقه
رَصَاصَات	چهرې ، د ټوپك مرمۍ
بُنْدُقَةٌ	كارتوس
بُنْدُقِيَّةٌ	ټوپك ، ګن
بُنْدُقِيَّة رَشٍّ	شوټ ګن
بُنْدُقِيَّة رَصَاصٍ	رائفل
بُنْدُقِيَّةٌ مَحْشُوَّةٌ	ډك ټوپك ، لوډ ګن
بُنْدُقِيَّةُ هَوَاءٍ	ائير ګن

★★★

﴿ مَأْدُبَةٌ ﴾

رَجَعَ اَخِيْ مِنَ الْحَجِّ، فَفَرِحَ اَهْلُ الْبَيْتِ كَثِيْرًا وَفَرِحَتْ اُمِّيْ جِدًّا، وَصَنَعَتْ اُمِّيْ طَعَامًا وَدَعَتْ اِلَيْهِ الْاَقَارِبَ وَالْاَصْدِقَاءَ وَكَثِيْرًا مِّنْ اَهْلِ الْقَرْيَةِ۔

وَفَرِحْنَا جِدًّا، وَفَرَشْنَا فِرَاشًا نَظِيْفًا اَمَامَ الْبَيْتِ وَكَانَتْ اَيَّامُ صَيْفٍ، وَوَضَعْنَا اَبَارِيْقَ فِيْهَا مَاءٌ لِّغَسْلِ الْاَيْدِيْ، وَوَضَعْنَا صَابُوْنًا وَّ مِنْشَفَةً وَّ بَسَطْنَا سُفْرَةً وَّاسِعَةً، حَضَرَ النَّاسُ فِي الْمَسَاءِ، فَاسْتَقْبَلَهُمْ اَخِيْ وَقُلْنَا: مَرْحَبًا۔ وَجَلَسُوْا قَلِيْلًا وَّحَضَرَ الطَّعَامُ، فَجَلَسَ الضُّيُوْفُ حَوْلَ السُّفْرَةِ، وَقَدَّمْنَا الرَّغِيْفَ الْحَارَّ وَاللَّحْمَ وَالرُّزَّ فِيْ صُحُوْنٍ وَّالرَّائِبَ فِيْ اَقْدَاحٍ، فَسَمَّوُا اللّٰهَ وَاَكَلُوْا۔

ترجمه : ﴿ د دعوت خوراك ﴾

كله چې زما ورور د حج نه واپس راغلو نو كور والا ډير خوشحاله شو. او زما مور هم ډيره خوشحاله شوه . زما مور خواړه تيار كړل او خپل خپلوان او ملګري او ډير كليوال ئې دوډۍ ته راوغوښتل . . مونږ ډير خوشحاله

شو. او مونږ د کور مخې ته پاك صفا بستره اوغوړوله. ځکه چې د اوړي موسم وؤ او مونږ لوټې کېښودې چې په هغې کښې د لاس وينځلو پاك اوبه وې. او مونږ يو صابن او توليه کېښوده او فراخ دسترخوان مو اوغوړاوه. ماښام کښې په وخت کښې خلك راجمع شول. زما ورور د هغوی هر کلے اوکړو او مونږ ورته پخير راغلے او وئيل. لږ شانته کيناستو چې په دې ډوډۍ تياره شوه. او ټول مېلمانه د دسترخوان چار چاپېره کيناسته. او مونږ هغوي ته ګرمې ډوډۍ، غوښه او پليټونو کښې وريجې او پيالو کښې مو ماستې وړاندې کړل. پس هغوي د الله نوم واخيستو او په خوړلو شول.

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

رَجَعَ	صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب "ض" راګرځيدل، واپس کيدل
الحَجُّ	مصدر از باب "ن" زيارت کول. حج کول.
فَرِحَ	صيغه واحد مذکر غائب فعل معروف از باب "س" خوشحاليدل
فَرَشْنَا	صيغه جمع متکلم فعل ماضي معروف از باب "ن" غوړول
فِرَاشًا	بچھونا. بستره، درئ ج فرش افرش
اَمَام	مخامخ، مخکښې (اسم ظرف)
اَبَارِيْقُ	لوټه، سلفچی، لاس وينځلو لوښے. مفرد اِبْرِيق
الْاَيْدِیْ	مفرد يد په معنیٰ د لاس
صَابُوْنًا	صابن
مِنْشَفَةً	په معنیٰ د توليه. صيغه مفرد مؤنث اسم آله از باب "س" ج مناشف
سُفْرَةٌ	په معنیٰ د دسترخوان ج سُفَرٌ

اِسْتَقْبَلَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب استفعال. استقبال كول

حَوْلَ چارچاپيره

قَدَّمَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب تفعيل، وړاندې كول

الحَارُّ ګرم

صُحُوْنُ مفرد صحن په معنیٰ د پليټ، كاسه، وړوكي پياله.

الرَّائِبُ رائته، ماسته

أَقْدَاحُ مفرد قدح په معنیٰ د پياله.

سَمُّوْا صيغه جمع مذكر فعل ماضي معروف از باب تفعيل.بسم الله وئيل.

★★★

وَكُنَّا قَائِمِيْنَ نُلَاحِظُ الضُّيُوْفَ، وَنُقَدِّمُ لَهُمُ الْخُبْزَ وَالطَّعَامَ وَنَسْقِيْهِمُ الْمَاءَ الْمَثْلُوْجَ، وَأَصَابَ النَّاسُ مِنْ كُلِّ نَوْعٍ مِّنَ الطَّعَامِ وَأَكَلُوْا بِرَغْبَةٍ وَّحَمِدُوا اللّٰهَ۔

ترجمه :او مونږ په ولاړه د ميلمنو خدمت كولو او هغوي ته مو ډوډئ او اينګولے (سالن) وړاندې كولو. او په هغوي مو يخې اوبه څكلې. او ميلمنو د هر قِسم خواړه نه واخيسته. او هغوئ ډوډئ په مينه اوخوړله او د الله تعالیٰ تعريف ئې اوكړو.

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

نُلَاحِظُ صيغه جمع متكلم فعل مضارع معروف از باب مفاعله،يوبل ليدل

الْمَثْلُوْجُ صيغه واحد مذكر بحث اسم مفعول ازباب"ن" واوره اچولے شوي

نَوْعٌ په معنیٰ د قسم ج انواع

حَمِدُوْا صيغه جمع مذكر غائب فعل ماضي معروف ازباب"س"تعريف كول

وَقَامُوْا وَغَسَلُوْا أَيْدِيَهُمْ وَمَسَحُوْهَا بِالْمِنْشَفَةِ، وَجَلَسُوْا إِلَى أَخِي يَتَحَدَّثُوْنَ وَيَتَكَلَّمُوْنَ وَيَسْمَعُوْنَ مِنْهُ أَخْبَارَ الْحِجَازِ وَحَدِيْثَ مَكَّةَ الْمُشَرَّفَةِ وَالْمَدِيْنَةِ الْمُنَوَّرَةِ وَمِنًى وَعَرَفَاتٍ بِكُلِّ رَغْبَةٍ وَّسُرُوْرٍ، وَاشْتَاقُوْا إِلَى الْحَجِّ، وَدَعَوُا اللّٰهَ أَنْ يُوَفِّقَهُمْ لِذٰلِكَ۔

ثُمَّ اسْتَأْذَنُوْا لِلْخُرُوْجِ وَقَامُوْا يَقُوْلُوْنَ:

أَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّائِمُوْنَ، وَأَكَلَ طَعَامَكُمُ الْأَبْرَارُ، وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ الْمَلَائِكَةُ

ترجمه: او پاځیدل او لاسونه ئې وینځل او په تولیه ئې صفا کړل او زما ورور سره کیناسته او خبرې کولې او د هغې نه مکې مکرمې، مدینې منورې منیٰ او عرفات خبرې ډیر په مینه او خشحالئ اوریدلې . او د هغوئ هم حج ته شوق پیدا شو او هغوئ الله نه دعا اوغوښتله چې هغوي ته دې هم توفیق ورکړي بیا هغوي د تګ اجازت اوغوښتو او دا ئې وویله چې تاسو سره دې روژه دار روژه ماتې اوکړي . ستاسو خواړه دې نیک خلك اوخوري . فرشتې دې ستاسو لپاره د رحمت دعا اوکړي .

﴿ د الفاظو تحقیق ﴾

يَتَحَدَّثُوْنَ صيغه جمع مذکر غائب فعل مضارع ازباب تفعل. خپل منځې خبرې کول .

إِشْتَاقُوْا صيغه جمع مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب افتعال . شوق او رغبت

سُرُوْرٌ مصدر از باب "ن" خوشحالیدل

اَلْأَبْرَارُ مفرد برّ، بار . په معنیٰ د نیك ، صالح ، فرمانبردار

وَصَلَّتْ صيغه واحد مؤنث غائب فعل مضارع معروف از باب تفعیل.

دعا او رحمت کول.

اَلْمَلَائِكَةُ مفرد ملك په معنیٰ د فرښتي

★★★

﴿نوي لغات﴾

ثَلْجٌ واوره ، آئس ج . ثُلُوجٌ

ثَلْجٌ رَخْوٌ د يخنئ د سختوالي نه لويدلي واوره کومه چې ځمکه پټه کړي .

آسماني واوره

ثَلْجٌ جَامِدٌ کنګل واوره (چې د مشين وغيره په ذريعه جوړه شي)

ثَلْجِيٌّ د واورې . واوري په شان . واوري والا.

ثَلِجَ، مَثْلُوْجٌ، مُثَلَّجٌ يخ شوي ، واوره کښې يو ځائ شوي

ثَلَّاج واوره خرڅونکے

ثَلَّاجَةٌ آئس بکس ، واوري کېښودلو صندوق ، کولر ، فرج ج ثلاجات

مَثْلَجَةٌ فرج ، د يخولو مشين . ج مَثَالِجُ

★★★

﴿بِرُّ الْوَالِدَيْنِ﴾

كَانَ رَجُلٌ لَّهُ اَبَوَانِ كَبِيْرَانِ وَاَوْلَادٌ صِغَارٌ وَكَانَ بَرًّا بِالْوَالِدَيْنِ شَفِيْقًا عَلَى الْاَوْلَادِ۔

وَكَانَ يَذْهَبُ كُلَّ يَوْمٍ فِي الصَّبَاحِ اِلَى الْمَرْعىٰ وَيَرْعَى الْمَاشِيَةَ وَيَرْجِعُ بِهَا فِي الْعِشَاءِ، فَيَحْلِبُهَا وَيَسْقِيْ وَالِدَيْهِ وَاَوْلَادَهُ الصِّغَارَ۔

وَكَانَ اَبَوَاهُ وَاَوْلَادُهُ الصِّغَارُ يَنْتَظِرُوْنَ قُدُوْمَهُ وَلَا يَنَامُوْنَ حَتّٰى يَحْضُرَ الرَّجُلُ وَيَسْقِيَهُمُ اللَّبَنَ۔

ترجمه: ﴿ د والدينو فرمانبرداري ﴾

يو سړے وؤ . د هغې دوه واړه مور او پلار وؤ . او واړه ماشومان وؤ . هغه د مور او پلار فرمانبردار او اولاد باندې انتهائي مهربان وؤ .
هغه به هر سحر په وخت څرځاي (چراګاه) ته وتلو او چيلئ ئې څرولې او ماښام په وخت به بېرته راتلو . او شوده به ئې ولشل او مور او پلار او خپل بچو باندې به ئې اوڅکل . د هغې والدينو او بچو به د هغې انتظار کولو او هغه تول به نه اوده کيدل ترڅو چې هغه سړے راشي او په هغوئ شوده اوڅکي.

﴿ دالفاظو تحقيق ﴾

بِرٌّ	بكسرالباء. نيكي ، ښه سلوك ، اطاعت بفتح الباء فرمانبرداري ج ابرابر . بضم الباء ، غنم
أَبَوَانِ	(١)په معنىٰ د مور او پلار، والدين (٢) پلار او تره مفرد ابٌ
شَفِيْقًا	مهربان(كان محذوف فعل ناقص د خبر په وجه منصوب دے)
اَلْمَرْعىٰ	چراګاه ج مرعات ، مراعًا (د اسم ظرف صيغه ده)
اَلْمَاشِيَةُ	په معنىٰ د څاروي ، ج مواش مذكر الماشى ، ج مشاة
يَحْلِبُ	صيغه واحد مذكر غائب فعل مضارع معروف "ض" لشل، شوده ويستل .

★ ★ ★

مَرَّةً ذَهَبَ الرَّجُلُ بِالْمَاشِيَةِ إِلَى الْمَرْعىٰ ، فَبَعُدَ فِيْ طَلَبِ الشَّجَرِ وَالْعَلَفِ فَتَاَخَّرَ ذٰلِكَ الْيَوْمَ ، فَرَجَعَ إِلَى الْبَيْتِ وَقَدْ ذَهَبَ كَثِيْرٌ مِّنَ اللَّيْلِ۔
وَانْتَظَرَ أَبُوْهُ وَأُمُّهٗ طَوِيْلًا ، وَكَانَ أَبُوْهُ جَائِعًا وَكَانَتْ أُمُّهٗ جَائِعَةً ، وَرَقَدَ أَبُوْهُ وَرَقَدَتْ أُمُّهٗ بَعْدَ الْاِنْتِظَارِ الطَّوِيْلِ۔

ترجمه: يو ځل هغه سړي څارويو سره چراګاه طرف ته لاړو نو لهذا د بوټو او شينکي په لټه (تلاش) کښې لرې لاړل. نو هغه په هغې ورځ ناوخته شو. کله چې هغه کورته ورسيدو نو د شپې ډيره برخه تېره شوې وه. د هغې مور او پلار د هغې ډير انتظار اوکړو. د هغې مور وږې وه او پلار ئې هم وږے وؤ. ډير انتظار کولو نه وروسته د هغې پلار اوده شو او د هغې مور هم اوده شوه.

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

بَعُدَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب "ك" لرې تلل

اَلْعَلَفُ ګياه، چاره ج اعلافٌ، عُلُوفَةٌ، عِلَافٌ

رَقَدَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب "ن" اوده كيدل

فائده: طَوِيْلًا. د مفعول مطلق محذوف كښې صفت كيدو په بناء منصوب دے. تقدير مبارت دي، وَانْتَظَرَ أَبُوهُ وَأُمُّهُ اِنْتِظَارًا طَوِيْلًا

فائده: جَائِعًا او جَائِعَةً. كان د خبر كيدو په بناء منصوب دے.

﴿ د الشيخ د لفظ تفصيل ﴾

الشَّيْخُ: (۱) بوډها، عمر رسيده (تقريبًا ۵۰ پنځوس كلن) د دې نه مخكښې درجه كَهْلٌ دے او وروستئ درجه هَرَمٌ وي.

(۲) په علم وفضل كښې ممتاز شخصيت.

(۳) د جماعت امير يا د قبيلې سردار

(۴) د كلي چودهري، مشر ج شُيُوخٌ، اَشْيَاخٌ، مَشْيَخَةٌ، مَشَائِخُ

﴿ د نورو الفاظو سره استعمال ﴾

شَيْخُ الْبَلَدِ د ښار حاكم

شَيْخُ الْإِسلام تر ټولو لوي مسلمان عالم

شَيْخُ لْمَرْأَةِ خاوند

شَيْخُ النَّار شيطان

مَشَائِخُ طُرق صوفياء كرام

المَشْيُخَةُ (۱) سرداري، حاكميت (۲) وړوكے سلطنت چې د هغې حاكم ته شيخ ونيل كيږي.

الشُّيُخُوْن بوډا

فائده: د الشَّيْخ مونث الشيخة . په معنى د بوډۍ حاكمه راځي

★★★

وَرَجَعَ الرَّجُلُ وَدَخَلَ الْبَيْتَ ، فَوَجَدَ اَنْ اَبَاهُ الشَّيْخَ قَدْ رَقَدَ ، وَاَنَّ اُمَّهُ الْعَجُوْزَ قَدْ رَقَدَتْ۔

فَتَاَسَّفَ الرَّجُلُ وَحَزِنَ كَثِيْرًا وَنَدِمَ عَلَىٰ تَاْخِيْرِهٖ ، وَقَالَ : اَسَفًا اِنِّيْ تَاَخَّرْتُ الْيَوْمَ فِي الْمَرْعَىٰ وَبَعُدْتُ فِيْ طَلَبِ الشَّجَرِ وَالْعَلَفِ لِاَرْعَى الْمَاشِيَةَ ، حَتّٰى رَقَدَ الشَّيْخُ وَرَقَدَتِ الْعَجُوْزُ۔

ترجمه :كله چې هغه سړے واپس شو او كورته داخل شو نو هغې خپل بوډا پلار اوده او مندو او بوډۍ مورنې هم اوده شوي وه . هغې سړي ډير افسوس اوكړو او پخپل ناوخته راتلو پښيمانه وو او وې وئيل :افسوس ما نن په چراګاه كښې ډير ناوخته كړو او زه د بوټو او كياه په لټه كښې ډير لرې لاړم چې خپل څاروي وخروم ، تر دې چې بوډا پلار مې هم اوده شو او بوډۍ مور مې هم اوده شوه .

د الفاظو تحقيق

رَجَعَ صيغه واحدمذكر غائب فعل ماضي معروف از باب "ض" واپس كيدل

وَجَدَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب "ض" ميندل، ترلاسه كول.

نَدِمَ صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف ازباب "س" شرمنده كيدل.

اَسَفًا مصدر از باب "س" افسوس كول

فائده: اَسَفًا فعل محذوف تَاَسَّفْتُ سره مفعول مطلق كيدو په بناء منصوب دي.

﴿د العجوز لفظ وضاحت﴾

اَلْعَجوزَةُ په معنىٰ د بوډۍ ښځي

اَلْعَجُوْزُ (١) بوډا، عمررسيده، بوډۍ (٢) شراب (٣) كشتئ (٤) لار (٥) لوښے (٦) كمان (٧) اور (٨) مرګ (٩) د كهجوري بوټے (١٠) قبضه (١١) د توري ميخ (١٢) عافيت (١٣) پرهيزګاري (١٤) ښي لاس (١٥) بادشاه (١٦) مشرك (١٧) قبله (١٨) سپين زر (١٩) لړم (٢٠) بجو (٢١) ګورخرماده (٢٢) حجره (٢٣) غوجل (٢٤) خط (٢٥) كتاب (٢٦) بيرغ (جهنډا) (٢٧) جنګ (٢٨) دوزخ (٢٩) غټ پيله (٣٠) درياب جمع عُجُزٌ

فائده: دا لفظ مذكر او مؤنث دواړو لپاره يوشان استعماليږي.

★★★

وَفَكَّرَ الرَّجُلُ هَلْ يُوْقِظُ الشَّيْخَ وَالْعَجُوْزَ؟

وَكَرِهَ الرَّجُلُ اَنْ يُوقِظَ الشَّيْخَ وَالْعَجُوْزَ۔

وَكَانَ اَهْلُهٗ وَاَوْلَادُهٗ يَنْتَظِرُوْنَهٗ وَكَانُوْا جِيَاعًا فَطَلَبُوْا مِنْهُ اللَّبَنَ۔

وَلٰكِنَّ الرَّجُلَ كَرِهَ اَنْ يَّسْقِيَ اَهْلَهٗ وَاَوْلَادَهٗ قَبْلَ وَالِدَيْهِ، وَخَافَ اللّٰهَ وَقَالَ:

كَيْفَ اَسْقِيْكُمْ وَلَمْ اَسْقِهِمْ۔ اِنِّيْٓ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ۔

ترجمه:او دا سړے حېران شو چې آيا بوډا مور او پلار راپاڅوي او که نه؟ هغې سړي مور او پلار راپاڅول مناسب ونه ګڼل . د هغې سړي اهل وعيال د هغې انتظار کولو او هغوي تږي ولږي وو . هغوئ د هغې نه شوده اوغوښته ليکن هغې سړي مناسب ونه ګڼل چې د مور او پلار نه مخکښې خپل اهل وعيال (کورنئ) باندې وڅکوم او د الله نه ويريده او هغې اوويل زه ئې په تاسو باندې د هغوئ نه مخکښې څنګه وڅکوم . کچېرته زه داسې کار اوکړم نو زه به د ګنهګارانو څخه شم .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

فَكَّرَ صيغه واحد مذکرغائب فعل ماضي معروف از باب تفعيل. فکر کول . سوچ کول .

يُوْقِظُ صيغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معروف از باب افعال،بيدارول

كَرِهَ صيغه واحدمذکرغائب فعل ماضي معروف ازباب سمع، يسمع. نه خوښول.

جِيَاعًا مفرد جائع ، صيغه واحدمذکر بحث اسم فاعل از باب "ن" وږے کيدل د دې جمع جُوَّعٌ، جُيَّعٌ هم راځي.

فائده: جياعًا نصب فعل ناقص په خبر کيدو په بناء دی .

★★★

وَحَلَبَ الرَّجُلُ الْمَاشِيَةَ ، وَوَقَفَ يَنْتَظِرُ اَنْ يَسْتَيْقِظَ اَبَوَاهُ ، وَبَقِيَ وَاقِفًا وَالْقَدَحُ عَلَىٰ يَدِهٖ ، وَالْاَطْفَالُ يَبْكُوْنَ وَيَصِيْحُوْنَ عِنْدَ قَدَمِهٖ وَلٰكِنَّهٗ لَمْ يَسْقِهِمْ شَيْئًا مِّنَ الْقَدَحِ وَلَمْ يَشْرَبْ ، وَبَاتَ قَائِمًا وَالْقَدَحُ عَلَىٰ يَدِهٖ۔

ترجمه: هغې سړي څاروي ولشل او ولاړ وؤ او مور او پلار د پاڅيدو انتظار ئې کولو او د شودو پياله ئې لاس کښې وه . او ماشومانو د هغې په خپو

کښې ژړا کوله او چېغې ئې وهلې مګر هغې سړي د دې پيالئ نه ماشومانو بالکل ونه څکول . او همداسې پياله په لاس تر توله شپه تېره کړه او نه ئې خپله وڅکله .

﴿د الفاظو تحقيق﴾

اَلْقَدَاحُ پياله ج . اَقْدَاحٌ

يَصِيْحُوْنَ صيغه جمع مذکرغائب فعل مضارع معروف ازباب ضرب ، چېغې ژړا

قَدَمٌ په معنیٰ د خپې ج اَقْدَام

بَاتَ صيغه واحدمذکرغائب فعل ماضي معروف ازباب"ض"شپه تيرول

★★★

وَطَلَعَ الْفَجْرُ وَاسْتَيْقَظَ وَالِدَاهُ، فَقَدَّمَ الرَّجُلُ لَهُمَا قَدَحَ اللَّبَنِ فَشَرِبَا ثُمَّ سَقَى اَوْلَادَهُ، وَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْ هٰذَا الرَّجُلِ الَّذِيْ كَانَ بَرًّا بِالْوَالِدَيْنِ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْ هٰذَا الْعَمَلِ الصَّالِحِ وَقَبِلَهُ۔

وَمَرَّةً كَانَ هٰذَا الرَّجُلُ الْبَرُّ مَاشِيًا فِي اللَّيْلِ فَرَاٰى غَارًا، فَقَالَ: اَبِيْتُ اللَّيْلَ فِيْ هٰذَا الْغَارِ وَاَخْرُجُ فِي الصَّبَاحِ۔

ترجمه :کله چې صبا صادق راوختو نو د هغې والدين رپاڅيدل . دې سړي هغه د شودو پياله هغې ته وړاندے کړه . هغې دواړو شوده اوڅکل او بيا ئې خپلو ماشومانو ته ورکړل . الله تعالیٰ د هغې سړي نه راضي شو او هغه ئې قبول کړ. يوځل دا نيك سړے د شپې په وخت کښې روان وؤ او هغې يو غار اوليدو نو دا سوچ ئې اوکړو چې زه به شپه په دې غار کښې تېره کړم او سهار په وخت به اووځم .

﴿ دالفاظو تحقیق ﴾

طَلَعَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب "ن" راختل. راوتل

رَضِيَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب"س"راضي کیدل

قَبِلَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب"س"قبلول

مَاشِيًا صیغه واحد مذکر بحث اسم فاعل از باب"ض" تلل

فائده: لفظ ماشیا کان فعل ناقص خبر کیدو په بناء منصوب دے .

★ ★ ★

وَدَخَلَ الْغَارَ لِيَبِيْتَ ، فَانْحَدَرَتْ صَخْرَةٌ مِّنَ الْجَبَلِ فَسَدَّتْ عَلَيْهِ الْغَارَ ، فَدَعَا اللّٰهَ بِهٰذَا الْعَمَلِ الصَّالِحِ ، وَقَالَ :

اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنِّيْ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَاكْشِفْ هٰذِهِ الصَّخْرَةَ ، فَاَجَابَ اللّٰهُ دَعْوَةَ هٰذَا الرَّجُلِ الصَّالِحِ وَاَعَانَهٗ ـ

ترجمه : هغه سړے شپې تیرولو لپاره غار ته ننوت نو د غار نه یو تیګه راوړغړیده او هغې د غار خوله بنده کړه . هغې سړي الله تعالیٰ نه خپل د غه نیك عمل په وسیله دعا اوغوښته . او وې وئیل اے الله کچېرته ستا علم په مطابق ما دغه نیك کار ستا د رضا لپاره کړے وي نو دا تېږه لرې کړه الله تعالیٰ د دے نیك سړي دعا قبوله کړه او د هغې مدد ئې اوکړو .

﴿ د الفاظو تحقیق ﴾

لِيَبِيْتَ صیغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معروف از باب ضرب. شپه تیرول

اِنْحَدَرَتْ صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل ماضي معروف از باب انفعال . رغړیدل.

اَلْجَبَلُ	په معنیٰ د غره ج جِبَالٌ، اَجْبُل، اَجْبَال
فَسَدَّتْ	صيغه واحده مؤنثه غائبه فعل ماضي معروف ازباب نصرينصر. بندول.
اِكْشِفْ	صيغه واحد مذكرحاضر فعل امر از باب ضرب يضرب. کولاول
اَجَابَ	صيغه واحد مذكرغائب فعل ماضي معروف از باب "افعال" قبلول
اَعَانَ	صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معروف از باب"افعال" مددکول

﴿نوي لغات﴾

اَلصَّخْرُ	کاڼړجن ، شګلن
اَرْضٌ صَخِرَةٌ	کاڼړجنه ځمکه
عِلْمُ الصَّخْرِ	د کاڼو اجزائے ترکيبی او د هغې طبيعي خصائصو علم
جَبَلٌ لِقَوْمِه	د خپل قوم سردار
جَبَلُ الْوَجْه	بدرنګه مخ والا
جَبَلُ نَارٍ	آتش فشان غر (د اور غر)
جَبَلُ جَلِيْدٍ	د واوري ټوټه . تېږه
الجَبَلِيُّ	غرځني
اَلْعَلَّافُ	ګياه خرخونکے . ګهسيارا
المِعْلَفُ	د ګياه ځاي ، د ګياه اخور وغيره ج مَعَالِف

★★★★★★

★★★★

★

﴿فضيلة الشُغل﴾

اِنَّ رَجُلًا مِنَ الْاَنْصَارِ اَتَی النَّبِیَّ ﷺ یَسْأَلُہٗ، فَقَالَ: اَمَا فِیْ بَیْتِكَ شَیْءٌ؟

قَالَ: بَلٰی! حِلْسٌ نَلْبَسُ بَعْضَہٗ، وَنَبْسُطُ بَعْضَہٗ، وَقَعْبٌ، نَشْرَبُ فِیْہِ مِنَ الْمَاءِ۔

قَالَ: اِئْتِنِیْ بِھِمَا۔

فَاَخَذَھُمَا رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ بِیَدِہٖ وَقَالَ: مَنْ یَشْتَرِیْ ھٰذَیْنِ؟

ترجمه : ﴿د محنت عظمت (لوړتیا)﴾

انصارو کښې یو سړے د نبي اکرم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او د هغه ﷺ نه ئې سوال شروع کړلو . نبي ﷺ د هغې نه تپوس اوکړو چې آیا ستا په کور کښې څه شته ؟ هغې جواب ورکړو چې ولې نه . ما سره یو ټاټ دے چې نیم ئې مونږ اغوندو او نیمه برخه ئې غوړاؤ . او یوه لویه پیاله ده چې په هغې کښې مونږ اوبه څکو . نبي اکرم ﷺ ورته وفرمائیل چې دا دواړه ماته راوړه . کله چې هغې سړي هغه راوړه نو نبي اکرم ﷺ هغه دواړه خپل لاس کښې واخیستل او وې وئیل چې دا دواړه به څوك واخلي؟

﴿د الفاظو تحقیق﴾

فَضِیْلَۃٌ په معنیٰ د عظمت . برتري ج فَضَائِل

الشُّغْلُ مصدر از باب "ن" محنت کول په معنیٰ د کار، مصروفیت پیشه ج اَشْغَال

اَلْاَنْصَارُ صیغه جمع مذکر بحث اسم فاعل از باب "ن" مدد کول

حِلْسٌ په معنیٰ د ټاټ ، چټائي ج اَحْلَاس

قَعْبٌ په معنیٰ د غټه پیاله ج اَقْعُبٌ ، قِعَابٌ

★★★

★

قَالَ رَجُلٌ : أَنَا آخُذُهُمَا بِدِرْهَمٍ۔

قَالَ: مَنْ يَّزِيْدُ عَلٰى دِرْهَمٍ ؟ مَنْ يَّزِيْدُ عَلٰى دِرْهَمٍ ؟

قَالَ رَجُلٌ : أَنَا آخُذُهُمَا بِدِرْهَمَيْنِ۔

فَأَعْطَاهُمَا إِيَّاهُ وَأَخَذَ الدِّرْهَمَيْنِ فَأَعْطَاهُمَا الْاَنْصَارِيَّ

وَقَالَ: اشْتَرِ بِأَحَدِهِمَا طَعَامًا فَانْبِذْهُ إِلٰى أَهْلِكَ، وَاشْتَرِ بِالْاٰخَرِ قَدُوْمًا فَأْتِنِيْ بِهٖ۔

ترجمه :يو سړي اووئيل چې زه دا دواړه په يو درهم اخلم. نبي اکرم ﷺ اووئيل چې يو درهم به ئې زيات څوك واخلي . يو درهم نه به ئې زيات څوك واخلي . بيا يو سړي اووئيل چې زه به دا دواړه په دوه درهم واخلم. نبي ﷺ هغه دواړه شيان هغې سړي ته ورکړل او هغې نه ئې دوه درهم واخيستل . بيا نبي ﷺ هغه دوه درهم هغه انصاري ته ورکړي او وې وئيل چې په دې دوه درهمو کښې په يو درهم خواړه واخله او خپل کور والاؤ ته ئې ورکړه او په دې بل درهم تبر واخله او ماله ئې راوړه .

﴿ د الفاظو تحقيق ﴾

آخُذُ صيغه واحد متكلم فعل مضارع معروف ازباب "ن" اخيستل، نيول

يَزِيْدُ صيغه واحد مذكرغائب فعل مضارع معروف ازباب "ض"زياتول

فَانْبِذْ صيغه واحد مذكر حاضر فعل امر حاضرازباب"ض" ورکول . غوزارل ، حواله کول .

قَدُوْمًا په معنى د ډيرورانديي تلونکے . بهادر،جنګيالے ج قُدُمٌ په معنى د ترکهاڼ تيشه ، سولې (چې په هغې لرګي تراشي) ج قدائم

فائده: قَدُوْمٌ په بله معنى په اعتبار سره به مؤنث وي

وضاحت: قَدُومًا مفعول به کېدو په وجه منصوب دے .

فَأَتَاهُ بِهٖ فَشَدَّ فِيهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عُوْدًا بِيَدِهٖ۔

ثُمَّ قَالَ لَهٗ : اِذْهَبْ فَاحْتَطِبْ وَبِعْ وَلَا اَرَيَنَّكَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا۔

فَذَهَبَ الرَّجُلُ يَحْتَطِبُ وَيَبِيْعُ ، فَجَاءَ وَقَدْ اَصَابَ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ ، فَاشْتَرٰى بِبَعْضِهَا ثَوْبًا وَبِبَعْضِهَا طَعَامًا۔

فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : هٰذَا خَيْرٌ لَّكَ مِنْ اَنْ تَجِيْءَ الْمَسْأَلَةُ نُكْتَةً فِيْ وَجْهِكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ۔

ترجمه :نو لهذا هغې سړي تبر واخېستو او راغلے او بيا رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارك په هغې كښې لاستے واچوؤ . بيا نبي ﷺ هغې ته اووئيل چې لاړ شه لرګي جمع كړه او خرڅوه او چې پنځلس ورځې دې ونه وينم . هغه سړے لاړو لرګي جمع كول او خرڅول . كله چې راغلے نو هغې پنځلس درهم ګټلي وؤ په دې كښې هغې په څو درهمو كپړا واخيسته او د څه ئې غله واخيسته رسول اكرم ﷺ ورته اوفرمائيل: دا ستا په حق كښې ډيره غوره خبره ده له دې خبرې څخه چې ستا سوال كول د قيامت په ورځ ستا په تندي داغ وي .

د الفاظو تحقيق

فَشَدَّ صيغه واحد مذكرغائب فعل ماضي معروف از باب "ن"

عُوْدًا په معنىٰ د لرګي ، د لوګي لپاره يو خوشبودار لرګے . سارنګي . ج اعواد ، عبدان

فَاحْتَطِبْ صيغه واحد مذكر فعل امر حاضر معروف از باب افتعال . لرګي جمع كول .

بِعْ صيغه واحد مذكر فعل امر حاضر معروف از باب "س" خرڅول

لَأَذْبَحَنَّ صيغه واحد متكلم فعل مضارع معروف بانون تاكيد ثقيله از باب "ف" كتل

نُكْتَةٌ پہ معنیٰ د داغ . دهبه ، ج نُكَتٌ ، نِكَاتٌ

«نوي لغات»

عُوْدُ الثِّقَابِ	ماچس تیلے .
العَوَّادُ	سارنګی جوړونکے ، سارنګي غږونکے
مِهَنٌ وَظَائِفُ	روزګار
مُهَنْدِسٌ	انجنئیر
رَئِيْسُ تَحْرِيْرٍ	چیف ایډیټر
جَرَّاحٌ	سرجن (اپریشن کونکے)
طَبِيْبٌ عَامٌّ	جنرل فزیشن
اِخْصَائِيٌّ	سپیشلسټ
مُقَاوِلٌ	ټهیکه دار
بَائِعٌ	خرخونکے
مُحَاسِبٌ	(حساب کونکے)
رَئِيْسُ الْقُضَاةِ	د قاضیانو مشر (د فیصلے مشر)

★★★★

★★

★

﴿ تَرْنِيمَةُ الْوَلَدِ فِي الصَّبَاحِ ﴾

أَشْرَقَتِ الشَّمْسُ وَقَدْ — وَلَّى الظَّلَامُ هَارِبًا
فَالشُّكْرُ لِلّٰهِ الْأَحَدْ — شُكْرًا عَظِيمًا وَاجِبًا
مَا أَحْسَنَ النُّورَ أَرَىٰ — فِيهِ الْغُصُونَ قَائِمَهْ
مَا أَحْسَنَ النُّورَ الْبَهِي — فِيهِ أَجِدُّ عَامِلًا
إِنِّي أَوَدُّ دَائِمًا — أَلَّا أَكُونَ خَامِلًا
اللّٰهُ قَدْ أَجَارَنِي — مِنْ كُلِّ شَرٍّ فِي الظَّلَامِ
شُكْرًا لَهُ قَدْ صَانَنِي — شُكْرًا لَهُ عَلَى الدَّوَامِ

ترجمه: ﴿د سهار په وخت د ماشومانو سرود (ترانه)﴾

بے شکه لمر روښانه شو — رڼا په شا وتښتیده
بس د یو الله شکر دے — د هغې لوي شکر ډیر ضرور دے
څو ښائسته رڼا ده چې ئې وينم — که کارونه پکښې واضح دي
او مارغان پیشمني کښې چغیږي — په ښاخو باندې په ولاړه
څه بهترین ښائسته رڼا ده — چې پکښې کارونو کښې کوشش کووم
بے شکه همیشه دا خوښوم — چې زه ورك او کمزورے نه شم
بے شکه الله ماله پناه راکړې — هرتکلیف نه چې تیارو کښې وي
د هغې شکر چې زما ساتنه ئې کړې — د هغې مننه تر همیشه پورې

﴿د الفاظو تحقیق﴾

تَرْنِيمَةٌ — ترانه ، سندره ، لوری

أَشْرَقَتْ — صیغه واحد مؤنث غائب فعل ماضي معروف از باب افعال.

روشنائي کول

وَلّٰى صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب "تفعیل" شاه کرځول

الظَّلَامُ په معنیٰ د تورتم

هَارِبًا صیغه واحد مذکر بحث اسم فاعل از باب "ن" تښتیدل

الشُّكْرُ مصدر از باب "ن" شکرایستل

الاَحَدُ په معنیٰ د یوائې، تنها

وَاجِبًا صیغه واحد مذکر بحث اسم فاعل از باب "ض" ضروري کیدل

مَا اَحْسَنَ صیغه فعل تعجب بروزن مَا اَفْعَلَهٗ په معنیٰ د ښه ښه دی

النُّوْرُ په معنیٰ د روشنائي، رڼا

الْاُمُوْرُ مفرد امر په معنیٰ د کار، معاملات

بَاسِمَةٌ صیغه واحد مؤنث بحث اسم فاعل از باب "ض" مسکی کیدل

تَشُدُّ صیغه غائب فعل مضارع معلوم از باب "ن" لګول

سَحَرًا د سهار په وخت. سهار وختي

الْغُصُوْنَ مفرد الغصن، ښاخ، څانګه

قَائِمَةٌ صیغه واحد مؤنث بحث اسم فاعل از باب "ن" اودریدل

النُّوْرُ الْبَهِيُّ زړه راښکونکي رڼا

اَجِدُّ صیغه واحد متکلم فعل مضارع معروف از باب "ض" کوشش کول. محنت کول.

اَوَدُّ صیغه واحدمتکلم فعل مضارع معروف ازباب "ن" غوښتل

خَامِلًا په معنیٰ د ګمنام، صیغه واحد مذکر بحث اسم فاعل از باب "ن" کمزورے کیدل

اَجَارَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف ازباب افعال بچ کول

شَرٌّ پہ معنیٰ د فتنه، تکلیف، مصیبت، ج شرور

صَانَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معروف از باب"ن" حفاظت کول

اَلدَّوَامُ پہ معنیٰ د همیشه

اَلدَّوَامُ مَا اَحْسَنَهُ وَاَحْسِنُ بِهٖ (هغه څومره ښکلی دے) ما استفهامیه په معنیٰ د اَیُّ شَیْءٍ مبتداء اَحْسَنَ فعل ضمیر هو فاعل (ه) ضمیر مفعول فعل په خپل فاعل او مفعول به په یو ځاي کیدو خبر. مبتدأ د خپل خبر سره په یو ځاي کیدو انشائیه جمله شوه . اَحْسِنُ بِهٖ . اَحْسِنُ په معنیٰ اَحْسَنَ فعل با زائده (ه) ضمیر معنی په اعتبار سره فاعل فعل خپل فاعل سره یو ځاي کیدو سره انشائیه جمله شوه . د لنډوالي په سبب صرف په یو ترکیب اکتفاء وکړے شوه ورنه په دي جملو کښي د نورو ترکیبونو احتمال هم شته.

نوي لغات

